سلام پوهنتون

د شرعیاتو او قانون پوهنځی

د تفسیر او حدیث ماسترۍ برنامه

د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د علمي چارو معینیت


# د التسهیل لعلوم التنزیل د مقدمو ژباړه او څېړنه

د ماسترۍ رساله


محصل: محمد مسعود (ازهري)

لارښود: استاد محمد نعیم (حلیلي)



کال ۱۴۰۲ هـ ش – ۱۴۴۵ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د علمي چارو معينيت

سلام پوهنتون
د شرعیاتو او قانون پوهنځی
د تفسیر او حدیث ماسترۍ برنامه

# د التسهيل لعلوم التنزيل د مقدمو ژباړه او څیړنه

## د ماسترۍ رساله

محصل: محمد مسعود (ازهری)
لارښود: استاذ محمد نعیم (جلیلی)

کال: ۱۴۰۲هـ.ش / ۱۴۴۵هـ.ق

# بسم الله الرحمن الرحيم

# سلام پوهنتون

## د شرعیات اوقانون پوهنځی

## د تفسیر و حدیث دیپارتمنټ

## د ماستری بورډ

# تــــصـــديق نـــــامــــــه

ښاغلی محمد مسعود د عبدالشکور زوی د ID: SH-MST-S1400-842 نمبر لرونکی، د تفسیر و حدیث د اومی دوری محصل د ماستری مرحلی رساله چی عنوان یی: د التسهیل لعلوم التنزیل د مقدمو ژباړه او څیړنه د پنجشنبې ورځ په ۱۴۰۲/۱۲/۱۷ هـ ل نیټه یی په بریالیتوب سره دفاع کړه او د حکم پلاوي د ارزونی پر اساس د ۹۲ (نمرو په عدد) دوه نوی (نمرو په حروفو) مستحق وګرځید.

له الله تعالی څخه ورته د لازیاتی بریا غوښتونکي یو.

د حکم پلاوي اعضاء :

| شمیره | داستاذ نوم | عضویت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکتور رحمت الله زاهد | دحکم پلاوي عضو | |
| ۲ | دکتور فصیح الله عبدالباقی | د حکم پلاوي عضو | |
| ۳ | استاد محمد نعیم جلیلی | لارښود او دحکم پلاوي مشر | |

دماستری د بورد آمر..........................

علمی مرستیال..........................

## ډالۍ

دا بحث خپل والدينو ته او په ځانګړي ډول ګراني مورجاني ته، چې ماته د مور او پلار دواړو مينه يې راکړې؛ دا ځکه چې پنځه کلن وم، چې د کمونستي رژيم د باغي ترکي لخوا زما د پلار د ژوند بڼ يې ونړاوه، په شهادت يې ورساوه او زه يې د تل لپاره له دې ښکلي، ميناکه او مهربانه بڼ له سيوري څخه محروم کړم. تقبله الله في الشهداء

بيا دا علمي ډالۍ د ژوند شريکې ته ډالۍ کوم. په رښتيا چې زما د ژوند په هر ډګر کې له ماسره مرسته کړې، د خپل زدکړيزې کچې په لوړولو کې هڅولې يم او همدارنګه د اولادونو په ښوونه او روزنه کې او ددی بحث په ليکلو کې ډيره مرسته راسره کړې ده. د دې ترڅنګ ځای لري، چې د خپل ژوند ښايسته ګلانو ته يې هم ډالۍ کړم.

د حق د لارې سربښندونکو شهيدانو ته چې په ډيره کمه موده کې يې د وخت دوو مغرورو متکبرو امپراطوريو سرو روسانو او د اوسني وخت متکبره امريکا او متحدين يې ( د ناټو غړو) ته داسې تاريخي ماتې ورکړه، چې تر ډېرې مودې پورې به يې په سرونو کې د مرګوني ګذارونو غږ پاتې وي.

ټيټ مې مه بوله غورځنګ راباندې مه کړه
زه په دې افتاده ګۍ کې لوی ګړنګ يـــم

او په آخر کې ټولو هغو ملګرو او دوستانو ته يې ډالۍ کوم، چې ما سره يې په دی علمي سفر کې هر ډول مرسته کړی ده.

# مننلیک

قال الله تعالی: ﴿وَمَن شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ﴾[١] عن أبي هريرة رضی الله عنه، عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: «لا یشکر الله من لا یشکر الناس»[٢].

د دې الهي ارشاد او نبوي لارښوونې پر بنسټ له هر څه نه مخکې د لوی الله جل جلاله شکر پر ځای کوم، چې په خپل فضل او کرم سره یې د دې عظیم کار د (التسهیل لعلوم التنزیل) د مقدمو ژباړلو او څېړلو دا توفیق یې راکړ، چې په ښه توګه یې ترسره کړم.

د خپل قدرمن او معزز استاد محمد نعیم "جلیلي" څخه ډېره زیاته مننه کوم، چې سره له ډېرو بوختیاوو سره یې ماته د دې څېړنې په برخه کې وخت ناوخت لارښوونې او مشورې راکولې.

د سلام پوهنتون له رهبرۍ، اداري پرسونل او په ځانګړي ډول د ماسټرۍ له بورډ څخه یوه نړۍ مننه کوم، چې په ډېر ورین تندي یې ما سره چلند کړی.

د پوهنتون له درنو استادانو څخه مننه کوم، چې د دې درېو کالونو په موده کې چې زه له دوی سره مل وم؛ د ښوونې او روزنې ترڅنګ د صبر او زغم زدکړه مو هم ترلاسه کړه. الله جل جلاله دې د دوی په مالونو او اولادونو کې خیر او برکت واچوي.

په اخر کې له کورنۍ او په ځانګړي ډول له مورجانې څخه مننه کوم، چې په دې برخه کې یې لاسنیوی او مرسته راسره کړې ده.

---

١ - سورة النمل : ٤٠ .
٢ - أبو داود مع عون المعبود ١٣/ ١٦٥ كتاب الأدب .

# د بحث لنډيز

## د التسهيل لعلوم التنزيل د دوو مقدمو ژباړه او څيړنه

دا بحث د دوو مقدمو چې لومړی يې په (علوم القرآن ) او دويمه يې ( فی تفسير معانی اللغات ) د «التسهيل لعلوم التزيل» د علامه ابن جزی الکلبي د تفسير ژباړه او څيړنه کوي. په تمهيد کې د مؤلف په هکله د هغه بيوګرافي، تګلاره ، علمي خدمتونه او آثار يې، په تفسير بالمأثور کې د مؤلف تګلاره او د شعرونو بيلګې يې راغلي دي. لومړی مقدمه کې يې هغه علوم چې بيان شوي دي، ژباړه يې شوې دي او هغه ځايونه چې تعليق، تحقيق او څيړنې ته اړتيا لري، څيړلي مې دي. هغه اصول او قواعد چې ابن جزی ذکر کړي د هغې لپاره مې بيلګې راوړي، دويمه مقدمه چې د قرآن کريم د هغه ستونزمنو يا مشکلو کلمو معناوې بيان کړي. د هغو ژباړه او په ځينې اړوندو کتابونو لکه «مقاييس اللغه» د ابن فارس او «مفردات القرآن» د اصفهاني او نورو سره مقايسه کړي او بيا هغو کلمو ته چې مؤلف بيلګې يې نه دي ذکر کړی ، ما په ټول قرآن کريم کې د سورت نوم او د آيت شميرې په ذکر کولو سره راوړي دي.

دا بحث يا رساله په يوې پيليزې، سريزې يو تمهيد او دوه فصلونو مشتمله ده. د موضوع اهميت، د ټاکلو لاملونه د څېړنې تګلاره او خطه بيان شوې ده .

# د موضوعاتو ليکلړ

**موضوع**
**پاڼه**

**پيليزه......................................................................................... ١**
د موضوع ارزښت: ........................................................................ ١
د موضوع شاليد:........................................................................... ٢
سريزه.......................................................................................... ٤
د څېړنې مېتود: ............................................................................ ٤
ليکلړ: .......................................................................................... ٤
**سريزه** ....................................................... Error! Bookmark not defined.
د موضوع ارزښت ........................................................................ ٥
د موضوع شاليد............................................................................ ٥
د څېړنې موضوعات................................ **Error! Bookmark not defined.**
د څېړنې مېتود ..................................... **Error! Bookmark not defined.**
د څېړنې ليکړ ....................................... **Error! Bookmark not defined.**
**تمهيد: د ابن جُزَی رحمه الله تعالی پېژندنه او تګلاره ........................................ ٧**
لومړی مطلب: نسب، ژوند او علمی مقام يې: ........................................ ٨
الف: نوم او نسب يې....................................................................... ٨
ب: زوکړه او روړنه :....................................................................... ٧
ج: علمي مقام او اخلاق يې: .............................................................. ٨
دويم مطلب: علمي خدمتونه او آثار يې: ............................................. ١٠
الف: استادان يې: ........................................................................... ٨
ب: شاګردان يې:............................................................................ ٩
ج: تصنيفات يې: ........................................................................... ١٠
مړينه يې:
...................................................................................................
...................................١٠
درېيم مطلب: په تفسير بالمأثور کې د ابن جزي رحمه الله تګلاره: ...................... ١٢
د تفسير القرآن بالقرآن مثالونه يې: ...................................................... ١٢
د قرآن تفسير په سنت او بيلګې يې : ..................................................... ١٢
د صحابه وو د تفسير مثال: ................................................................ ١٣
څلورم مطلب: د شعرونو بېلګه يې: ....................................................... ١٣

لمړی فصل
د مفسر مقدمه او د کتاب لمړی مقدمه

**د مفسر مقدمه او د کتاب لمړی مقدمه ............................................. ١٨**

**لمړی مبحث: د قرآن کریم نزول او مکی او مدنی سورتونه ................................ ۱۹**
لمړی مطلب: دمقدمی لمړی باب د قرآن کریم نزول: ................................ ۲۰

دويم مطلب: د مقدمی دويم باب، د مکي او مدني سورتونو بيان :................................ ۲۹۳
د سورتونو درې ډوله : ................................ ۲۹۴
د مکي سورتونو ځانګړني:................................ ۳۰۴
**دويم مبحث: د مقاصد او علوم او د علم د هغه فنونو چی قرآن کريم سره تړاو لری ... ۲۵**
لمړی مطلب: د مقدمی درېيم باب، د مقاصدو او علومو په اړه ................................ ۳۱۵
دويم مطلب: د مقدمی څلورم باب، د علم د هغو فنونو بيان چي له قرآن کريم سره تړاو لري
................................ ۳۷۹
**درېيم مبحث: د مفسرينو د اختلاف اسباب ................................ ۴۷**
لمړی مطلب: د مقدمی پنځم باب د مفسرينو ترمنځ د اختلاف اسباب ................................ ۳۸
دويم مطلب: د مقدمی شپږم باب، د مفسرينو بيان ................................ ۴۲
**څلورم مبحث: د قرآن کريم ناسخ او منسوخ، اړوند جامع قواعد او د وقفونو بيان ..... ۴۴**
لمړی مطلب: د مقدمی اووم باب، د ناسخ او منسوخ بيان ................................ ۵۳
دويم مطلب: د مقدمی اتم باب، د قراءت اړوند جامع قواعد ................................ ۶۱
درېيم مطلب: د مقدمی نهم باب، د وقف بيان ................................ ۶۳
**پنځم مبحث: د قرآن کريم اعجاز، فصاحت او بلاغت او فضايل يې ................................ ۶۶**
لمړی مطلب: د مقدمی لسم باب، د فصاحت، بلاغت بيان ................................ ۶۶
دويم مطلب: د مقدمی يوولسم باب، د قرآن د اِعجاز بيان ................................ ۶۸
درېيم مطلب: د مقدمی دوولسم باب، د قرآن فضائل ................................ ۶۹

## دويم فصل
## د تفسير دويمه مقدمه

**لمړی مبحث: له (ء – ثا) پورې ................................ ۷۴**
لمړی مطلب: د همزې توری ................................ ۷۴
دويم مطلب: د باء توری................................ ۷۹
درېيم مطلب: د تاء توری ................................ ۸۳
څلورم مطلب: د ثاء توری ................................ ۸۳
**دويم مبحث: له (ج – ر) پورې ................................ ۸۵**
لمړی مطلب: د جيم توری ................................ ۸۵
دويم مطلب: د حاء توری ................................ ۸۶
درېيم مطلب: د خاء توری ................................ ۸۹
څلورم مطلب: د دال توری ................................ ۹۱
پنځم مطلب: د ذال توری ................................ ۹۲
شپږم مطلب: د را توری ................................ ۹۳
**درېيم مبحث: له (ز – ض) پورې ................................ ۹۶**

لمړی مطلب: د زا توری ........ ۹۶
دویم مطلب: د سین توری ........ ۹۷
درېیم مطلب: د شین توری ........ ۱۰۰
څلورم مطلب: د صاد توری ........ ۱۰۱
پنځم مطلب: د ضاد توری ........ ۱۰۳
**څلورم مبحث: له (ط – ک) پورې ........ ۱۰۵**
لمړی مطلب: د طاء توری ........ ۱۰۵
دویم مطلب: د ظاء توری ........ ۱۰۶
درېیم مطلب: د عین توری ........ ۱۰۶
څلورم مطلب: د غین توری ........ ۱۰۹
پنځم مطلب: د فاء توری ........ ۱۱۰
شپږم مطلب: د قاف توری ........ ۱۱۲
اووم مطلب: د کاف توری ........ ۱۱۴
**پنځم مبحث: له (ل – ی) پورې ........ ۱۱۷**
لمړی مطلب: د لام توری ........ ۱۱۷
دویم مطلب: د میم توری ........ ۱۱۸
درېیم مطلب: د نون توری ........ ۱۱۹
څلورم مطلب: د هاء توری ........ ۱۲۲
پنځم مطلب: د واو توری ........ ۱۲۴
شپږم مطلب: د یاء توری ........ ۱۲۶
**پایلې ........ ۱۲۸**
وړاندیزونه: ........ ۱۲۸
**د آیتونو لیکلړ ........ ۱۲۹**
**دحدیثونو لیکلړ ........ ۱۴۳**
**د اعلامو لیکلړ ........ ۱۴۴**
**د مصادرو او مراجعو لیکلړ ........ ۱۴۶**

# پیلیزه

إن الحمد لله نحمده و نستعينه و نستغفره و نعوذ بالله من شرور أنفسنا و من سيئات أعمالنا ، من يهده الله فلا مضل له ، و من يضلل فلا هادي له ، و أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له ، و أشهد أن محمدا عبده ورسوله ، أرسله الله تعالى بالحق بشيرا و نذيرا ، و داعيا إلى الله بإذنه و سراجا منيرا ، وبعد:

تر ټولو لوی او غوره نعمت په هغه چې یو مسلمان خوشاله شي او د هغه په حاصلولو کې خپل ټول وس او توان په کار واچوی ، هغه د قرآن کریم حفظ یا یادول ، د هغه په مفهوم ځان پوهول ، خدمت یې کول ، او په هغه عمل کول دي: ﴿قُلْ بِفَضْلِ ٱللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِۦ فَبِذَٰلِكَ فَلْيَفْرَحُواْ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ﴾ [یونس: ۵۸].

د هغه وسائلو او اسبابو څخه چې د قرآن کریم په پوهې او تدبر کی مرسته کوي ، هغه علوم دي چې قرآن کریم سره تړاو لری ، لدی امله ، په اسلامي نړی کې په هر وخت او هر ځای کې علماوو ددی علومو خدمت کړی ، لدی علومو څخه علوم القرآن او کلمات القرآن هم دي ، علماوو پدې علومو کې ځانګړی کتابونه هم لیکلی او ځینو په خپلو تفسیرونو کې د مقدمو په توګه ذکر ګړي دي، لدې ډلې نه:

علامه امام محمد بن احمد بن جزی الکلبی (ت: ۷۴۱هـ ) دی چې په خپل کتاب (التسهیل لعلوم التنزیل) یې په غوره فوائدو مستندو مسائلو مختصر تفسیر چې په دوه مهمو مقدمو : ( علوم القرآن ) او ( فی تفسیر معانی اللغات ) مشتمل تفسیر دی داسې یو عمل دی چې له ده نه مخکې مفسرینو په داسې ښکلي طریقې عمل نه په سترګو کیږی ، لدی امله ما خپلو درنو ښوونکو او د ماستری بورد مسؤولینوسره د مشورو نه وروسته و مې غوښتل چې دا دوه په علومو ښکلې مقدمې د ماسټرۍ د رسالې د موضوع په توګه غوره کړم؛ نو ما دا دواړه مقدمی د ( **التسهیل لعلوم التنزیل د مقدمو ژباړه او څیړنې**) تر عنوان لاندې د موضوع په توګه د سلام پوهنتون د تفسیر او حدیث څانګې ته مخکې کړه، چې د الله پاک په فضل او کرم سره قبوله شوه او ما دغه څیړنه د درانه استاذانو ښاغلي محمد نعیم «جلیلي» په لارښوونې سره پیل کړه. له الله پاک څخه دا سوال کوم، چې د خپل کتاب قرآن کریم او د رسول الله صلی الله علیه وسلم دسنتو د خدمت توفیق را نصیب کړي او د خپلې رضا سبب یې وګرځوي.

ولې دغه موضوع مې د څیړنې لپاره د استاذانو او ماسټرۍ د بورډ په مشوره وټاکله؟

**د موضوع ارزښت:**

۱. دغه تفسیر د دوو مقدمو په لرلو سره یو داسې ځانګړنه ده، چې نور تفسیرونه یې نه لري.
۲. دغه تفسیر له لنډو تفسیرونو څخه دی، چې ارزښت یې له جلالین تفسیر څخه کم نه دی.
۳. د دغه تفسیر بله ځانګړتیا ، روان والی او جامعیت دی .
۴. دغه تفسیر په پښتو ژبه ژباړل شوی نه و؛ نو د لومړی هڅې په توګه مې دغه لومړۍ دوې برخې وژباړلې.

۵. د دغه تفسیر ځیني برخې لاڅېړنو ته اړتیا لرله؛ لدې امله ومې غوښتل چې تحقیق پرې وشي

**د موضوع شالید:**

دا تفسیر تر دې دمه په پښتو ژبه نده ژباړن شوی ، خو د دې تفسیر مختلف اړخونه په مختلفو پوهنتونو کې څېړل شوي ، ابن جزی او دده علمي او ټولنیز ژوند ، د ده تګلاره په تفسیرکې ، تفسیري ترجیحات او استنباطات یې په ( التسهیل لعلوم التنزیل ) کې ، او ځیني یې دا دي:

- ❖ ابن جزى و منهجه فى التفسير ليكوال يې على محمد الزبيدى، دراسة مسهبة عن الإمام ابن جزي، و توضيح مفصل لمنهجه في تفسيره، رسالة ماجستير في الجامعة الإسلامية (١٣٩٨هـ) .
- ❖ مقاصد التنزيل من خلال كتاب التسهيل لابن جزي الكلبي لإدريس فريان، رسالة دكتوراه في كلية الآداب في الدار البيضاء بالمغرب (١٩٩٤م) .
- ❖ ابن جزي الكلبي و أثره في الفقه الإسلامي لسليمان أبي الريش، رسالة دكتوراه في كلية الشريعة والقانون لجامعة الأزهر (١٣٩٥هـ) .
- ❖ الإمام ابن جزي الكلبي و جهوده في التفسير من خلال التسهيل لعلوم التنزيل لعبد الحميد محمد نداء رسالة ماجستير في كلية الدعوة و أصول الدين بالأزهر (١٤٠٠هـ) .
- ❖ ابن جزي الكلبي و منهجه في التفسير، لإقبال عمر محجوب، رسالة ماجستير في كلية القرآن بالسودان ( ٢٠٠١م ) .
- ❖ قواعد الترجيح عند ابن جزي في تفسيره لعبد الله بن حمدان الجمعان، بحث تكميلي لدرجة الماجستيربجامعة الملك سعود .
- ❖ مدرسة التفسير في الأندلس، لمصطفى المشيني، رسالة دكتوراه في جامعة الأزهر .
- ❖ منهج ابن جزي الكلبي في تفسيره إعداد الدكتور عبدالسلام حمدان اللوح، الأستاذ المشارك بقسم التفسير و علوم القرآن بالجامعة الإسلامية بغزة .

## سريزه

په ټوله کې ما خپله څېړنه په يوه تمهيد او دوو فصلونو کې راټوله کړې ده. په دې څېړنه کې ځينې موضوعات کرتوب، څېړنې ته اړتيا لري او ځينې موضوعات د تائيد او رد وړ دي، چې زه به دغه برخې د کره او دقيقو ماخذونو په رڼا کې ان شاءالله څېړم. اوس غواړم هغو موضوعاتو ته اشاره وکړم، چې زه به پرې په عمومي ډول څېړنه کوم.

په **تمهيد** کې د ليکوال په ژوندليک بحث کړی. د هغه بيوګرافي، تګلاره ، علمي خدمتونه او آثار يې، په تفسير بالمأثور کې يې تګلاره او د شعرونو بيلګه او اثارو مشتمل دي.

په **لومړی فصل** کې د تفسير په لومړی مقدمې بحث شوی. دغه برخه د مفسر په سريزې سره پيلېږي، چې ليکوال پکې د دې تفسير د ليکلو لاملونه ذکر کړي دي. له هغې وروسته د دې مقدمې په عمومي موضوع بحث پيلوي، چې عنوان يې «علوم القران» دی. دغه موضوع ليکوال په دولسو بابونو کې شنلې ده. ما دغه په يو فصل چې پنځه عمومي مګالب لري، څېړلې ده. په دې فصل کې هغه برخې چې څېړنې ته اړتيا لري په لاندې ډول سره وړاندې کوم:

د قران کريم د نزول په برخه کې، هغه علوم چې په قران کريم کې راغلي او هغه علوم چې له قران کريم سره اړيکه لري، د مفسرينو د اختلاف او د قولونو د غوره توب لاملونه، د ذکر شويو مفسرينو لنډ ژوندليک، ناسخ او منسوخ، قراءتونه، وقفونه، فصاحت، بلاغت، د بيان اداوات، د قران کريم اعجاز او د قران کريم فضائلو باندې بحث کوم.

**دويم فصل** په دويمې مقدمې سره پيلېږي، چې عنوان يې «فی تفسير معاني اللغات» دی. په دې برخه کې مفسر ټول هغه اړين او ډېر تکراري کلمات له معنا سره، د الفبا په ترتيب سره راوړي. ما دغه برخه په پنځو عمومي عنوانونو کې څېړلې ده. په دې برخه کې ما هڅه کړې چې په ټول قران کريم، د هرې کلمې لپاره مختلف ځايونه چې دا کلمې پکې راغلي وي ذکر کړم پدې لړ کې د سورت نوم او د آيت شمره هم ذکر کوم . نور تاسو او دا څېړنه...

د څېړنې مېتود:

دا څېړنه په تحليلي مېتود ترسره شوې ده. تخريج د ټولو هغو اياتونو چې په دې بحث کې ذکر کيږي.. تخريج چې په څيرنه کې داغلی وي د ټولو هغو حديثونو او اثارو، په تفصيلي ډول او حکم کول په حديثونو.

د مفسرينو، قراوو او د هغو شخصيتونو لنډه پېژندنه چې په دې بحث کې ذکر شوي وي.

د بحث پلان :

پيليزه

سريزه

ليکلړ

د ليکوال ژوندليک

۱- زوکړه

۲- زدکړې

۳- بوختیاوې
۴- اثار
**لومړی فصل: لومړی مقدمه**
۱- نزول القران او مکي و مدني سورتونه
۲- په قران کریم راغلي علوم او هغه علوم چې اړیکه ورسره لري
۳- د مفسیرینو ترمنځ د اختلاف لاملونه اود مفسرینو لنډه پېژندنه
۴- ناسخ و منسوخ، قرآتونه او وقفونه
۵- فصاحت، بلاغت، ادوات د بیان، د قران اعجاز او د قران کریم فضائل
دویم فصل: دویمه مقدمه ( فی تفسیر معانی اللغات)
۱- له (ء – ثا) پورې
۲- له (ج – ر) پورې
۳- له (ز – ض)پورې
۴- له (ط – ک) پورې
۵- له (ل – ی) پورې
لنډیز
پایله
وړاندیزونه
فهرستونه

## تمهید

## د ابن جُزَی رحمه الله تعالی پېژندنه[1] او تفسیری تګلاره

### لومړی مطلب: نسب، ژوند او علمی مقام، استادان او شاګردان یې:

**الف: نوم او نسب یې:**

د ده نوم دی: محمد بن أحمد بن محمد[2] بن عبد الله بن یحیی بن امیر ابوبکر عبد الرحمن بن یوسف ابن جُزَی کَلبي د اَندَلُس له پلازمېنې غرناطې سره تړاو لري، کنیه نوم یې ابو القاسم دی، د یمني قُضاعه قبیلې د کَلْب قبیلې ته یې نسبت شوی، د کلبي قبیلې / ټبر ځیني خلک اندلس ته د والي / حاکم په توګه ورغلي لکه عَنبَسه بن سحیم کلبي چې په ۱۰۳ هـ کال ور داخل شو، ځیني یې د سوبمن مجاهد په توګه ور داخل شوي، له دغو له جملې د ابن جُزَی پخواني مشران هم دي لکه څرنګه چې ابن خطیب ویلي: د ده پخواني مشران (نیکونه) په ولبه[3] کې له براجله[4] قلاګانو څخه وو، لومړی مشر یې د خپل قریب ابو الخطار حسام بن ضرار کلبي په ملګرتیا کې د فتح په وخت کې هلته استوګن شو او ابو الخطار اندلس ته ۱۲۵ هـ کال کې داخل شو.

د ده نیکه شاهزاده سلطان ابوبکر عبد الرحمن ابن جُزَی د «جیان» پر سیمه مشري او خپلواک حکومت درلود چې په (۵۳۹) هـ کال کې هلته له ده سره بیعت وشو.

**ب: زیږېدل او لوېدل:**

ابن جزی د (۶۹۳ هـ ) کال د ربیع الثانی نهمه د پنجشنبې په ورځ زیږېدلی دی.

---

۱ د نوموړي ژوندلیک په دې سرچینو کې وګوره: الاحاطة فی أخبار غرناطة (۳ / ۲۰) محمد بن عبدالله الشهیربلسان الدین ابن الخطیب ت: ۷۷٦هـ , الناشر دار الكتب العلمیة بیروت، ط: ١٤٢٤هـ . والكتیبة الكامنة في من لقیناه بالاندلس من شعراء المائة الثامنة ، (ص۴٦) محمد بن عبدالله الشهیربلسان الدین ابن الخطیب ت: ۷۷٦هـ ، محقق: إحسان عباس، الناشر: دار الثقافة بیروت لبنان ، ط: ۱۹٦۳. والدیباج المذهب فی معرفة علماء المذهب (۲/ ۲۷۴) إبراهیم بن علي بن محمد ابن فرحون(ت:۷۹۹هـ ) محقق: د. دكتور الأحمدي، الناشر:دار التراث، القاهرة . وأعلام المغرب والأندلس فی القرن الثامن (صـ۱٦۵) إسماعیل بن یوسف بت محمد المعروف بابن الأحمر، (ت:۸۰۷) محقق: محمد رضوان مؤسسة الرسالة . وغایة النهایة في طبقات القراء (۲ / ۸۳) شمس الدین محمد بن محمد بن یوسف ابن الجزري (ت:۸۳۳) الناشر مكتبة ابن تیمیة،ط:۱۳۵۱هـ . الدرر الكامنة في أعیان المائة الثامنة (۵ / ۸۸) أحمد بن علي ابن حجر العسقلاني ت: ۸۵۲هـ الناشر:دائرة المعارف العثمانیة حیدر آباد الدكن الهند، ط: ۱۳۹۲هـ . طبقات المفسرین (۲ / ۸۵) محمد بن علي بن أحمد شمس الدین الداوودي المالكي، ت:٩٤٥هـ الناشر:دار الكتب العلمیة بیروت . نیل الابتهاج بتطریز الدیباج (صـ۳۹۸) أحمد بابا بن أحمد بن الفقیه التنبكتي أبوالعباس ت:١٠٣٦هـ ، الناشر:دارالكاتب طرابلس-لیبیا ، ط:۲۰۰۰م . نفح الطیب من غصب الأندلس الرطیب وذكر برهان الدین بن الخطیب (۵ / ۵۱۴) شهاب الدین أحمد بن محمد المقري التلمساني ت:١٠٤١هـ، محقق: إحسان عباس الناشر:دارالصادر بیروت-لبنان ، ط:۱۹۹۷هـ . أزهار الریاض في أخبار القاضي عیاض (۳ / ۱۸۴) شهاب الدین أحمد بن محمد المقري التلمساني ت:١٠٤١هـ،محقق:مصطفی السقا، الناشر:مطبعة لجنة التألیف والترجمة -القاهرة، ط:۱۳۵۸هـ . او شجرة النور الزكیة في طبقات المالكیة (۱ / ۳٦۰) الشیخ محمد بن محمد بن عمر مخلوف ت:١٣٦٠هـ محقق: عبدالمجید خیالي، الناشر: دار الكتب العلمیة بیروت-لبنان .

۲ د تصادفاتو له جملې یوه دا هم ده چې د نوموړي زوی (محمد) هم په دغه نوم کې ورسره ګډون لري او هغه هم ادیب لیکوال دی؛ لکه څرنګه چې یې نیکه هم په دغه نوم کې وسره ګډون لري، دوی ټول په محمد بن جزی یادیږي. نو چې کله محمد بن احمد بن محمد بن جزی وویل شي بیا نو له خپل زوی او نیکه دواړو څخه بېل شي.

۳ ولبه په پخوا کې (اونبه ) هم بلل شوې ده، په اندلس کې د یو ښار نوم دی. المغرب في حلی المغرب أبو الحسن علی بن موسی بن سعید المغربي الأندلسي (ت ٦٨٥هـ) المحقق: د. شوقي ضیف الناشر: دار المعارف – القاهرة (۱/ ۳۵۰) .

٤ براجله په اندلس کې د غرناطې یوه سیمه ده. التكملة لكتاب الصلة (۱/ ۲۰۴) ابن الأبار، محمد بن عبد الله بن أبي بكر القضاعي البلنسي (المتوفی: ٦٥٨هـ)المحقق: عبد السلام الهراس الناشر: دار الفكر للطباعة – لبنان ط: ۱۴۱۵هـ د ابن الأبار لیکنه دي وکتل شي (مترجم).

نوموړی د علم ، ارزښت ، عظمت، دیانت او هوښیارۍ په کور کي روزل شوی ، د ابن جزی کورنی د اندلس په پلازمېنه غرناطه کي له لوړو کورنیو څخه وه او له یادې کورنی څخه په فقه، قضاء او خطابت کې نومیالي پوهان ټولنې ته وړاندې شوي. ابن جزی د خپل عمر له ډېر ابتدا څخه د علم په طلب کي رالوی شوی.

**ج: علمي مقام او اخلاق یې:**

د ده شاګر ابن خطیب یې په اړه وایي: هغه (رحمه الله ) د ډېري ښې تګلارې خاوند و؛ چي علم ته یې جدي پاملرنه، له خپل مال او مځکي څخه یې په منځلاري ډول مصارف کول، په مطالعې، قلم او لیکوالۍ بوخت و، حافظ او د تدریس دنده یې پر مخ وړه، د عربي علومو، فقهي، اصولو، قراءاتو، احادیثو او ادب په بېلابېلو فنون کي ګډونوال، د تفسیر حافظ ، د اقوالو پوره راخیستونکی، د کتابونو راغونډوونکی، د پاچاهانو په څېر کتابتون لرونکی ، د ښه مجلس خاوند، ګټور لکچرار، ژورآندی او سم فکره مخلص و، د خپل ښار تر ټولو ستر جامع جومات ته د خطیب په توګه وړاندې شو، نو پر غوره والي یې اتفاق وشو او د خپل اصیلتوب پر تګلاره مخ ته ولاړ.

ابن الاحمر[1] د ده په هکله وایي: په غرناطه کې د ستر جامع جومات خطیب و او دی فقیه، امام ، په ټولو علومو پوه او د لاس ته راوړنې ښتن و، د اجتهاد درجې ته نژدې شوی و، په هر فن کې یې لیکل او تصنیف وکړ او په غرناطه کي له فتوا ورکولو د وړتیا والا شخصتیونو څخه و.

بل شاګرد یې حضرمي وایي: د بشپړ انسانیت والا شخصیت، حافظ ، د فنونو ماهر، د ښو اخلاقو، دینداری، پرهېز او پاکوالي څښتن و ، علمي او دیني شهرت یې له دې څخه بډایه کړی چي څوک یې معرفي کړي.

**د : استادان یې:**

اروابناد د خپل وخت او هیواد له ګڼ شمېر عالمانو او فاضلانو څخه علم زده کړی، له مشهورو استادانو له جمل یې دغه اشخاص دي:

۱) استاد ابو جعفر احمد بن ابراهیم بن زبیر غرناطي چي په (۷۰۸ هـ) کال وفات شوی، له نوموړي څخه یې عربي علوم، فقه ، حدیث او قرآن زده کړي دي[2].

۲) د تېز نظر څښتن (ځیرک) د فنون ماهر استاد ابو القاسم، قاسم بن عبد الله بن شاط انصاري سبتي چي په (۷۲۳ هـ) کال وفات شوی[3]، نوموړی د « انوار البروق في تعقب مسائل القواعد الفروق » کتاب لیکوال دی چي د قرافي پر (الفروق) کتاب یې اصلاحي نیوکې کړي دي.

۳) د ډېرو روایاتو څښتن د قراءت استاد ابو عبد الله محمد بن احمد اللخمي چي په ابن الکماد مشهور او په (۷۱۲ هـ) کال وفات شوی دی.

---

۱ ـ إسماعیل بن یوسف بت محمد المعروف بابن الأحمر، (ت:۸۰۷)صاحب کتاب أعلام المغرب والأندلس فی القرن الثامن .

۲ـ الاحاطة فی أخبار غرناطة **جـ ۱ صـ ۱۸۸** : محمد بن عبدالله الشهیربلسان الدین ابن الخطیب ت: ۷۷۶هـ , الناشر دار الکتب العلمیة بیروت، ط: ۱٤۲٤ه

۳ ـ الإحاطة لابن الخطیب جـ ٤ صـ ۲۵۹ .

۴) خطيب ابو عبد الله محمد بن عمرو فهري سبتي چي په ابن رُشَيد مشهور او په (۷۲۱ هـ) كال وفات شوى دى[1].

۵) عبد الله بن يوسف بن رضوان النجاري المالقي الفاسي. پر ده ابن جزى د قراءت ډېر كتابونه، څه برخي د موطأ مسلم، ترمذي، نسائي ، سنن ابي داود، شمائل، شفاء، سراج د ابن عربي ليكنه، التلقين فى الفقه المالكي د عبد الوهاب بن علي بغدادي ليكنه او د ده ډېر تأليفات او نور كتابونه.

۶) شيخ وزير ابو محمد عبد الله بن احمد بن مؤذن[2].

۷) خطيب وليد ابو عبد الله طنجالي.

۸) أبو عبد الله بن عامر بن ربيع .

۹) أبو المجد بن الأحوص.

دا رنګه د خپل وخت له ډېرو نورو عالمانو څخه يې هم علم حاصل کړى او روايت يې ترې کړى، له دې جمله دى: وزير شيخ ابومحمد عبد الله بن احمد ابن المؤذن، د ډېر عمر والا او رواياتو څښتن ابو الوليد حضرمي[3]، ستر محدث شيخ ابوزكريا برشاني، ستر محدث خطيب ابو عبد الله محمد بن محمد علي انصاري، قاضي ابو المجد ابو علي بن احوص، قاضي ابو عبد الله بن برطال، وزير شيخ ابن عامر بن ربيع او خطيب ولي ابو عبد الله طنجالي .

**هـ: شاګردان يې:**

د شاګردانو له جملې يې خپل درې زامن هم دي:

۱) ابو محمد عبد الله بن ابى القاسم محمد بن احمد ابن جزى اديب او حافظ.

۲) ابو بكر احمد بن ابي القاسم ابن جزى، د فنونو ماهر فقيه، د شاهي دربار د ميرزا ( د دفتر رئيس) ، په غرناطه کي د قاضي او د هغه ځاى د مسجد جامع د خطيب په توګه يې دندې تر سره کړي او په (۷۸۵ هـ) كال كي وفات شوى دى.

۳) ابو عبد الله محمد بن ابي القاسم ابن جزى، په (۷۵۷ هـ) كي وفات شوى، په شعر او نثر كلام کي اوچت شخصيت و او دى هغه څوک دى چي د ابو عبد الله محمد بن عبد الله طنجي مشهور په ابن بطوطه يونليک يې جمع کړ چي د رحلة ابن بطوطه په نوم مشهور كتاب دى.

**دا رنګه د ده له شاګردانو له جملې دي:**

۴) لسان الدين ابو عبد الله محمد بن عبد الله سلماني غرناطي چي په ابن الخطيب مشهور، او د الإحاطة في أخبار غرناطه كتاب خاوند په (۷۷۶ هـ ) كال كي وفات شوى دى[4].

۵) ابو محمد عبد المهيمن بن محمد حضرمي د (الفهرسة ) ليكوال چي په (۷۴۹هـ ) کي وفات شوى دى.

---

۱ ـ الإحاطة لابن الخطيب جـ ۳ صـ ۱۳۵ .
۲ ـ الإحاطة لابن الخطيب جـ ۳ صـ ۶۰
۳ ـ ابو محمد عبد المهيمن بن محمد حضرمي د (الفهرسة ) ليكوال چي په (۷۴۹هـ ) کي وفات شوى دى.
٤ ـ الدرر الكامنة في أعيان المائة الثامنة جـ ۵ صـ ۲۱۳ أحمد بن علي ابن حجر العسقلاني ت: ۸۵۲هـ الناشر:دائرة المعارف العثمانية حيدر آباد الدكن الهند، ط: ۱۳۹۲هـ .

۶) ابو القاسم محمد بن محمد بن يوسف انصاري چي په ابن الخشاب مشهور و، په (۷۷۴ هـ ) کال کي وفات شوی دی[۱].

۷) ابو عبد الله محمد بن قاسم انصاري چي په شُدَيد مشهور، په (۷۷۶ هـ ) کال کي وفات شوی دی[۲].

**دويم مطلب: تصنيفات او آثار يې:**

**الف : تصنيفات يې:**

مفسر ابن جزی رحمه الله په بېلابېلو علومو کې د کتابونو لويه شتمني شاته پرې ايښې ده، ځيني چاپ شوي دي او ځينې د ورک شويو په جمله کې دي، د دغو کتابونو مشهور يې دا دي:

۱) التسهيل لعلوم التنزيل، هغه همدا کتاب دی چي د محترمو لوستونکو مخ ته (تحقيق پر روان ) دی.

۲) وسيلة المسلم في تحقيق صحيح المسلم.

۳) الأنوار السَنية في الكلمات السُنية.[۳].

۳) الدعوات والأذكار المخرجة من صحيح الأخبار.

۵) القوانين الفقهية في تلخيص مذهب المالكية والتنبيه على مذهب الشافعية والحنفية والحنبلية. [٤]

۶) تقريب الوصول إلى علم الأصول[٥].

۷) النور المبين فى قواعد عقائد الدين[٦].

۸) المختصر البارع في قراءة نافع[۷].

۹) أصول القراء الستة غير نافع.

۱۰) الفوائد العامة في لحن العامة.

۱۱) فهرسة كبيرة اشتملت على جملة من أهل المشرق والمغرب[۸].

**مړينه يې:**

ابن جزی رحمة الله عليه په يوه عجيبه جګړه کي وفات شوی، هغه يوه مشهوره جګړه چي د مسلمانانو او نصرانيانو ترمنځ واقع شوې ده ، ګڼ شمېر مسلمانان په کې شهيدان شوي دي، دا جګړه د (۷۴۱هـ) کال د جمادی الأولى په اومه دوشنبې په ورځ واقع شوې ده. په دې جګړه کې ابن جزی رحمه الله ورک شو په داسې حال کي چې خلک يې پر جهاد تېزول او تشويقول او د دوی بصيرتونه يې تقويه کول، د نيل الابتهاج ليکوال د حضرمي له فهرست نومي کتابه تاريخي عبارت نقل کړی چې د ابن جزی رحمه الله د ژوندي وروستيو شېبو

١ - الدرر الكامنة جـ ٥ صـ ٥١٤ .
٢ -الإحاطة في أخبار غرناطة جـ ٣ صـ ١٩٦ .
٣ -کتاب چاپ شوی ، عنوان يي الأنوار السنية في الألفاظ السنية ، تحقيق د. دكتور محمد بن عرور ، دار بن حزم – بيروت- لبنان .
٤ - کتاب چاپ شوی، تحقيق: ماجد الحموي ، ناشر: دار ابن حزم ، کال: ١٤٣٤هـ ، ط: بيروت – لبنان .
٥ - کتاب چاپ شوی، تحقيق :محمد علي فركوس ، كلية أصول الدين ، جامعة الجزائر .
٦ - کتاب چاپ شوی، تحقيق : نزار حمادي ، ط: دار الضياء – كويت .
٧ -- کتاب چاپ شوی، تحقيق: العبيدي فتحي بن الشريف الناشر :دارالقلم العربي .
٨ ياد کتاب يي د تاريخ په اړه دی، د ختيځ او لوېديځ د عالمانو ژونديلیکونه هم په کې ذکر شوي دي. (څيرونکی) .

سره تړاو لري، وايي: (فقيه محدث ابوبکر د دوه وزارتونو والا وزير ابن الحکيم د جګړې په ورځ د ابن جزي له وروستي شعره يې دا وينا را ته واوروله:

**قصدي المؤمل فى جهري وفي إسراري ومطلبي من إلهي الواحى الباري**
**شـــهادةٌ فـي ســبيل الله خـالصــةً تمحـو ذنوبي وتنجيني من النار**
**إن المعــاصــي رجـــس لا يطـهرهــا إلا الصــوارم مــن أيمـان كُـفَّار**[1]

ژباړه: په پټه او ښکاره مي هيلمن مقصد او له يوازيني خالقه زما غوښتنه
د الله په لاره کې داسې خالصه شهادت دی چې ګناهونه مې محو کړې او له اوره مې وژغوري

شک نشته چي ګناهونه داسې ګنده ګي ده چې بل څه يې نه پاکوي پرته له هغو پرېکوونکو تورو چي د کافرانو ښې لاسونه يې چلوي.

بيا يې وويل: دا هيله لرم چي نن ورځ به الله تعالى ما ته هغه څه راکړي چي په دغو بيتونو کي مي ترې غوښتي دي. وزير ويلی: ما ورته وويل: آيا کافرانو ته دې هم ښې لاس ثابت کړ؟ که د دې لفظ پر ځاى بل لفظ وايي؟

نو يې را ته وويل: په خلکو کي دا په خپلو کي سره ميده کېدل د کافرانو له لاسه دي. دی وايي: نو دا د ده په اړه زما وروستي معلومات دي[2].

نو پر ابن جزى دي الله رحم وکړي، زموږ د مسلمانانو له طرفه دې الله تعالى ده ته ښه بدله ورکړي او الله تعالى دې موږ له ده سره د نعمتونو په جنتونو کي يو ځاى کړي له پېغمبرانو، رښتينو مؤمنانو، شهيدانو او نور صالحانو په ملګرتيا کې او هغوی څومره ښه ملګري دي.

---

١ -نيل الإبتهاج صـ ٢٣٨ .
٢- نيل الابتهاج بتطريز الديباج ، احمد بابا بن احمد بن الفقيه الحاج السودانى ( ت: ١١٣٦ه ) ظ: دارالكتب طرابلس – ليبيا كال ٢٠٠٠م : ٣٩٨ – ٣٩٩.

**درېيم مطلب: په تفسير بالمأثور کې د ابن جزي رحمه الله تګلاره:**

ابن جزي رحمه الله په خپل کتاب (التسهيل) کې د تفسير القرآن بالقرآن ته لومړيتوب ورکړی، که يې په قرآن کې و نه مومي، بيا سنت ته ورځي، که په هغه کې و نه مومي تر هغه وروسته سرچينو ته ورځي، په همدې ترتيب... نوموړي د مفسرينو ترمنځ د اختلاف اسباب ذکر کړی او په هغو کې د ترجيح له وجو هاتو دوولس وجهي بيان کړي.

**د تفسير القرآن بالقرآن مثالونه يې:**

أ - د"کلمات " تفسير: د آدم عليه السلام په قصه کې ﴿فَتَلَقَّىٰٓ ءَادَمُ مِن رَّبِّهِۦ كَلِمَٰتٍ ﴿٣٧﴾﴾ (البقرة : ٣٧ ) چې «کلمات» په مبهم ډول ذکر شوي ﴿قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَآ أَنفُسَنَا ﴾ د سورة الأعراف په ( ٢٣) آيت تفسير کړي ويلي يې دي: له (کلمات) دغه دا دي: ﴿قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَآ أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٢٣﴾﴾؛ ځکه په سورت أعراف کې دغسې راغلي. چا نور څه ويلي[1].

ب - د ولايت تفسير: په سورة يونس کې يې ويلي: د ولي په معنا کې خلکو ډېر اختلاف کړی، خو حق هغه ده چې په دې پسې آيت ويلي :﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾﴾ (يونس : ٦٣ ). نو چا چې ايمان او تقوا سره جمع کړل بس همغه ولي دی.

دا يې څو مثالونه دي، له دې پرته نور هم ډېر دي.

**د قرآن تفسير په سنت:**

ابن جزي رحمة الله عليه د نبي عليه السلام د تفسير منلو ته هم ځان ژمن ګرځولی دی که چېرې شتون ولري، د تفسير بالقرآن د ترجيح له وجوهاتو وروسته يې ويلي: د ترجيح دويم سبب د پيغمبر صلى الله عليه وسلم حديث دی. نو چې کله له پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه د قرآن د کومې برخې تفسير راشي موږ اعتماد ورباندې کوو په ځانګړي ډول بيا چې کله په صحيح حديث کې راغلې وي.

نبوي سنت د قرآن بيانوونکی وی ، کله تخصيص ورکوي او د ځينو په اند کله د قرآن ناسخ هم کېږي، خو نورو بيا له دې انکار کړی چې حديث دی د قرآن ناسخ جوړ شي.

د دې مثالونه:

**أ - د تفسير مثال:** ﴿وَلَا تَقْتُلُواْ ٱلنَّفْسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ﴾ ( الأنعام: ١٥١) يعني ناحقه څوک مه وژنئ. د دې تفسير د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا وينا کوي : " لا يحلّ دم امرئ مسلم إلا بإحدى ثلاث : زنى بعد إحصان ، أو كفر بعد إيمان ، أو قتل نفس بغير نفس"[2].

ترجمه: د هيڅ مسلمان وينه تول د يو له درو کارونو پرته نه ده روا: د نکاح وروسته زنا ، بل له ايمان وروسته کفر او د يو چا ناحقه وژل.

---

١ تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل (١/ ٨٠).

٢ تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل (١/ ٢٨١) ذکر شوی حديث په دغه لفظ صحيح البخاري (٦٨٧٨ ،محمد بن إسماعيل البخاري ، محقق: جماعة من العلماء ، الناشر:مطبعة الأميرية بولاق-مصر، ط:١٣١١هـ او صحيح مسلم : كتاب القسامة ، باب ما يباح من دم المسلم په (١٦٧٦) مسلم بن الحجاج أبوالحسين النيسابوري ت:٢٦١هـ محقق:محمد فؤاد عبدالباقي، الناشرمطبعة عيسى الحلبي القاهرة، ط: ١٤٣١هـ . امام طحاوي په شرح مشكل الآثار:أبوجعفر أحمد بن محمد بن سلامة المصري المعروف بالطحاوي ت:٣٢١هـ ،محقق: شعيب الأرنؤوط، الناشر: مؤسسة الرسالة ، ط:١٤١٥هـ: کې باب بيان مشكل ما روي عن رسول الله په (٤٩٥٣) شمېره راوړی نور خو نو دغه مضمون په کې په ذکر شوی دی .

**ب - د اسباب نزول مثال:**[1] قرآن كريم ويلي: ( ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ مِنْ أَزْوَٰجِكُمْ وَأَوْلَـٰدِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ فَٱحْذَرُوهُمْ ۚ وَإِن تَعْفُواْ وَتَصْفَحُواْ وَتَغْفِرُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ **(التغابن : ۱۴)**. د دغه آيت په تفسير كي يي ويلي: د دي سبب دا و چي څه خلک مسلمانان شوي وو او غوښتل يي هجرت وكړي، د دوى اولادونو او مېرمنو له هجرته منع كړل، نو الله تعالى په دې كې د هغوى له خبرو منلو څخه دوى ووېرول. چا ويلي: د عوف بن مالک اشجعي[2] په هكله نازل شوى دى، چي د جهاد اراده يي كړې وه، اولادونه او كورنۍ يې راغونډ شول د ده له بېلتون څخه يې ده ته شكايت وكړ، نو د ده زړه ورباندي وسوځېدى بيرته را وګرځېدى. بيا دى پښېمانه شو او غوښتل يې چي هغوى ته سزا وركړي، نو دا آيت نازل شو[3].

**د صحابه وو د تفسير مثال:**

قرآن كريم ويلي: ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسْتَقَـٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحْزَنُواْ وَأَبْشِرُواْ بِٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِى كُنتُمْ تُوعَدُونَ﴿٣٠﴾﴾ **(فصلت : ۳۰ )** د {ثُمَّ ٱسْتَقَـٰمُواْ} په تفسير[4] كي أبو بكر الصديق – رضي الله عنه- ويلي : خپل د { رَبُّنَا ٱللَّهُ } پر وينا مستقيم پاته شي، نو ايمان يې صحيح او توحيد يي دائم پاته شي. او عمر بن خطاب رضي الله عنه ويلي: پر طاعت (حكم منلو) او د ګناه پر پرېښودلو مستقيم (دائم) پاته شي. د عمر رضي الله عنه قول ډېر جامع او پر احتياط ولاړ دى او د ابوبكر رضي الله عنه قول راجح دى؛ ځكه انس رضي الله عنه روايت كړى چي پيغمبر صلى الله عليه وسلم دغه آيت ولوست او ويې ويل: دغه وينا څو خلكو وكړه بيا كافران شول، نو كه څوک پر دغه وينا ومړ هغه د هغو خلكو له جملې دى چي مستقيم پاته شوي دي[5].

نو ابن جزى رحمه الله د دې دوو قولونو ترمنځ د نبوي حديث له غوښتني سره سمه ترجيح وكړه. په دې كي د تفسير القرآن بالقرآن ، تفسير القرآن بالسنة او تفسير القرآن بقول صحابي په اړه د نومړي تګلاره او د دې بيان دى چي په دې دوو كي كوم د ده په اند اولى دى.

**څلورم مطلب: امام ابن جزى د اديب او شاعر په توګه:**

ابن جزى ښايسته غوره شوي شعرونه لري چي په غوره ادبي ذوق دلالت كوي، له هغې جملې يې دا وينا ده:

لكل بني الدنيا مراد ومقاصد — وإن مـــرادي صحـــة وفـــراغ
لأبلغ في علم الشـريعة مبلغا — يكـون بــه لـي للجــنان بــلاغ
وفي هذا فلينافس أولو النهى — وحسبي من الدنيا الغرور بلاغ
فما الفــوز إلا فـي نعيم مؤبد — به العيش رغد والشراب يساغ [6]

۱ -أسباب النزول صـ ٤٣٤ أبوالحسن علي بن أحمد الواحدي النيسابوري الشافعي ، تحقيق: عصام عبدالمحسن الحميدان ط: دارالإصلاح - الدمام
۲ -أخرجه أبو عيسي الترمذي جـ ٥ صـ ٤١٩ حـ ٣٣١٧ والحاكم في المستدرك جـ ٢ صـ ٤٩٠ .
۳ تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل (۲/ ۳۸۱)
٤ -عطاء د عبدالله بن عباس نه روايت كړى چي دا آيت د ابوبكر صديق په هكله نازل شوى دى ، اسباب النزول للواحدى ص ۳۷۳ .
۵ تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل (۲/ ۲٤۱)
٦ - الإحاطة في أخبار غرناطة جـ ۳ صـ ۲۲

ژباړه: د نړۍ ټول اشخاص ارمان او مقاصد لري او زما ارمان روغتيا او فارغ وخت دی د دې لپاره چې د شريعت په پوهه کې داسې ځای ته ورسېږم چې زه د هغه په مرسته جنت ته ورسېدای شم.

په داسې څه کې دي عقلمندان يو له بل سره سيالي وکړي او له تېر ايستونکو دنيا څخه ما ته يوازې د رسېدو ذريعه بس ده.

بريا يوازې په تلپاتې نعمت کې ده چې په هغه کې پراخه ژوند وي او داسې څښاک چې په آسانه تېرېږي.

د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په مدح کې يې ويلي:

أروم امتــداح المصــطفى و يردنـــي — قصــوري عن إدراك تلك المنــاقب
ومن لي بحصر البحر ، والبحر زاخر؟ — ومن لي بإحصاء الحصى والكواكب؟
ولــو أن أعضـــائي غـدت ألسـنا إذن — لمـا بلغت فــي المـدح بعض مـآربي
ولـــو أن كــل العــالمـــين تــألـفوا — على مدحه لم يبلغوا بعض واجب
فـــأمســكت عنـــه هيـبة وتـادبـا — وخــوفــا وإعظـاما لأرفـع جـانب
ورب ســكوت كـــان فيـه بلاغـــة — ورب كـلام فــيـه عتـب لــعاتــب[١]

ژباړه: د مصطفى د ستاينې قصد کوم ، خو د دغو مناقبو په هکله زما قصور مې منع کوي،

څوک به ماته سمندر راګيروي په داسې حال کې چې سمندر ډک دی؟ څوک به ماته شګې او ستوري شمېري؟

که زما ټول غړي ژبې جوړې شي ، بيا به يې هم په ستاينه کې زما ځينو مقاصدو ته و نه رسېږم.

که د نړۍ ټول خلک د ده پر مدح سره راغونډ شي ، بيا به هم د خپلې وجيبې ځينې برخې ادا نکړي.

نو لاس مې ځينې بند کړ د هيبت ، ادب ، وېرې او ډېر لوړ جناب ته د تعظيم په خاطر.

په ډېر ډول چپتياوو کې بلاغت وي او په ډېر ډول خبرو کې د ملامتوونکي لپاره ملامتيا وي.

له خپلو ګناهونو څخه د وېرې په وجه يې ويلي:

يا رب إن ذنوبي اليوم قد كثرت — فما أطيق لها حصرا ولا عددا
وليس لي بعـذاب النـار من قبل — ولا أطيق لها صبرا ولا جلدا
فانظر إلهي إلى ضعفي ومسكنتي — ولا تذيقنـي حر الجحيم غدا[٢]

اې زما ربه ! اوس مې ګناهونه دومره ډېر شوي چې ګڼل او شمېر يې نه شم کولای

او زه د اور عذاب ته وس او طاقت هم نه لرم او نه يې په وړاندې صبر او کلکتيا لرم

نو اې زما ربه ! ته زما کمزورتيا او مسکنت ته نظر وکړې او سبا د دوزخ تودوالی په ما هيڅ و نه څکې.

او ويلي يې دي:

---

١ - الإحاطة في أخبار غرناطة جـ ٣ صـ ٢٣ والكتيبة الكامنة في من لقيناه بالأندلس من شعراء المائة الثامنة صـ ٤٦ .
٢ - الكتيبة الكامنة صـ ٤٦ .

وكـم صفـحـة كــالشـمـس تبـدو فيســلي حسـنها قلب الحزين
غضضت الطرف عن نظري إليها محافظة على عرضي وديني ١

ژباړه: ډېر د لمر په څېر مخونه څرګندېږي نو ښايست يې د غمجن زړه ته تسلي وركوي.

ما خبله سترګه د هغه خوا ته له نظر كولو څخه منع كړه په دې خاطر چي د خپل عزت او دين ساتنه وكړم.

دا رنګه يې ويلي دي:

وقـائلة لم هجرت التصـابـي وسـنك فـي عـنـفـوان الشــباب
يمر زمان الصبا ضـــائـعا ولــم تـلـهُ فـيـه ببيض الكعاب
ولـم تـدر لـذة طـيب الـهـوى ولـم تـروَ عن سلسبيل الرُضـاب
فقلـت : أبي العلـم إلا التـقـى وهجـر المعـاصي ووصلَ المتاب
ومـن لـم يفده طلاب العلوم رجـاء الـثواب وخـوف الـعـقاب
فخيـر لـه الجـهل من علـمه وأنـجـى لـــه مــن ألــيم الــعذاب(٢)

ژباړه: ډېرو را ته ويلي: ته ولي مينه نه كوې په داسي حال كي چي د ځوانۍ په قوت كي يې؟

د ميني د وړتيا وخت دي خوشي تېرېږي په داسي حال كي چي له سپينو شخ سينو سره به دي لوبې نه وي كړي

نه به د عشق له ښو خوندونو خبر شوى يې او نه به دې د معشوقې د خولې په شرابو ځان خړوب كړى وي.

نو ما ورته ويل: علم يوازې تقوا، د ګناهونو ترک او د توبې پيوستون غواړي

او چا ته چي د علومو طلب د ثواب هيله او د عذاب وېره پيدا نكړي

نو د هغه تر پوهنې خو يې ناپوهي ورته غوره او له دردوونكي عذابه ورته نجات وركوونكې ده.

دا يې هم ويلي دي:

أيا من كففتُ النفس عنه تعففا وفي النفس من شوقي إليه لهيب
ألا إنما صــبري كصبر وإنـما على النفس من تقوى الإله رقيب(٣)

ژباړه: اې هغه څوكه چي د تقوا په خاطر مې خپل ځان ورڅخه بند ساتلى په داسې حال كې چي په زړه كې مې ورته د شوق لمبې دي

خبر اوسه چي زما صبر د تريخ دارو په څېر دى او پر نفسي غوښتنو مي د الله وېره د څارګر په څېر ده.

قصدي المؤمل فى جهري وفي إسراري ومطلبي من إلهي الواحى الباري
شهادةٌ فـي سـبيل الله خـالـصـةٌ تمحو ذنوبي وتنجيني من النار
إن المعاصي رجس لا يطهرها إلا الصــوارم مــن أيمـان كُـفَّار(٤)

ژباړه: په پټه او ښكاره مي هيلمن مقصد او له يوازيني خالقه زما غوښتنه

---

١ -المرجع السابق صـ ٤٦ والإحاطة جـ ٣ صـ ٢٣ .
٢ - الكتيبة الكامنة صـ ٤٦ .
٣ - نفح الطيب جـ ٨ صـ ٣١ .
٤ -نيل الإبتهاج صـ ٢٣٨ .

د الله په لاره کې داسې خالصه شهادت دی چې ګناهونه مې محو کړې او له اوره مې وژغوري

شک نشته چي ګناهونه داسې ګنده ګې ده چې بل څه يې نه پاکوي پرته له هغو پرېکوونکو تورو چي د کافرانو بنې لاسونه يې چلوي.

# لمړی فصل
# د تفسير لمړی مقدمه

**په دی کی پنځه مبحثونه دی:**

لمړی مبحث: د قرآن کریم نزول او مکی او مدنی سورتونه.

دويم مبحث: د مقاصد و او علومو او د علم د هغه فنونو چی قرآن کریم سره تړاو لری.

درېيم مبحث: د مفسرينوا د اختلاف اسباب او د هغو بيان.

څلورم مبحث: د قرآن کریم ناسخ او منسوخ، اړوند جامع قواعد او وقفونه.

پنځم مبحث: د قرآن کریم اعجاز، فصاحت او بلاغت او فضايلو کی.

## د مفسر مقدمه او د کتاب لمړی مقدمه

**«بسم الله الرحمن الرحيم قال الشيخ الفقيه الإمام العالم العلم العلامة، فريد دهره، ووحيد عصره، أبو عبد الله محمد المدعو بالقاسم بن أحمد بن محمد بن جزي الكلبي، رضي الله عنه وأرضاه وجعل الجنة مأواه، بحرمة النبي الأواه:**

**الحمد لله العزيز الوهاب، مالك الملوك ورب الأرباب، هو الذي أنزل على عبده الكتاب [الكهف: ١] ، هدى وذكرى لأولي الألباب [المؤمن: ٥٤] ، وأودعه من العلوم النافعة، والبراهين القاطعة: غاية الحكمة وفصل الخطاب وخصصه من الخصائص العلية، واللطائف الخفية، والدلائل الجلية، والأسرار الربانية، العجب بكل عجب عجاب وجعله في الطبقة العليا من البيان، حتى أعجز الإنسان والجان، واعترف علماء أرباب اللسان بما تضمنه من الفصاحة والبراعة والبلاغة والإعراب والإغراب وبسر حفظه في الصدور، وضمن حفظه من التبديل والتغيير، فلم يتغير ولا يتغير على طول الدهور وتوالي الأحقاب وجعله قولا فصلا، وحكما عدلا، وآية بادية، ومعجزة باقية: يشاهدها من شهد الوحي ومن غاب وتقوم بها الحجة للمؤمن الأواب، والحجة على الكافر المرتاب وهدى الخلق بما شرع فيه من الأحكام، وبين الحلال والحرام، وعلم من شعائر الإسلام، وصرف من النواهي والأوامر والمواعظ والزواجر، والبشارة بالثواب، والنذارة بالعقاب، وجعل أهل القرآن أهل الله وخاصته، واصطفاهم من عباده، وأورثهم الجنة وحسن المآب»**(١).

الهي ستاینه هغه الله ته خاص ده چې زورور بخښونکی، د پاچاهانو پاچا او د څښتنانو څښتن دی، دی هغه ذات دی چې پر خپل بنده یې کتاب نازل کړی، د عقلمنو لپاره د لارښود او یادښت په توګه. په دې کتاب کې له ګټورو علومو ، قاطع دلائلو تر آخري نقطې حکمت او پرېکړه کوونکې ویناوې ځای پر ځای کړې، په لوړو ځانګړونو، پټو بارکیو، روښانه دلائلو او حیرانوونکو رباني اسرارو یې په ډېر عجیبه طریقې ځانګړی کړی ، د بیان په لوړه طبقه کې یې ګرځولی تر دې چې ټول انسانان او پېریان ورڅخه عاجزه شوي دي، د ژبپوهني عالمانو یې په هغه فصاحت، لوړوالي، بلاغت، ښکاره او نااشنا تکلاري اقرار کړی چې قرآن یې لري او الله تعالی یې په سینو کې حفظ آسانه کړی او له تبدیل او تغییره یې د هغه ساتنه تضمین کړې ده، نو د زماني په اوږدو او پرله پسې پېړیو کې یې نه تغییر کړی او نه به تغییر وکړي، پرېکړه کوونکی قول، عادلانه حکم، ښکاره او تلپاتې معجزه یې ګرځولي ده چې هم هغه چا لیدلي چې وحي یې لیدلي او هم هغه چا چې نه یې ده لیدلي او په دې سره هم توبه کوونکي مؤمن ته دلیل جوړېږي او هم پر شکمن کافر حجت جوړېږي، خلک یې په هغو احکامو هدایت کړي چې د شریعت برخه یې ګرځولي ده، حلال او حرام یې بیان کړي، د اسلام له نښو ، ښوونه یې کړې، اوامر، نواهي، نصحیتونه ، منع کوونکې سزاګاني، په ثواب زېری او په عذاب له وېرې بیانونه یې په بېلابېلو ډولونو راوړي، د قرآن اهل یې د الله اهل او خاص شخصیتونه ګرځولي، له خپلو بندګانو له منځه یې غوره کړي او هغوی ته یې جنت او د ورتلو ښایسته ځای په وربرخه کړی دی.

**«فسبحان مولانا الكريم الذي خصنا بكتابه، وشرفنا بخطابه، فيا له من نعمة سابغة، وحجة بالغة، أوزعنا الله الكريم القيام بواجب شكرها، وتوفية حقها، ومعرفة قدرها، وما توفيقي إلا بالله [هود: ٨٨] ، هو ربي لا إله إلا هو، عليه توكلت وإليه متاب [الرعد: ٣٠].**

---

١ -«تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ٩)

**وصلاة الله وسلامه، وتحياته وبركاته وإكرامه، على من دلنا على الله، وبلغنا رسالة الله، وجاءنا بالقرآن العظيم، وبالآيات والذكر الحكيم، وجاهد في الله حق الجهاد، وبذل جهده في الحرص على نجاة العباد، وعلم ونصح وبين وأوضح حتى قامت الحجة، ولاحت المحجة، وتبين الرشد من الغي، وظهر طريق الحق والصواب، وانقشعت ظلمات الشك والارتياب. ذلك: سيدنا ومولانا محمد النبي الأمي، القرشي الهاشمي، المختار من لباب اللباب، والمصطفى من أطهر الأنساب، وأشرف الأحساب، الذي أيده الله بالمعجزات الظاهرة والجنود القاهرة، والسيوف الباترة الغضاب، وجمع له بين شرف الدنيا والآخرة، وجعله قائدا للغر المحجلين والوجوه الناضرة، فهو أول من يشفع يوم الحساب، وأول من يدخل الجنة ويقرع الباب، فصلى الله عليه وعلى آله الطيبين، وأصحابه الأكرمين، خير أهل وأصحاب، صلاة زاكية نامية، لا يحصر مقدارها العد والحساب، ولا يبلغ إلى أدنى وصفها ألسنة البلغاء ولا أقلام الكتاب»**[1].

زموږ هغه عزتمن مددګار پاک دی چي خپل کتاب ته يې موږ خاص کړي يو، په خپل خطاب يې موږ مشرف کړي يو، اې دا څومره پراخه نعمت او بشپړ حجت دی ! عزتمن الله دي موږ ته د دې نعمت د واجب شکر پر ځای کولو، حق ادا کولو او ارزښت پېژندلو توفيق راکړي. له الله پرته بل څوک توفيق نه شي راکولای، دی مې څښتن دی، پر ده مې ځان سپارلی او ده ته مې رجوع ده.

د الله لخوا دې سلام ، هرکلی، برکات او عزت ورکول وي هغه چا ته چې الله يې را پېژندلی، د الله پېغام يې را رسولی، ستر قرآن ، معجزات او حکمتونو والا وېښوونکی کتاب يې را ته راوړی، د الله په لاره کې يې حق جهاد کړی، د بندګانو پر ژغورنه په حرص کې يې خپل بشپړ زحمت ايستلی، ښوونه، نصيحت او وضاحت يې کړی تر دې چې حجت قائم شو او لاره روښانه شوه ، هدايت له بېلارۍ څخه بېل معلوم شو، د حق او سمون لاره څرګنده شوه، د تيارو شکونه او اندېښنې له منځه ولاړې، دا شخصيت زموږ سردار او ګران محبوب لوړ مقامی محمد ليک نالوستی، قرشي او هاشمي دی چې د مغزونو له مغزه غوره شوی او تر ټولو له پاک نسبونو او شرافتمنو کورنيو له منځه انتخاب شوی کوم چې الله تعالی په څرګندو معجزاتو ، زورورو لښکرو او پرېکوونکو غيرتمنو تورو، د دنيا او آخرت شرف ورته راغونډ کړی، د پاک‌لاسو سپين‌مخو نوراني څېرو (نامتو شخصيتونو) لپاره يې سرلاری ګرځولی، دی لومړی شخص دی چې د قيامت په ورځ شفاعت کوي او لومړی شخص دی چې لومړی جنت ته ننوزي او ور يې ټکوي، نو پر ده او د ده پر پاکي کورنۍ ، عزتمنو او غوره ملګرو دي د الله لخوا بې شمېره او بې حسابه درود وي چې برکتونو يې مخ په ډېرېدو وي او د ژبغړاندو خلکو ژبې او ليکوالانو قلمونه يې لږ صفت ته هم نه رسېږي.

**«أما بعد فإن علم القرآن العظيم: هو أرفع العلوم قدرا، وأجلها خطرا، وأعظمها أجرا، وأشرفها ذكرا وإن الله أنعم علي بأن شغلني بخدمة القرآن، وتعلمه وتعليمه، وشغفني بتفهم معانيه وتحصيل علومه، فاطلعت على ما صنف العلماء رضي الله عنهم في تفسير القرآن من التصانيف المختلفة الأوصاف، المتباينة الأصناف، فمنهم من آثر الاختصار، ومنهم من طول حتى كثر الأسفار، ومنهم من تكلم في بعض فنون العلم دون بعض ومنهم من اعتمد**

---

١ -«تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ٩)

**على نقل أقوال الناس، ومنهم من عول على النظر والتحقيق والتدقيق، وكل أحد سلك طريقا نحاه، وذهب مذهبا ارتضاه، وكلا وعد الله الحسنى [النساء: ٩٥] ، فرغبت في سلوك طريقهم، والانخراط في مساق فريقهم، وصنفت هذا الكتاب في تفسير القرآن العظيم، وسائر ما يتعلق به من العلوم، وسلكت مسلكا نافعا، إذ جعلته وجيزا جامعا، قصدت به أربع مقاصد: تتضمن أربع فوائد»**[١].

له دې بیان وروسته خبره دا ده چې د ستر قرآن علم تر ټولو علومو لوړ قدر، ښایسته ارزښت، لوی اجر والا او تر ټولو ډېر شرف والا ذکر دی او الله تعالی پر ما دا پېرزوینه وکړه چې د قرآن په خدمت ، زدکړې او ښوونې یې بوخت کړم او د هغه په معناوو د پوهېدو او د علومو پر لاس ته راوړنې یې زه مین کړم، نو مې د قرآن کریم په تفسیر کې د عالمانو (رضي الله عنهم) ډول - ډول اوصافو او بیلابېلو اصنافو والا کتابونه وکتل، ځینو یې اختصار غوره کړی، ځینو یې خبره اوږده کړې حتی چې د کتابونو ټوکونه یې ډېر کړي، ځیني یې د علم په ځینو برخو کې ږغېدلي په ځینو کې نه دي ږغېدلي، ځینو یې د خلکو اقوالو پر نقل اعتماد کړی او ځینو یې د فکر، تحقیق او تدقیق لاره غوره کړې ده، هر یو یې داسې لارې ته ورننوتلی چې اراده ورته کړې او پر داسې لاره تللی چې خوښه کړې یې ده او الله تعالی له ټولو سره ښکلې وعده کړې ده، نو ما هم د دوی پر لاره تلو او د دوی په ډله کې داخلېدو ته شوق وکړ او دا کتاب مې د ستر قرآن په تفسیر او ورسره اړوندو علومو کې تصنیف کړ او په ګټوره لاره کې روان شوم؛ ځکه ما یاد کتاب مختصر او جامع ولیکی چې داسې څلور مقاصد مې ځینې اراده کړې چې څلور فایدې له ځان سره لري:

**قصدت به أربع مقاصد: تتضمن أربع فوائد:**

**الفائدة الأولى: جمع كثير من العلم، في كتاب صغير الحجم تسهيلا على الطالبين، وتقريبا على الراغبين فلقد احتوى هذا الكتاب على ما تضمنته الدواوين الطويلة من العلم، ولكن بعد تلخيصها وتمحيصها، وتنقيح فصولها، وحذف حشوها وفضولها ولقد أودعته من كل فن من فنون علم القرآن: اللباب المرغوب فيه، دون القشر المرغوب عنه، من غير إفراط ولا تفريط. ثم إني عزمت على إيجاز العبارة، وإفراط الاختصار، وترك التطويل والتكرار.**

**الفائدة الثانية: ذكر نكت عجيبة، وفوائد غريبة، قلما توجد في كتاب لأنها من بنات صدري، وينابيع ذكرى. ومما أخذته عن شيوخي رضي الله عنهم، أو مما التقطته من مستظرفات النوادر، الواقعة في غرائب الدفاتر.**

**الفائدة الثالثة: إيضاح المشكلات، إما بحل العقد المقفلات، وإما بحسن العبارة ورفع الاحتمالات، وبيان المجملات.**

**الفائدة الرابعة: تحقيق أقوال المفسرين، السقيم منها والصحيح، وتمييز الراجح من المرجوح**[٢].

**لومړی فایده:** په وړوکي حَجم والا کتاب کې د ډېر علم را جمع کول د دې لپاره چې طالب علمانو ته آسانه او مینه‌والو ته نژدې شي؛ نو دا کتاب هغه علوم په خپله غېږه کې لري چې په لویو کتابونو کې ځای پر ځای شوي، خو د خلاصه کولو، صافولو ، د فصلونو

---

١ - «تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٠)

٢ - «تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٠)

تر چاڼلو ، د تکرار او بې ګټو خبر تر حذفولو يې ورروسته. په دې کې مې له افراط او تفريط پرته د قرآني علومو د هر فن هغه غوره مغز را اخيستی، نه هغه ناکاره پوستکی، بيا مې د عبارت د لنډولو، ډېر اختصار او د اوږدوالي او تکرار د پرېښودلو قصد وکړ.

**دويمه فايده:** داسي عجيبه نکتي او ناآشنا فايدې مي ذکر کړي چې په کتابونو کي ببخي لږ پيدا کېدای شي؛ ځکه دا يا زما د فکر او يادښتونو د سرچينې زېږنده ، يا هغه څه دي چې ما له خپلو استادانو (رضي الله عنهم) څخه اخيستي يا مې له نادرو ځيرکو خبرو څخه دانه – دانه را اخيستي چې په ناآشنا يادښتليکونو کي واقع شوي دي.

**درېيمه فايده:** د غوټه شويو بندو الفاظو په حل کولو، د عبارت په ښه والي، د احتمالاتو په رفع کولو او د مجملاتو په بيانولو د مشکلو ألفاظو تشريح.

**څلورمه فايده:** د مفسرينو د سمو او ناسمو اقوالو څېړنه او راجح يې له مرجوح څخه بېلول.

**«وذلك أن أقوال الناس على مراتب: فمنها الصحيح الذي يعول عليه، ومنها الباطل الذي لا يلتفت إليه، ومنها ما يحتمل الصحة والفساد. ثم إن هذا الاحتمال قد يكون متساويا أو متفاوتا، والتفاوت قد يكون قليلا أو كثيرا، وإني جعلت لهذه الأقسام عبارات مختلفة، تعرف بها كل مرتبة وكل قول فأدناها ما أصرح بأنه خطأ أو باطل، ثم ما أقول فيه إنه ضعيف أو بعيد، ثم ما أقول إن غيره أرجح أو أقوى أو أظهر أو أشهر ثم ما أقدم غيره عليه إشعارا بترجيح المتقدم أو بالقول فيه: قيل كذا، قصدا للخروج من عهدته، وأما إذا صرحت باسم قائل القول فإني أفعل ذلك لأحد أمرين: إما للخروج عن عهدته، وإما «لنصرته إذا كان قائله ممن يقتدى به، على أني لست أنسب الأقوال إلى أصحابها إلا قليلا، وذلك لقلة صحة إسنادها إليهم، أو لاختلاف الناقلين في نسبتها إليهم، وأما إذا ذكرت شيئا دون حكاية قوله عن أحد فذلك إشارة إلى أني أتقلده وأرتضيه سواء كان من تلقاء نفسي، أو مما أختاره من كلام غيري، وإذا كان القول في غاية السقوط والبطلان لم أذكره تنزيها للكتاب، وربما ذكرته تحذيرا منه، وهذا الذي من الترجيح والتصحيح مبني على القواعد العلمية، أو ما تقتضيه اللغة العربية، وسنذكر بعد هذا بابا في موجبات الترجيح بين الأقوال إن شاء الله. وسميته كتاب التسهيل: لعلوم التنزيل وقدمت في أوله مقدمتين: إحداهما في أبواب نافعة، وقواعد كلية جامعة والأخرى فيما كثر دوره من اللغات الواقعة. وأنا أرغب إلى الله العظيم الكريم: أن يجعل تصنيف هذا الكتاب عملا مبرورا. وسعيا مشكورا، ووسيلة توصلني إلى جنات النعيم، وتنقذني من عذاب الجحيم، ولا حول ولا قوة إلا بالله العلي العظيم.**

**[رحم الله المؤلف ما أوجز عبارته وأكثر فائدته وقد وفى بكل ما وعد به جزاه الله خيرا عن الدين وأهله]»**(1).

دا ځکه چې د خلکو وينا څو مرتبې لري: ځينې هغسې صحيح دي چې اعتماد وربانډې کېږي، ځينې هغسې باطل دي چې هيڅ کتنه نه ده ورته په کار ، ځينې هغه دي چې د فاسد او صحيح دواړو احتمال لري. بيا نو دغه احتمال کله سره برابر وي او کله توپير سره لري، توپير يې کله لږ وي او کله ډېر او ما د دې ټولو لپاره بېلابېل عبارات راوړي چې هره مرتبه او هره وينا په پېژندل کېدای شي، نو تر ټولو ټيټ يې دا دی چې تصريح وکړم چې دا خطا يا باطل دی، بيا هغه دی چې په کې وايم: دا ضعيف دی يا بعيد ( له واقعيته لري) دی، بيا

١ - «تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١١)

هغه دی چې وایم: تر دې بل قول أرجح، ډېر قوي، ډېر څرګند یا ډېر مشهور دی، بیا هغه دی چې بل وروباندې مخکې کووم د دې لپاره چې د مخکني د ترجیح پوهاوی وکړم ، یا داسې ورسره ووایم: داسې ویل شوي، د دې لپاره چې له مسؤولیته یې ووزم. کله چې د کوم قول د وینا وال د نوم تصریح کوم دا په دوو کارونو کې د یوه په خاطر کوم : یا د دې لپاره چې له مسؤولیته یې ووزم یا یې د مرستې او دفاع لپاره چې کله یې قائل داسې څوک وي چې اقتدا پسې کېږي، سره له دې چې زه اقوال خپلو ویناوالو ته ډېر لږ نسبتوم؛ دا په دې خاطر چې تر دوی یې سندونه په لږو مواردو کې صحیح دي یا په دې خاطر چې نقل کوونکي دوی ته د دغو ویناوو په نسبت کولو کې اختلاف لري. خو کله چې کوم څه چا ته له نسبت کولو پرته ذکر کړم نو هغه دې ته اشاره ده چې زه یې پر غاړه اخلم او خوښ مې دی، برابره خبره ده چې هغه قول زما د ځان لخوا وي یا مې زما پرته د بل چا له وینا څخه غوره کړی وي. کومه خبره چې کله ښځې له اعتباره لوېدلې او باطله وي هغه د کتاب د پاک ساتلو په خاطر هیڅ نه ذکر کوم او که یې کله ذکر کړم نو د دې لپاره چې خلک ورڅخه ووېروم او دا ترجیح او تصحیح پر علمي قواعدو او هغه څه ولاړه ده چې عربي ژبه یې غوښتنه کوي او له دې وروسته به د اقوالو ترمنځ د ترجیح ثابتوونکو چارو په هکله یو باب هم ذکر کړم ان شاء الله او دا کتاب ما نومولی دی: کتاب التسهیل لعلوم التنزیل او په اوله کې یې ما دوې مقدمې ذکر کړې دي: یوه یې د ګټورو ابوابو او کلي جامع قواعدو په بیان کې ده او هغه بله په قرآن کې د هغو کارول شویو لغاتو په هکله ده چې رول یې ډېر دی او زه ستر کرم والا الله ته زاری کوم چې د دې کتاب تصنیف یو ښه عمل، منل شوې هڅه او د یوې داسې وسیلې په توګه ومنې چې ما جنت ته ورسوي او د دوزخ له عذابه مې وژغوري او له لوړ ستر الله له مرستې پرته بل له ګناه څخه د اړولو او پر طاعت کولو توفیق نشته.

## المقدمة الأولى

**وفيها إثنا عشر بابا:**

### الباب الأول

في نزول القرآن على رسول الله صلى الله عليه وسلم من أول ما بعثه الله بمكة، وهو ابن أربعين سنة، إلى أن هاجر إلى المدينة، ثم نزل عليه بالمدينة إلى أن توفاه الله، فكانت مدة نزوله عليه عشرون سنة، وقيل كانت ثلاثا وعشرين سنة على حسب الاختلاف في سنه صلى الله عليه وسلم يوم توفي، هل كان ابن ستين سنة، أو ثلاث وستين سنة؟ وكان ربما تنزل عليه سورة كاملة، وربما تنزل عليه آيات مفترقات، فيضم عليه السلام بعضها إلى بعض حتى تكمل السورة»[1].

---

١ - «تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٢)

## لمړی مبحث

# د قرآن کريم نزول او مکی او مدنی سورتونه

### لمړی مطلب: دمقدمی لمړی باب د قرآن کريم نزول:

په مصحف کې يې د جمع کېدلو، برخو ته وېشلو، لسيز نښو[1] او د نومونو په بيانولو کي دی، په مکه کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په څلوېښت کلنی کې له اول بعثته مدينې ته تر هجرته ، بيا په مدينه کې تر وفاته قرآن کريم پر نازل شوی، نو پر ده د قرآن کريم د نزول وخت شل کلونه و او څوک وايي: درويشت کلونه و[2]، دا د هغه اختلاف پر اساس دی چې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د وفات په وخت کې يې د عمر په اړه شوی چې آيا هغه وخت دی شپېته کلن و او که درې شپېته کلن و[3]؟ کله به بشپړ سورت ورباندې نازلېدی او کله به بېل – بېل آيتونه ور باندې نازلېدل، بيا به يې پيغمبر عليه الصلاة والسلام ځينې برخي له نورو سره يو ځای کړې تر دې چې سورت به کامل شو.

**وأول ما نزل عليه من القرآن: صدر سورة العلق، ثم المدثر والمزمل، وقيل: أول ما نزل المدثر وقيل: فاتحة الكتاب، والأول هو الصحيح لما ورد في الحديث الصحيح، عن عائشة في حديثها الطويل في ابتداء الوحي قالت فيه: جاءه الملك وهو بغار حراء، قال اقرأ، قال ما أنا بقارئ، قال فأخذني فغطني حتى بلغ مني الجهد، ثم أرسلني، فقال اقرأ، قلت ما أنا بقارئ، قال فأخذني فغطني الثانية، حتى بلغ مني الجهد ثم أرسلني، فقال اقرأ، قلت ما أنا بقارئ، قال فأخذني وغطني الثالثة حتى بلغ مني الجهد ثم أرسلني، ثم قال: اقرأ بسم ربك الذي خلق. خلق الإنسان من علق. اقرأ وربك الأكرم. الذي علم بالقلم. علم الإنسان ما لم يعلم. فرجع بها رسول الله صلى الله عليه وسلم يرجف فؤاده، فقال زملوني زملوني، فزملوه حتى ذهب عنه ما يجد من الروع» «١» ، وفي رواية من طريق جابر بن عبد الله: فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم زملوني فأنزل الله تعالى يا أيها المزمل وآخر ما نزل إذا جاء نصر الله والفتح وقيل آية الزنى التي في البقرة، وقيل الآية قبلها[4].**

---

١- برخو ته وېشلو ته په عربي کي تحزيب ويل شوی چي پر حزب (برخو) ته وېشل يې مطلب دی. لسيز نښو ته په عربي کي (تعشير) يا (أعشار) ويل شوي چي له (عَشَر) څخه اخيستل شوی، په لغت کي لسو ته ويل کېږي او په اصطلاح کي پرلسم شمېره آيت نښه لګول، بيا چي بل لسګون پر اضافه کېږي بيا نښه پر لګول همداسي ترپايه. دې ته ورته د (أَخماس) اصطلاح هم ده چي له (خَمس) څخه ايخستل شوې او په لغت کي پنځو ته ويل کېږي او په اصطلاح کي پر پنځم شمېره آيت نښه لګول، بيا چي بل پنځګون پر اضافه شي همداسي نښه پر لګوي (شرح مقدمة التسهيل لعلوم التنزيل صـ: ٥٩ د مساعد بن سليمان بن ناصر الطيار ليکنه دي وکتل شي).

٢ - امام ماوردی روايت کړی چې حفظه ملايکو قرآن کريم به جبريل عليه السلام په شلو شپو کې نازل کړی او بيا جبريل عليه السلام په رسول الله صلى الله عليه وسلم په شلو کلونو کې نازل کړی ا ه . ددې معنا دا ده چې جبريل عليه السلام قرآن کريم په شلو کلونو کې لک لک په رسول الله صلى الله عليه وسلم نازل کړی ، لاکن ددی قول قايل يا ويونکی معلوم ندی او نه کوم دليل يا شبه دليل لري . مناهل العرفان في علوم القرآن جـ ١ صـ ٤٧، محمد عبدالعظيم الزرقاني (ت:١٣٦٧ هـ ) ط: عيسى الحلبي القاهرة (١٣٣١ هـ ) .

٣- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: " أُنْزِلَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ ابْنُ أَرْبَعِينَ، وَكَانَ بِمَكَّةَ ثَلَاثَ عَشْرَةَ، وَبِالْمَدِينَةِ عَشْرًا، فَمَاتَ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ "( مسند أحمد بن حنبل:أحمد بن محمد بن حنبل ت: ٢٤١هـ محقق:أحمد محمد شاكر الناشر:دارالحديث القاهرة ط:١٤١٦هـ .جـ ٤ صـ ١٩ ٢١١٠ ومثله في صحيح البخاري:كتاب مناقب الأنصار، باب مبعث النبي ص ٣٨٥١) ژباړه: ابن عباس رضي الله عنه وايي: پر پيغمبر عليه الصلاة والسلام قرآن په داسي حال کي نازل شوی چي دی څلوېښت کلن و، (له نبوت وروسته) په مکه کي ديارلس کاله و او په مدينه کي لس کاله، نو د وفات په وخت کي درې شپېته کلن و.

٤ - «تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٢)

پر پېغمبر صلی الله علیه وسلم باندي چي لومړني آيتونه نازل شوي هغه د سورة العلق اولني آيتونه (١- ٥) دي، بيا سورة المدثر او مزمل ده، داسي ويل شوي چي اول سورة المدثر نازله شوې او داسې هم ويل شوي چي قرآن شروع ( الحمد لله ) نازله شوې ده، خو هغه اول قول صحيح دی[١]؛ ځکه په صحيح حديث کي له عائشې رضي الله عنها څخه د وحي د شروع په اړه د دې په روايت هغه اوږده حديث کې راغلي ، دا وايي: ملک ورته راغلی په داسې حال کې چې دی په غار حراء کي و، نو ورته يې وويل: ولوله، ده وويل: زه نه يم لوستونکی، وايي: نو يې زه ټينګ کړم او کښېي يې کښولم آن تر دې چې ما ته زحمت او تکليف ورسېدی، بيا يې خوشې کړم، نو ويې ويل: ولوله. ما ورته ويل: زه لوستونکی نه يم. نو يې دويم ځل زه ټينګ کړم او کښې يې کښولم آن تر دې چې ما ته زحمت او تکليف ورسېدی، بيا يې خوشي کړم، نو ويې ويل: ولوله. ما ورته ويل: زه لوستونکی نه يم. نو زه يې درېيم ځل ټېنګ کړم او کښې يې کښولم تر دې چې ما ته تکليف او زحمت را ورسېدی، بيا يې خوشي کړم او ويې ويل: خپل د هغه رب په نامه لوستل کوه چي مخلوقات يې پيدا کړي، انسان يې له ټوټې وينې څخه پيدا کړی دی، لوستل کوه په داسي حال کي چې ستا رب هغه کرم والا ذات دی چې د قلم په ذريعه يې ښوونه کړې ده، انسان ته يې هغه څه ور زده کړې دي چې نه په پوهېدی. رسول الله صلی الله عليه وسلم له دغو آيتونو سره بيرته کورته راغلی په داسي حال کي چې زړه يې رپېدی، نو ويې ويل: ومې پېچئ ومې پېچئ، نو دوی وپېچی تر دې چې هغه وارخطايي يې ولاړه چې ده احساسوله[٢].

په يو بل روايت کې د جابر بن عبد الله رضي الله عنه له لارې راغلي چې بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: ومې پېچئ. نو بيا الله تعالی دا آيت نازل کړ چي وايي: **{يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ}** اې ځان پېچونکي[٣]! او د نزول په لحاظ د قرآن کريم آخري برخه د {إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ} سورت دی او ويل شوي چي د سود اړوند هغه آيت دی چې په سورة البقرة کې دی او چا ويلي چې تر هغه مخکې آيت دی[٤].

---

١- په دې اړه دي د صحيح البخاري كتاب بدء الوحي: ٣ ، ٤ او ٤٩٢٤ شمېره حديثونه وکتل شي .

٢- دا صحيح حديث دی، او دا په «بدء الوحي» کي د عائشې رضي الله عنها د اوږده حديث برخه ده چي امام بخاري د خپل صحيح په کتاب (بدء الوحي ، باب كيف كان بدء الوحي إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم) او په كتاب أحاديث الأنبياء کي په (٤٣٥٣) شمېره، په کتاب التفسير کي يې په (٣٠٦١) شمېره او نورو ځايونو کي هم نقل کړی او مسلم په (١٦٠) شمېره كتاب الايمان باب بدء الوحي إلى رسول الله (ص) کي او ترمذي په خپل كتاب السنن الكبرى أبواب تفسير القرأن عن رسول الله ص باب ومن سورة المدثر (٣٣٢٥) شمېره او په مسند کي په ( ١٣٩٥٩) شمېره نقل کړی دی .

٣- کوم څه چي په صحيح البخاري (۴) شمېره كتاب بدء الوحي (٣٢٣٨) (كتاب بدء الخلق) او په صحيح مسلم کي (١٦١) كتاب الايمان باب بدء الوحي إلى رسول الله ص او نسائي حديث شميره (٣١٥٢) کي {يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ} ذکر دي او زموږ له معلوماتو سره سم يو ځای هم { يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ} نه دي ذکر شوي.

٤- په دې خبره کي ډېر اختلاف دی چي د قرآن کوم آيت وروستی نازل شوی دی، بخاري او مسلم له براء بن عازب رضي الله عنه څخه نقل کړي دي چي وروسته آيت چي نازل شوی دغه آيت دی {يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ } او رووستی سورت چي نازل شوی هغه سورة التوبة ده. امام بخاري له ابن عباس رضي الله عنه څخه نقل کړي وايي: وروستی آيت چي نازل شوی د سود آيت دی، بيهقي له عمر رضي الله عنه څخه هم دې ته ورته خبره او له دې څخه مراد دغه آيت دی: {يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ} په مسند احمد او سنن ابن ماجه کي له عمر رضي الله عنه څخه نقل دي چي آخري آيت چي نازل شوی د سود آيت اړوند آيت دی، ابن مردويه له ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه نقل کړي وايي: عمر موږ ته بيان وکړ نو ويې ويل: د نزول په لحاظ د قرآن آخري برخه د سود اړوند آيت دی، نسائي د عکرمه له لارې له ابن عباس رضي الله عنه څخه نقل کړي وايي: د نزول په لحاظ د قرآن وروستی برخه {وَاتَّقُوا يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللَّهِ} ابن مردويه دې ته ورته د سعيد بن جبير له لارې له ابن عباس رضي الله عنه څخه نقل کړي په دې لفظ چي د نزول په لحاظ وروستی آيت. ابن جرير د عوفي او ضحاک له لارې له ابن عباس رضي

**وكان القرآن على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم متفرقا في الصحف وفي صدور الرجال، فلما توفي رسول الله صلى الله عليه وسلم قعد علي بن أبي طالب رضي الله عنه في بيته، فجمعه على ترتيب نزوله، ولو وجد مصحفه لكان فيه علم كبير، ولكنه لم يوجد. فلما قتل جماعة من الصحابة يوم اليمامة في قتال مسيلمة الكذاب أشار عمر بن الخطاب على أبي بكر الصديق رضي الله عنهما بجمع القرآن مخافة أن يذهب بموت القراء. فجمعه في صحف غير مرتب السور وبقيت تلك الصحف عند أبي بكر، ثم عند عمر بعده، ثم عند بنته حفصة أم المؤمنين، وانتشرت في خلال ذلك صحف كتبت في الآفاق عن الصحابة، وكان بينها اختلاف، فأشار حذيفة بن اليمان على عثمان بن عفان رضي الله عنهما، فجمع الناس على مصحف واحد خيفة من اختلافهم، فانتدب لذلك عثمان، وأمر زيد بن ثابت فجمعه، وجعل معه ثلاثة من قريش: عبد الله بن الزبير بن العوام، وعبد الرحمن بن الحارث بن هشام، وسعيد بن العاصي بن أمية، وقال لهم إذا اختلفتم في شيء فاجعلوه بلغة قريش، وجعلوا المصحف الذي كان عند حفصة إماما في هذا الجمع الأخير، وكان عثمان رضي الله عنه يتعهدهم ويشاركهم في ذلك، فلما كمل المصحف نسخ عثمان رضي الله عنه منه نسخا ووجهها إلى الأمصار وأمر بما سواها أن تخرق أو تحرق «يروى بالحاء والخاء المنقوطة» فترتيب السور على ما هو الآن من فعل عثمان وزيد بن ثابت والذين كتبوا معه المصحف، وقد قيل إنه من فعل رسول الله صلى الله عليه وسلم، وذلك ضعيف ترده الآثار الواردة في ذلك**[1].

قرآن کریم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې په کاپیانو او د خلکو په سینو کې سره بېل و، چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو علي رضي الله عنه په خپل کور کې کېناست ، قرآن يې د خپل نزول په ترتيب جمع کړ، که هغه مصحف موندل شوی وای، لوی علم به په کې وای، لیکن نه دی موندل شوی[2].

---

الله عنه څخه نقل کړي. فريابي په خپل تفسير کي ويلي: موږ ته سفيان له کلبي څخه حديث بيان کړی، هغه له ابن صالح څخه هغه له ابن عباس رضي الله عنه څخه ويلي يې دي: د قرآن وروسته آيت چي نازل شوی : {وَاتَّقُوا يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللَّهِ} اود دغه آيت د نزول او د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د وفات تر منځ يو آتيا ورځي وې . (الاتقان في علوم القرآن) عبدالرحمن بن أبي بكر جلال الدين السيوطي ت:٩١١هـ محقق:محمد أبوالفضل إبراهيم الناشر:الهيئة المصرية العلمية للكتاب، ط:١٣٧٦هـ : ١ / ٨٢ وګوره).

١ - «تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٣)

٢- دغه اثر (روايت ) ضعيف دی. ابن کثير په فضائل قرآن (ص: ٨٨) کي ويلي: په دې کي ډېري ناوړه خبري دي. حافظ ابن حجر په فتح الباري (٨ / ٦٢٨) کي ويلي: د دې روايت سند د پرېکېدو په وجه ضعيف دی . دا روايت ابن ابي داود په کتاب المصاحف کي په (٣٢٣٦) شمېره له محمد بن سيرين څخه نقل کړی راوړی وايي: که هغه کتاب لاس ته راغلی وای، په هغه کي به علم و. دا رنګه ابن عبد البر په تمهيد (٨ / ٣٠٠) او ابن ابي شيبه په المصنف (١٠ / ٥٤٥) کي ټولو د ابن سيرين له طريقه نقل کړی دی. سيوطي په تاريخ الخلفاء عبدالرحمن بن أبي بكر جلال الدين السيوطي ت:٩١١هـ، الناشر مكتبة نزار مصطفى الباز ، محقق:حمدي الدمرداش، ط:١٤٢٥هـ ،(ص: ١٦٤) کي راوړی. شايد د ده مطلب دا وي چي د علي رضي الله عنه په مصحف کي اسباب نزول ، احكام او نور څه د تفسير په توګه وو او د نزول به ترتيب ليکل شوی و. زه (مترجم) وايم: صحيح خبره دا ده چي بل داسي مصحف نه دی رامنځ شوی چي له موجوده مصحفه دي اضافه شی په کي وي ؛ الله تعالى ويلي: {إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ} (سورة الحجر: ٩) ژباړه: ما دا قرآن نازل کړی او زه يې ساتونکی يم. که څوک فکر کوي چي په قرآن کي د سورتونو موجوده ترتيب په خپلي سري ډول را منځ ته شوی، دا خبره يې سمه نه ده؛ ځکه الله تعالى ويلي: {إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ} (القيامة: ١٧): د دغه کتاب جمع کول او لوستل زما پر ذمه دي؛ د صحيح البخاري به كتاب التفسير کي د سورة النور د تفسير په اوله کي يې دغه آيت ذکر کړی، بيا يې د {جَمْعَهُ} په تفسير کي ويلي: «تَأْلِيفَ بَعْضِهِ إِلَى بَعْضٍ» يعني په ترتيب جمع کول يې هم الله تعالى پر ذمه اخيستي دي. نو دا قطعي دليل دی چي د قرآن جمع کېدل د الله تعالى د خوښي مطابق ترسره شوي. که له علي رضي الله عنه سره داسي کوم مصحف وای د خپل حکومت په وخت کي خو هرومرو د خپلي واکمنی مرکزونو ته لېږداوه او که

نو چې کله د صحابه کرامو يو ډله د يمامه په ورځ د مسيلمه کذاب په مقابل کې ووژل شول، له دې وېرې چې د قاريانو د مړينې په وجه به قرآن کريم له منځه ولاړ شي عمر بن خطاب ابوبکر رضي الله عنهما ته مشوره ورکړه چې قرآن کريم يو ځای (غونډ) وليکي [1].
نو قرآن کريم يې په صحيفو کې را جمع کړ په داسې حال کې چې سورتونه يې نامرتب وو، هغه صحيفې له ابوبکر رضي الله عنه سره پاته وې، بيا تر هغه وروسته له عمر (رضي الله عنه) سره وې، بيا د هغه له لور حفصې ام المؤمنين سره وې[2].
په دې وخت کې له صحابه وو څخه ځينې صحيفې اطرافو ته خپرې شوې او د هغو ترمنځ اختلاف و. نو حذيفه بن يمان[3] د اختلاف له وېرې په وجه عثمان رضي الله عنهما ته مشوره ورکړ چې خلک پر يوه مصحف را جمع کړي، نو عثمان رضي الله عنه هم دغې خبرې ته خلک وهڅول، زيد بن ثابت[4] يې په جمع کولو امر کړ او درې نفره قريش عبد الله بن زبير بن العوام[5]، عبد الرحمن بن حارث بن هشام[6] او سعيد بن عاص بن أُمَيه[7] يې ورسره ملګري کړل، دوی ته يې وويل: په کوم شي که مو اختلاف سره وکړ د قريشو په لغت يې وليکئ، دوی هغه مصحف په دغه وروستۍ جمع کې اصلي مرجع وګرځوله چې له حفصې رضي الله عنها سره و، عثمان رضي الله عنه به د دوی احوال اخيسته او په دې کار کې يې ګډون ورسره کاوه. چې کله مصحف کامل وليکل شو، عثمان رضي الله عنه له هغه څخه نسخې وليکلې، ښارونو ته يې ولېږلې او له دې په پرته د نورو صحيفو په هکله

---

داسې که شوی وای حتما يې خبره تواتر ته رسېدله. مصحف (قرآن) وړه خبره نه ده چې څو محدود کسان په خبر وي او له نورو څخه پټ وي او بيا له منځه ولاړ شي .

١- دا صحيح حديث دی امام بخاري د خپل صحيح کتاب په کتاب التفسير که په (۴۶۷۹) شمېره، ترمذي د خپل سنن په کتاب تفسير کي په (۱۳۰۳)، نسائي (۱۳)، المسند الصحيح:محمد بن حبان بن أحمد أبوحاتم البستي ت:٣٥٤هـ، محقق: محمد علي ، الناشر: دارابن حزم بيروت ،ط: ١٤٣٣هـ (١٠ / ٣٥٩)، ابن عبد البر په التمهيد (٨ / ٢٧٩) کي، بيهقي په سنن کبير (۲ / ۴۰)، مسند په (۲۰۵۷)، بزار په خپل مسند (۱ / ۸۸) کي او طيالسي په خپل مسند کي په (۳) شمېره نقل کړی دی.

٢- دا ام المؤمنين حفصه رضی الله عنها د عمر بن خطاب رضي الله عنه لور ده، په (۴۵ هـ) کي د معاويه په خلافت کي وفات شوې اوداسې هم ويل شوي چې د عثمان په خلافت کي وفات شوې ده. اسد الغابة في معرفة الصحابة: علي بن أبي الکرم عزالدين ابن الأثير ت: ٦٣٠هـ ، محقق:علي محمد معوض ، ناشر:دارالکتب العلمية – بيروت ، ط:١٤١٥هـ :١٦٧/٧ ليکنه وګوره .

٣- هغه عزتمن صحابي حذيفه بن يمان بن جابر بن عمرو بن ربيعه دی په (۳۶ هـ ) کال کي وفات شوی. اسد الغابة فی معرفة الاستيعاب في معرفة الأصحاب: يوسف بن عبدالله ابن عبدالبر ، ت: ٤٦٣هـ،محقق: علي البجاري، الناشر: دارالجيل بيروت لبنان ط: ١٤١٢هـ . ( ١ / ٣٤٤) ليکنه وګوره.

٤- هغه عزتمن صحابي زيد بن ثابت بن ضحاک د انصارو د خزرج قبيلې سره تړاو لري، د قراءت استاد، د ميراث د علم ماهر او د رسول الله صلی الله عليه وسلم ليکوال ( د نبوي دفتر ميرزا د وحي کاتب) په (۴۸ هـ ) کي وفات شوی دی. اسد الغابة فی معرفة الصحابة :۳۴۶/۲ ليکنه وګوره

٥- هغه عزتمن صحابي عبد الله بن زبير بن عوام دی، د معاويه بن يزيد له مړيني وروسته يې د خلافت چارې پر غاړه واخيستلې او په ۷۳ هـ کال وفات شو.

٦- هغه عبد الرحمن بن حارث بن هشام بن مغيره د قريشو له بني مخزوم قبيلې سره تړاو لري، د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د وفات په وخت کي شل کلن و، دی د معاويه په خلافت کي وفات شوی. (الأعلام :خيرالدين بن محمود بن محمد الزرکلي الدمشقي ت:١٣٩٦هـ، الناشر:دارالعلم للملايين ط:٢٠٠٢م: ٣ / ٣٠٣) ، سير اعلام النبلاء ليکنه وګوره .

٧- دی سعيد بن العاص بن اميه قُرَشي أُمَوِي دی په (۵۹ هـ) کال وفات شوی دی.أسد الغابة فی معرفة الصحابة: ۴۸۱/۲ ليکنه وګوره

یې امر وکړ چې څېري شي یا وسځول شي[۱]. اصل عربي متن یې ( تخرق أو تحرق) په حاء او ټکي والا خاء نقل شوی، اول یې د څېرلو معنا لری او دویم یې د سوځولو معنا لري.

نو د سورتونو اوسنی ترتیب د عثمان، زید بن ثابت او هغو کسانو رضي الله عنهم کړنه ده چې له ده سره یې مصحف لیکلی دی . داسي هم ویل شوي چې د سورتونو ترتیب هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لارښوونه شوی، خو دا ضعیف دی، په دې اړه راغلي روایتونه یې ردوي[۲].

**وأما نقط القرآن وشكله فأول من فعل ذلك الحجاج بن يوسف بأمر عبد الملك بن مروان وزاد الحجاج تحزيبه وقيل: أول من نقطه يحيى بن يعمر وقيل أبو الأسود الدؤلي، وأما وضع الأعشار فيه فقيل: إن الحجاج فعل ذلك وقيل بل أمر به المأمون العباسي قرآن ته ټكي او حركات[۳].**

---

۱- دا صحیح حدیث دی،امام بخاري په خبل صحیح کتاب فضائل القرآن باب جمع القرآن کي په (۴۹۸۷) شمېره، ترمذي په أبواب تفسير القرآن باب ومن سورة التوبة (۳۱۰۴) شمېره او ابو عبید په فضائل القرآن:أبو عبيدة القاسم بن سلام البغدادي ت:٢٢٤هـ، محقق: مروان العطية، الناشر:دار ابن كثير دمشق ، ط:١٤١٥هـ: ( ۲۸۲) مخ کي نقل کړی دی.

۲- له دغو روایتونو له جملې هغه دی چي په صحیح مسلم کنتاب صلاة المسافرين و قصرها باب استحباب تطويل القراءة کي په (۷۷۲) شمېره له حذیفه بن یمان څخه راغلی وایي: له پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره مي یوه شپه لمونځ وکړ، نو سورة البقرة یې شروع کړه، ما په خپل زړه کي ویل: پر سلم آیت به نو رکوع وکړي، خو دی بیا هم مخ ته ولاړ، نو ما ویل: دغه سورة البقرة به په یوه رکعت کي لولي، خو دی مخ ته ولاړی بیا یې سورة النساء شروع کړه، هغه یې ختمه کړه، بیا یې سورة آل عمران شروع کړه ورو ورو یې لوستله... له زید بن ثابت رضي الله عنه څخه نقل دي وایي: موږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له څنګه وو قرآن موله ټوکرو را غونداوه. دا روایت حاکم په المستدرك على الصحيحين:أبوعبدالله محمد بن عبدالله الحاكم النيسابوري ت:٤٠٥هـ الناشر:دار المنهاج القويم، سوريا ، ط:١٤٣٩هـ . : ۲ / ۲۲۹ کي نقل کړی دی، حاکم ویلي: د بخاري او مسلم له شرطونو سره سم دا حدیث صحیح دی او امام ذهبي هم پر دې خبري ورسره موافقت کړی. په دې کي داسي واضح بیان دی چي د قرآن کریم جمع کول یو ځلي نه و، ځیني یې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په حضور کي جمع شوی، بیا یې ځیني د ابوبکر صدیق رضي الله عنه په حضور کي جمع شوی، درېیم جمع کېدل یې چي د سورتونو ترتیب دی، د امیر المؤمنین عثمان بن عفان رضي الله عنه په خلافت کي شوي. ابن جزی رحمه الله تعالی دلته له ابن عطیه : ۱ / ۵۳ سره یو څه موافق دی. سیوطي جمهورو علماوو ته د دې خبري نسبت کړی چي دا کار د صحابه وو په اجتهاد شوی دی ، الاتقان: ۱ / ۶۲، **البرهان في علوم القرآن**: بدرادين محمد بن عبدالله الزركشي ت: ٧٩٤ ، محقق: محمد أبوالفضل إبراهيم ، الناشر:دار إحياء الكتب العربية عيسى الحلبي ، ط:١٣٧٦هـ . ۱ / ۳۲۴. مناهل العرفان العرفان پدې هکله درې قوله نقل کړي: لمړی قول: ترتیب د سورتونو په کوم شکل چې اوس موجود دی توقیفې ندی د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه بلکې د صحابه وو په اجتهاد سره وو دا قول د جمهورو علماوو دی لدې ډلې امام مالک ، قاضي ابوبکر. دویم قول: ترتیب د ټولو سورتونو توقیفی دی یعنی د نبی علیه السلام په لارښوونه شوی ، دا مذهب د ابو جعفر نحاس او ابوبکر انباري دی . درېیم قول: ترتیب د ځینو سورتونو توقیفی او د ځینو اجتهادي دی دا مذهب هم د جیدو علماوو نه نقل دی . مناهل العرفان ج ۱ ص ۳۵۶ .

په دې اړه مخکي د علي رضي الله په نامه د مصحف یادوني په بحث کي پر لمنلیک معلومات لیکل شوي هملته یې کتلای شئ .

۳- صحیح خبره دا ده چي د حروف آخر ته د اعراب لپاره حرکات اول ځل ابو الأسود الدؤلي د زیاد په حکومت کي ورکړی او دا خبره په مشهوره قصه کي ده. د حروفو د پېژندلو لپاره ټکي اول ځل یحین بن یعمر او نصر بن عاصم چي د اولي پېړی (سلو کلونو) تر بشپړېدو مخکي وفات شوی. دا کار یې د حجاج بن یوسف ثقفي په امر کړی په دې اړه المبسوط في المرسوم والمضبوط د شیخ دنبجه بن معاویه شنقیطي صـ۵۶.

اول ځل حجاج بن یوسف[1] د عبد الملک بن مروان[2] په امر ورکړي دي او حجاج يې تحزيب[3] (برخو ته وېشل) زيات کړي. دا هم ويل شوی چې اول ځل ټکي يحيى بن يعمر[4].

ورکړي او دا هم ويل شوي چې ابوالأَسوَد دُؤَلي اول ځل ټکي ورکړي[5].

د أعشار (لسيز نښو) لګولو په اړه ويل شوي چې اول ځل حجاج دا کار کړی او دا هم ويل شوي چې مأمون عباسي[6] د دې امر کړی دی.

**«فأما القرآن: فأصله مصدر قرأ، ثم أطلق على المقروء، وأما الفرقان: فمصدر أيضا معناه التفرقة بين الحق والباطل، وأما الكتاب: فمصدر ثم أطلق على المكتوب، وأما الذكر: فسمي القرآن به لما فيه من ذكر الله أو من التذكير والمواعظ، ويجوز في السورة من القرآن الهمز، وترك الهمز لغة قريش، وأما الآية فأصلها العلامة ثم سميت الجملة من القرآن بها لأنها علامة على صدق النبي صلى الله عليه وسلم»**[7].

**نومونه يې څلور دي**: قرآن، فرقان، کتاب او ذکر، نور څه چې په نوم شوی دی هغه صفات دي ، نومونه نه دي؛ لکه د عظيم ، کريم ، متين ، عزيز ، مجيد او نور څه د صفت په توګه ورته کارول.

قرآن په اصل کې د (قَرَأَ) مصدر دی[8]، بيا د مَقروء (لوستل شوي ) په معنى هم کارول شوی دی.

فرقان هم مصدر دی، معنا يې حق له باطله بېلول دي[9].

---

۱- دی حجاج بن يوسف بن ابي عقيل ثقفي دی، دی د بني له واليانو يو دی، ژوند ليک تر يادولو ډېر مشهوره دی. په ۹۵ هـ کال کي وفات شوی دی. وفيات الاعيان: ۲۹/۲

۲- دی عبد الملک بن مروان بن الحکم د بني اميه وو يو هغه تر ټولو ډېر مشهور پاچا و. په (۹۵ هـ) کال کي وفات شوی. سير أعلام النبلاء:۴۶۳/۵ ليکنه وګوره .

۳ - تحزيب له حزب څخه اخيستل شوی چي (برخو) ته وېشل يې مطلب دی.

٤- دی يحيى بن يعمر قيسي جدلي عدواني بصری دی، په ۱۲۹ هـ کال کي وفات شوي او داسي هم ويل شوي چي تر نويمو کلونو مخکي په خراسان کي وفات شوی. سير أعلام النبلاء: ۴۴۱/۴ ، او معجم الأدباء:۴۲/۲۰ ليکني وګوره .

٥- دی ابو الأسود دؤلي دی، دډېر مشهور قول پر اساس يې نوم ظالم بن عمرو دی، د بصري او د لوړرتبه تابعينو څخه دی. له علي رضي الله عنه سره د صفين په پېښه کي ګډون کړی او دی لومړنی کس دی چي د نحو بنسټ يې اېښی او لومړنی کس دی چي حروفو ته يې حرکات ورکړي دي. سير أعلام النبلاء: ۸۳/۴

٦- دی عبد الله بن هارون دی چي د مأمون لقب يې درلود، د عباسيانو له لويو خلفاء يو شخص دی، په ۲۱۷ هـ کي وفات شوی دی ، سير أعلام النبلاء: ۲۷۲/۱۰ ليکنه وګوره .

۷ - «تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (۱/ ۱۳)

۸- (قرأ) يعني ويې لوستل. مصدر د فعل اصلي سرچيني ته ويل کېږي؛ د بېلګي په توګه : محمود کتاب ولوست، محمود کتاب لولي، اې محموده کتاب ولوله. په دغو درو جملو کي آخري برخه فعل دی . د دغه فعل مصدر (لوستل) دي .

۹- فرقان يعني حق له باطله بېلوونکي کتاب . قرآن ته د فرقان نوم ورکول دا مطلب لري چي د حق پېژندني معياري کتاب دی او هرڅه چي دغه کتاب رد کړي يا له دې کتاب سره نه لګېږي هغه په هيڅ عنوان د منلو وړ نه دی او په هيڅ نامه او تر هيڅ پوښ لاندي يې بايد هيڅ مؤمن مسلمان و نه مني. دا رنګه د اسلام د هري سرچيني په حواله چي کوم خبره نقلېږي که له دغه کتاب مخالفه وي هغه د منلو وړ نه ده. امام بخاري رحمه الله ويلي: « باب المكاتب وما لا يحل من الشروط التي تخالف كتاب الله». وروسته وايي: وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ، أَوْ عُمَرُ: «كُلُّ شَرْطٍ خَالَفَ كِتَابَ اللَّهِ فَهُوَ بَاطِلٌ، وَإِنِ اشْتَرَطَ مِائَةَ شَرْطٍ» (صحيح البخاري كتاب الشروط باب المكابب حديث رقم: ۲۷۳۵) ورسره وګوره فتح الباري بشرح صحيح البخاري أحمد بن علي بن حجر العسقلاني ت: ۸۵۲هـ، المكتبة السلفية مصر، ط:۱۳۸۰هـ: ج ٥ ص ۳۵۳) يعني هر شرط چي د الله د کتاب مخالف وي هغه باطل دی. دا چي د (ليس في كتاب الله) څخه دا مطلب اخيستل شوی چي د الله د کتاب مخالف وي، دليل يې د دې حديث د ورود سبب دی چي هغه د بريرې رضي الله عنها د آزادولو په هکله د دې د بادارانو لخوا د الله د حکم خلاف شروط ټاکل شوي وو. دې ته ورته حکم امام بخاري له نبي عليه الصلاة والسلام څخه هم نقل کړی دی (صحيح البخاري كتاب العتق بَابُ اسْتِعَانَةِ المُكَاتَبِ: ۲۵۶۳ وګوره) امام سرخسي د هغه حديث په پای کي

کتاب مصدر ( د ليکلو په معنا ) دی، ليکل شوي (قرآن) ته کارول شوی دی.

د ذکر نوم قرآن ته په دې وجه کارول شوی چې په هغه کې د الله ذکر شته يا دا چې په هغه کې يادونه او نصيحتونه شته. د قرآن په سورة کې همزه (سؤره) ويل هم روا دي، بې همزه (سوره) ويل يې د قريشو ژبدود دی.

آيت په اصل کې د نښې په معنا ده؛ د قرآن يوې برخې ته دا نوم په دې وجه ورکول شوی چې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د رښتينولی نښه ده.

## الباب الثاني
## في السور المكية والمدنية

**اعلم أن السور المكية هي التي نزلت بمكة ويعد منها كل ما نزل قبل الهجرة، وإن نزل بغير مكة، كما أن المدنية هي السورة التي نزلت بالمدينة ويعد منها كل ما نزل بعد الهجرة وإن نزل بغير المدينة، وتنقسم السور ثلاثة أقسام: قسم مدنية باتفاق، وهي اثنتان وعشرون سورة، وهي: البقرة، وآل عمران، والنساء، والمائدة، والأنفال، وبراءة، والنور، والأحزاب، والقتال، والفتح، والحجرات، والحديد، والمجادلة، والحشر، والممتحنة، والصف، والجمعة، والمنافقون، والتغابن، والطلاق، والتحريم، وإذا جاء نصر الله. وقسم فيها خلاف، هل هي مكية أو مدنية؟ وهي ثلاثة عشر سورة: أم القرآن والرعد، والنحل، والحج، والإنسان، والمطففون، والقدر ولم يكن، وإذا زلزلت، وأ رأيت، والإخلاص والمعوذتين. وقسم مكية باتفاق، وهي سائر «السور، وقد وقعت آيات مدنية في سور مكية، كما وقعت آيات مكية في سور مدنية، وذلك قليل، مختلف في أكثره»**[1].

**دويم مطلب: د مقدمی دويم باب، د مکي او مدني سورتونو په بيان کې دی:**

په دې پوه شه چې مکي سورتونه هغه دي چې په مکه کې نازل شوي او ټول هغه سورتونه مکي شمېرل کېږي چې تر هجرت مخکې نازل شوي که څه هم له مکې بهر نازل شوي. لکه څرنګه چې مدني هغه سورتونه بلل کېږي چې په مدينه کې نازل شوي او هغه سورتونه هم له مدني څخه بلل کېږي چې تر هجرت وروسته نازل شوي که څه هم له مدينې بهر نازل شوي.

**د سورتونو درې ډوله :**

يو ډول هغه دي چې په اتفاق مدني دي او هغه دا دوه ويشت سورتونه دي: سورة البقرة، آل عمران، النساء، المائدة، الأنفال، براءة، النور، الأحزاب، القتال، الفتح، الحجرات، الحديد، المجادلة، الحشر، الممتحنة، الصف، الجمعة، المنافقون، التغابن، الطلاق، التحريم او إذا جاء نصر الله.

بل قسم هغه دي چې اختلاف په کې شته چې آيا مکي دي که مدني؟ او هغه دا ديارلس سورتونه دي: أم القرآن (الحمد) ، الرعد، النحل، الحج، الإنسان، المطففون، القدر ، البينة، الزلزلة، الماعون، الإخلاص او المعوِّذتين.

---

وايي: وَذَلِكَ تنصيص على أَن كل حَدِيث هُوَ مُخَالف لكتاب الله تَعَالَى فَهُوَ مَرْدُود (أصول السرخسي:أبوبكر محمد بن أحمد السرخسي ت: ٤٨٣ هـ، محقق: أبوالوفا الأفغاني، الناشر:لجنة إحياء المعارف النعمانية، حيدرآباد-الهند: جـ١ صـ ٣٦٤-٣٦٥). ترجمه: نو دا تصريح ده پر دې خبره چې هر حديث د الله د کتاب مخالف وي هغه مردود دی .

١ - «تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٤)

درېيم قسم په اتفاق مکي دي: او هغه دا پاته سورتونه دي. مدني آيتونه په مکې سورتونو کي هم واقع شوي لکه څرنګه چې مکي آيتونه په مدني سورتونو کې واقع شوي دي او دا لړ دي په اکثرو برخو کي يې اختلاف دی.

خصائص السور المكية والمدنية:

**واعلم أن السور المكية نزل أكثرها في إثبات العقائد والرد على المشركين، وفي قصص الأنبياء. وأن السور المدنية نزل أكثرها في الأحكام الشرعية، وفي الرد على اليهود والنصارى، وذكر المنافقين، والفتوى في مسائل، وذكر غزوات النبي صلى الله عليه وسلم. وحيث ما ورد:**

**يا أيها الذين آمنوا فهو مدني، وأما: يا أيها الناس، فقد وقع في المكي والمدني»**[1].

**د مکي سورتونو ځانګړني:**

په دې پوه شه چې د مکي سورتونو اکثره برخې د عقائدو د اثبات او پر مشرکينو د رد او د انبياء د قصو په هکله نازل شوي او د مدني سورتونو اکثره برخې د شرعي احکامو، پر يهوديانو او نصرانيانو د رد ، د منافقانو د غندلو ، په مسألو کي د فتوا او د پېغمبر صلى الله عليه وسلم د غزواتو په اړه وي. هر ځای چې د ايمان په نوم نِداء {يا أيها الذين آمنوا} راغلې وي هغه مدني سورت دی او د انسانيت په نوم نِداء {يا أيها الناس} ، په مکي او مدني دواړه ډوله سورتونو کي راغلي دي.

## الباب الثالث

## في المعاني والعلوم التي تضمنها القرآن

**ولنتكلم في ذلك على الجملة والتفصيل. أما الجملة، فاعلم أن المقصود بالقرآن دعوة الخلق إلى عبادة الله وإلى الدخول في دينه، ثم إن هذا المقصد يقتضي أمرين، لا بد منها، وإليهما ترجع معاني القرآن كله: أحدهما بيان العبادة التي دعي الخلق إليها، والأخرى ذكر بواعث تبعثهم على الدخول فيها وترددهم إليها، فأما العبادة فتنقسم إلى نوعين، وهما أصول العقائد وأحكام الأعمال.**

**وأما البواعث عليها فأمران وهما: الترغيب والترهيب، وأما على التفصيل فاعلم أن معاني القرآن سبعة: هي علم الربوبية، والنبوة، والمعاد، والأحكام، والوعد، والوعيد والقصص»**[2].

---

١ - التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٤)
٢ - التسهيل لعلوم التنزيل (١/ ١٤)

## دویم مبحث

## د مقاصد و او علومو او د علم د هغه فنونو چی قرآن کریم سره تړاو لری

لمړی مطلب: د مقدمی دریېیم باب، د مقاصدو او علومو په اړه موږ به پر دي خبره په اجمالي او تفصیلي ډول غږیږو.

په اجمالي ډول په دې ځان پوهول په کار دي چې د قرآن کریم مقصد د الله عبادت او په دین کي داخلېدلو ته د خلکو بلنه ده، دا مقصد بیا دوې خبري غواړي چي له هغو څخه چاره نشته او د ټول قرآن مقاصد هغو ته ورګرځي:

اول یې د هغه عبادت بیان چي خلک ور بلل شوي دي.

بل هغه هڅونکي چاري چي په دین کي دخلېدلو ته یې تشویقوي او ورګرځوي یې.

عبادت بیا دوه ډول دی: یو د عقائدو اصول او بل د عملونو احکام.

عبادت ته هڅوونکي چاري دوه ډوله دي ، یو تشویق دی، بل تهدید دی.

په تفصیلي ډول په دې ځان پوه کړه چي د قرآن مقاصد اوه ډوله دي: علم لرل په ربوبیت،، نبوت، قیامت، احکامو، د ثوابونو وعدې، د سزاګانو تهدید او عبرتي قصې پېژندل.

**فأما علم الربوبية: فمنه إثبات وجود الباري جل جلاله، والاستدلال عليه بمخلوقاته، فكل ما جاء في القرآن من التنبيه على المخلوقات، والاعتبار في خلقة الأرض والسموات، والحيوان والنبات. والريح والأمطار، والشمس والقمر، والليل والنهار، وغير ذلك من الموجودات، فهو دليل على خالقه، ومنه إثبات الوحدانية، والرد على المشركين، والتعريف بصفات الله: من الحياة والعلم والقدرة والإرادة والسمع والبصر، وغير ذلك من أسمائه وصفاته، والتنزيه عما لا يليق به.**

**وأما النبوة: فإثبات نبوة الأنبياء عليهم السلام على العموم، ونبوة محمد صلى الله عليه واله وسلم على الخصوص، وإثبات الكتب التي أنزلها الله عليهم، ووجود الملائكة الذين كان منهم وسائط بين الله وبينهم، والرد على من كفر بشيء من ذلك، وينخرط في سلك هذا ما ورد في القرآن من تأنيس النبي صلى الله عليه وسلم وكرامته والثناء عليه، وسائر الأنبياء صلى الله عليه وعليهم أجمعين»**[١].

د ربوبیت په اړه د علم لرلو له جملې د خالق جل جلاله اثبات او د دې لپاره یې په مخلوقاتو دلیل نیول هم دي[٢]. په قرآن کي چې مخلوقاتو ته پاملرنه، د مځکي، آسمانونو ،

---

١ - التسهيل لعلوم التنزيل (١/ ١٤)

٢- د قرآن کریم لومړینو مخاطبینو ( د مکي خلکو ) په دې اړه اختلاف نه درلود چي د هر څه خالق یوازي الله تعالی دی؛ قرآن د مشرکانو په هکله وایي:

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ الْعَزِيزُ الْعَلِيمُ ﴿الزخرف ٩﴾ ترجمه: که د دوی څخه پوښتنه وکړې چي آسمانونه او مځکه چا پیدا کړي ، خامخا به دوی وایي: دا هغه زورور پوره پوه (الله) پیدا کړي.

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّى يُؤْفَكُونَ ﴿الزخرف: ٨٧﴾ . ترجمه: اوکه د دوی څخه پوښتنه وکړې چي دوی چا پیدا کړي ، خامخا به وایي: الله (پیدا کړي یو) . نو څرنګه اړول کېږي .

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّى يُؤْفَكُونَ ، اللَّهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاء مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ لَهُ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ، وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ السَّمَاء مَاء فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ مِن بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُولُنَّ اللَّهُ قُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿العنكبوت: ٦١- ٦٣﴾.

ترجمه: که د دوی څخه پوښتنه وکړې چي آسمانونه او مځکه چا پیدا کړي ، لمر او سپوږمۍ چا تابعدار کړي ، خامخا به دوی وایي: الله (داسي کړي) ، نو څرنګه اړول کېږي ، الله چي د خپلو بندګانو چا ته وغواړي روزي ورته پراخوي او ورته لږوي یې ، بې شکه الله په هر شي پوره پوه دی او که د دوی څخه پوښتنه وکړې چي د آسمانه چا اوبه را کښته

ژويو، شنو بوټو، هواوو، اوريو (بارانونو) ، لمر، سپوږمی، شپې، ورځې او نورو مجوداتو له پيداينته عبرت اخيستل ياد شوي، هغه ټول د خپل خالق د ثبوت دليل دی او له دې جملې د الله تعالى يووالی[١] او پر مشركانو رد، د الله تعالى د داسې صفاتو پېژندل هم دي چې هغه ژوند، علم، قدرت، اراده، اروېدول، ليدل او د الله تعالى نور نومونه او صفات او د ده له شان سره له ناوړه صفاتو څخه يې پاک ګڼل هم دي.

د نبوت اړوند علم مقصد په عمومي ډول د پيغمبرانو عليهم الصلاة والسلام د نبوت اثبات، په خصوصي ډول د محمد صلى الله عليه وسلم د نبوت اثبات[٢]، د هغو كتابونو اثبات چي الله تعالى پر هغوی نازل كړي دي، د هغو ملائكو شتون چي د دوی له جملې د الله او پيغمبرانو عليهم الصلاة والسلام ترمنځ د پيغام رسولو واسطه هم وو، پر هغه چا رد چې د دغو شيانو له كوم شي څخه منكر شي او په د پېژندګلوۍ ، عزت او ستاينې په اړه ذكر شوي دي.

**وأما المعاد فإثبات الحشر، وإقامة البراهين، والرد على من خالف فيه، وذكر ما في الدار الآخرة من الجنة والنار، والحساب والميزان، وصحائف الأعمال وكثرة الأهوال، ونحو ذلك»**[٣].

---

كړي چي مځكه يې د مړيني وروسته په را ژوندی كړې ، خامخا به دوی وايي: الله (دا كارونه كړي) ، ووايه: ټول الْهي صفتونه الله ته خاص دي ، بلكي اكثر د دوی عقل نه كاروي .

١ ـ د الله تعالى توحيد يا په يووالي منل دا مطلب لري چي يوازي الله د عبادت وړ او مستحق وګڼل شي او له پيغمبرانو عليهم الصلاة والسلام سره مشركانو پرهمدې مسألې اختلاف كاوه او همدا يې د دښمنۍ بنسټ و. قرآن كريم ويلي: إِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ، وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوا آلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجْنُونٍ. ﴿الصافات: ٣٥ـ ٣٦﴾ ترجمه: يقينا چي دوی ته به كله وويل شوه : له الله پرته بل د بندګۍ حقدار نشته ، دوی لويي كوله ( دا حق خبري ته يې غاړه نه ايښودله) او ويل يې: آيا موږ خپل معبودان د لېوني شاعر په وجه پرېږدو ؟

مشركانو د نيوكي په توګه ويل: أَجَعَلَ الْآلِهَةَ إِلَهًا وَاحِدًا إِنَّ هَذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ ﴿سورة ص ٥﴾ ترجمه : آيا ده ټول معبودان يو معبود ګرځولی ( د ټولو معبودانو كارونه او برخي يې يوه ته منلي) ؟ يقينا چي دا ډېر حيرانوونكی شی دی ؟

عبادت د هر هغه قول او فعل نوم دی چي الله تعالى د ځان لپاره خوښ كړی وي. د عبادت له جملې دا هم دی چي څوک چا ته په كائناتو كي د غيبي تصرف يا د ګناه او ثواب ټاكلو اختيار لرلو عقيده ولري؛ قرآن كريم وايي: وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا (الكهف: ٢٦) : ژباړه: الله په خپل حكم كي هيڅوک له ځان سره نه شريكوي. نو چا ته په حكم د الله د حق داسي برخه منل هم شرک چي فلاني يا په شريعت كي د الله په شان حلال او حرام ټاكلای شي يا په كائناتو كي غيبي تصرف كولای شي. قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَمَنْ كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا (الكهف: ١١٠)

ترجمه: اې پيغمبره ووايه: زه همدا ستاسو په څېر انسان يم، دا پټ پيغام راته كيږي چي ستاسو د عبادت مستحق يو د عبادت مستحق دی، نو كه څوک له خپل رب سره د مخامخ كېدو هيله او باور لري هغه دي ښه كړني ترسره كوي او د خپل رب (څښتن) په عبادت كي دي هيڅوک نه شريكوي.

دلته قرآن كريم د الله تعالى د توحيد دائره مشخصه كړې ده چي هغه الله ډول عبادت الله تعالى ځانګړی كول دي، چي په عبادت كي به هيڅوک نه ورسره شريكوي، نو شرک په عبادت كې ډېر واقع كيږي، په دا وجه دا توحيد كلمه {لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ} ده، يعني له الله پرته بل د عبادت مستحق نشته.

٢ - ﴿إِنَّآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ كَمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ نُوحٖ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَعِيسَىٰ وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَٰرُونَ وَسُلَيۡمَٰنَۚ وَءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ زَبُورٗا ١٦٣ وَرُسُلٗا قَدۡ قَصَصۡنَٰهُمۡ عَلَيۡكَ مِن قَبۡلُ وَرُسُلٗا لَّمۡ نَقۡصُصۡهُمۡ عَلَيۡكَۚ وَكَلَّمَ ٱللَّهُ مُوسَىٰ تَكۡلِيمٗا ١٦٤﴾ «(١٦٣) بېشكه موږ تا ته وحي كړې ده، لكه څنګه چې موږ وحي كړې وه نوح ته او له هغه نه پس (نورو) نبيانو ته او موږ وحي كړې وه ابراهيم او اسمعيل او اسحاق او يعقوب او د (هغوی) اولادې ته او عيسٰى او ايوب او يونس او هارون او سليمان ته او موږ داود ته زبور وركړی و (١٦٤) او (موږ لیږلي وو) ډېر رسولان، چې يقينًا د هغوی احوال موږ تا ته له دې نه مخكې بيان كړي دي او (نور) رسولان چې د هغوی احوال موږ تا ته نه دي بيان كړي او الله له موسٰى سره خبرې كړې دي، واضحې خبرې» [النساء: ١٦٣-١٦٤]

٣ -تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل (١/ ١۴)

د مَعاد علم مطلب د بیاځلي ژوند اثبات، دلائل قائمول، پر هغه چا رد چي مخالفت يې کوي، د هغه جنت، دوزخ ، حساب ، میزان ، د اعمالو صحیفې ، زیاتې وېرې او دې ته ورته څه مسائل[1].

**وأما الأحكام: فهي الأوامر والنواهي وتنقسم خمسة أنواع: واجب، ومندوب، وحرام، ومكروه، ومباح. ومنها ما يتعلق بالأبدان: كالصلاة والصيام، وما يتعلق بالأموال كالزكاة، وما يتعلق بالقلوب كالإخلاص والخوف والرجاء وغير ذلك»**[2].

احکام له امر او نهي څخه اخیستل شوي مسائل دي او دا پنځه ډوله دي: واجب، مندوب، حرام ، مکروه او مباح. ځیني هغه دي چې له بدن سره تړاو لري لکه لمونځ او روژه او ځیني يې له مالونو سره تړاو لري؛ لکه زکات او ځیني يې له زړونو سره تړاو لري لکه اخلاص، وېره، هیله او داسي نور[3].

**وأما الوعد: فمنه وعد بخير الدنيا من النصر والظهور وغير ذلك، ومنه وعد بخير الآخرة وهو الأكثر كأوصاف الجنة ونعيمها.**

**وأما الوعيد: فمنه تخويف بالعقاب في الدنيا، ومنه تخويف بالعقاب في الآخرة وهو الأكثر: كأوصاف جهنم وعذابها. وأوصاف القيامة وأهوالها، وتأمل القرآن تجد الوعد مقرونا بالوعيد، قد ذكر أحدهما على إثر ذكر الآخر، ليجمع بين الترغيب والترهيب، وليتبين أحدهما بالآخر، كما قيل: فبضدها تتبين الأشياء»**[4].

---

١ - ﴿أَوَلَمْ يَرَ ٱلْإِنسَٰنُ أَنَّا خَلَقْنَٰهُ مِن نُّطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ٧٧ وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُۥ ۖ قَالَ مَن يُحْيِ ٱلْعِظَٰمَ وَهِيَ رَمِيمٌ ٧٨ قُلْ يُحْيِيهَا ٱلَّذِىٓ أَنشَأَهَآ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ ٧٩﴾ «(٧٧) ایا انسان نه دي کتلي چې ببشکه مونږ دغه (انسان) له نطفې (یو څاڅکي اوبو) نه پیدا کړی دی، نو ناڅاپه دی ښکاره سخت جګړه کوونکی دی (٧٨) او دی زمونږ لپاره مثال بیانوي او خپل پیدایښت يې هېر کړی دی، وایي: دغه هډوکي به څوك راژوندي کوي، په داسې حال کې چې هغه وراسته وي (٧٩) ته (دوی ته) ووایه: دا به هغه ذات راژوندي کوي چې دا يې اول ځلې پیدا کړي دي، او هغه په خپل مخلوق باندې ښه عالم دی» [يس: ٧٧-٧٩]

﴿وَقَالُوٓاْ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمًا وَرُفَٰتًا أَءِنَّا لَمَبْعُوثُونَ خَلْقًا جَدِيدًا ٤٩ ۞ قُلْ كُونُواْ حِجَارَةً أَوْ حَدِيدًا ٥٠ أَوْ خَلْقًا مِّمَّا يَكْبُرُ فِى صُدُورِكُمْ ۚ فَسَيَقُولُونَ مَن يُعِيدُنَا ۖ قُلِ ٱلَّذِى فَطَرَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ فَسَيُنْغِضُونَ إِلَيْكَ رُءُوسَهُمْ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هُوَ ۖ قُلْ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَرِيبًا ٥١﴾ «(٤٩) او دوی وایي ایا کله چې مونږ هډوکي او میده شوې خاورې شو، ایا په رښتیا به مونږ بیا راژوندي کولی شو په نویو پیدا کولو سره (٥٠) ته (ورته) ووایه: تاسو کاڼي شئ، یا اوسپنه (٥١) یا کوم داسې مخلوق له هغه قسمه نه چې ستاسو په زړونو (او ذهنونو) کې لوی ښکاري، نو دوی به ژر ووایي: څوك به مونږ بیا راژوندي کوي؟ ته ووایه: هغه ذات چې تاسو يې اول کرت پیدا کړي يئ، نو ژر به دوی خپل سرونه تا ته (د استهزا په ډول) وخوځوي او وایي به: دا به کله وي؟ ته ووایه: امېد دی چې دغه به ډېر نژدې وي» [الإسراء: ٤٩-٥١]

-٢ «تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٤)

٣ - ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ٦﴾ [التحريم: ٦] «(٦) ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! تاسو خپل ځانونه او خپل اهل له داسې اور نه بچ وساتئ چې د هغه خشاك خلق او کاڼي دي، په ده باندې ډېر سخت خویه، قوتناك ملايك مقرر دي، چې دوی په هغه څه کې د الله نافرمانۍ نه کوي چې دوی ته يې حکم کړی وي او دوی هغه څه کوي چې دوی ته يې حکم کولی شي» [التحريم: ٦]

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَٰلُكُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُكُمْ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ٩﴾ [المنافقون: ٩] «(٩) ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! تاسو دې د الله له ذکر نه نه خپل مالونه غافله کړي او نه خپل اولادونه او هغه څوك چې دا کار وکړي، نو همدغه زیانکاران (تاوانیان) دي» [المنافقون: ٩]

٤ - «تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٥)

د وعدې له جملې د دنيا د ښېګڼې: مرستې ، غلبې موندلو او داسي نورو وعده هم ده او ډېر يې د آخرت د ښېګڼې ده لکه د جنت صفتونه او نعمتونه[1].

د وعيد له جملې په دنيا کې له سزا څخه وېره هم ده او ډېر يې په آخرت کې له سزا څخه وېره ده؛ لکه د جهنم اوصاف او عذابونه يې، د قيامت اوصاف او وېرې يې، په قرآن کې فکر وکړه، ته د ثواب وعده د عذاب له تهديد سره يو ځای مومې په داسي ډول چې يو يې د بل پسې ذکر شوی وي؛ دا د دې لپاره چې تهديد او تشويق سره جمع او يو د بل په وجه بيان شي ؛ لکه څرنګه چې ويل شوي، شيان د خپل ضد په وجه ښه بيانېږي[2].

**«وأما القصص: فهو ذكر أخبار الأنبياء المتقدمين وغيرهم كقصة أصحاب الكهف، وذي القرنين. فإن قيل: ما الحكمة في تكرار قصص الأنبياء في القرآن؟ فالجواب من ثلاثة أوجه الأول: أنه ربما ذكر في سورة من أخبار الأنبياء ما لم يذكره في سورة أخرى، ففي كل واحدة منهما فائدة زائدة على الأخرى: الثاني: أنه ذكرت أخبار الأنبياء في مواضع على طريق الإطناب. وفي مواضع على طريق الإيجاز، لتظهر فصاحة القرآن في الطريقتين.**

**الثالث: أن أخبار الأنبياء قصد بذكرها مقاصد فتعدد ذكرها بتعدد تلك المقاصد، فمن المقاصد بها إثبات نبوة الأنبياء المتقدمين بذكر ما جرى على أيديهم من المعجزات، وذكر إهلاك من كذبهم بأنواع من المهالك. ومنها إثبات النبوة لمحمد صلى الله عليه وسلم لإخباره بتلك الأخبار من غير تعلم من أحد. وإلى ذلك الإشارة بقوله تعالى: ما كنت تعلمها أنت ولا قومك من قبل هذا [هود: ٤٩] ومنها إثبات الوحدانية. ألا ترى أنه لما ذكر إهلاك الأمم الكافرة قال: فما أغنت عنهم آلهتهم التي يدعون من دون الله من شيء [هود: ١٠١] ومنها الاعتبار في قدرة الله وشدة عقابه لمن كفر. ومنها تسلية النبي صلى الله عليه وسلم عن تكذيب قومه له بالتأسي بمن تقدم من الأنبياء: كقوله: ولقد كذبت رسل من قبلك [الأنعام: ٣٤] ومنها تسليته عليه السلام ووعده بالنصر كما نصر الأنبياء الذين من قبله. ومنها تخويف الكفار بأن يعاقبوا كما عوقب الكفار الذين من قبلهم، إلى غير ذلك مما احتوت عليه أخبار الأنبياء من العجائب والمواعظ واحتجاج الأنبياء. وردهم على الكفار وغير ذلك. فلما كانت أخبار الأنبياء تفيد فوائد كثيرة: ذكرت في مواضع كثيرة. ولكل مقام مقال»[3].**

---

١ - ﴿إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡأَشۡهَٰدُ٥١﴾ [غافر: ٥١] «(٥١) بېشکه مونږ خامخا د خپلو رسولانو او د هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی، په دنيايي ژوند کې مدد کوو او په هغې ورځ کې (هم) چې ګواهان به ودرېږي» [غافر: ٥١]

﴿وَلَقَدۡ سَبَقَتۡ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا ٱلۡمُرۡسَلِينَ ١٧١ إِنَّهُمۡ لَهُمُ ٱلۡمَنصُورُونَ ١٧٢ وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ ٱلۡغَٰلِبُونَ١٧٣﴾ [الصافات: ١٧١-١٧٣] «(١٧١) او يقينًا يقينًا زمونږ خبره زمونږ د لېږل شويو (رسولانو) بنده ګانو لپاره صادر شوې ده (١٧٢) چې بېشکه دوی، خامخا هم دوی مدد کړی شوي دي (١٧٣) او بېشکه زمونږ لښکر، خامخا هم دوی غالب راتلونکي دي» [الصافات: ١٧١-١٧٣]

٢ - ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَآۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ شَرُّ ٱلۡبَرِيَّةِ٦ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ خَيۡرُ ٱلۡبَرِيَّةِ٧﴾ [البينة: ٦-٧] «(٦) بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي، چې اهل کتاب او مشرکان دي، (دوی به) د دوزخ په اور کې وي، چې په ده کې به تل ترتله وي. هم دغه کسان د خلقو بدترين دي (٧) بېشکه هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او نېك عملونه يې کړي دي همدغه کسان د خلقو بهترين دي» [البينة: ٦-٧]

٣ -«تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٥)

له قصص څخه مراد د پخوانيو پيغمبرانو او نور خلکو اړوند خبرې دي؛ لکه د اصحاب کهف[1] او ذو القرنين قصه[2].

که دا وويل شي چي په قرآن کي د پيغمبرانو د قصو په تکرار کي څه حکمت دی؟ نو د جواب لپاره يې درې وجهې کېدای شي:

اوله وجه يې دا چي ډېر ځلې په يو سورت کي د پيغمبرانو اړوند هغه خبرې ذکر شي چي په بل سورت کي نه وي ذکر شوي. نو په هره يوه کي پر بلي اضافي فايده شته.

دويم دا چي د پيغمبرانو (عليهم الصلاة والسلام) اړوند قصې يو ځای په تفصيلي ډول ذکر شوي او په بل ځای کي د لنډيز په شکل ذکر شوي؛ د دې لپاره چي په دواړو طريقو کي د قرآن فصاحت ښکاره شي.

دريمه وجه دا چې د پيغمبرانو قصې د بېلابېلو مقاصدو لپاره راوړل شوي او د دغو مقاصدو د تعدد په وجه قصې هم په بياځلي ډول ذکر شوي. د دغو قصو له مقصادو څخه راتلونکي ټکي دي:

١- د پخوانيو پيغمبرانو د نبوت اثبات د هغوی پر لاس د جاري شويو معجزاتو[3] په بيانولو او په بېلابېلو عذابونو د دوی منکرينو د هلاکولو په بيان سره.

بل مقصد يې د محمد صلى الله عليه وسلم د نبوت اثبات دی په دې وجه چي ده پرته له دې چي له کوم چا څخه زدکړه وکړي له هغو څخه خبر ورکړی؛ دې خبرې ته الله تعالی په

---

١ -﴿نَّحۡنُ نَقُصُّ عَلَيۡكَ نَبَأَهُم بِٱلۡحَقِّۚ إِنَّهُمۡ فِتۡيَةٌ ءَامَنُواْ بِرَبِّهِمۡ وَزِدۡنَٰهُمۡ هُدٗى ١٣ وَرَبَطۡنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ إِذۡ قَامُواْ فَقَالُواْ رَبُّنَا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ لَن نَّدۡعُوَاْ مِن دُونِهِۦٓ إِلَٰهٗاۖ لَّقَدۡ قُلۡنَآ إِذٗا شَطَطًا ١٤﴾ [الكهف: ١٣-١٤] «(١٣) مونږ تا ته د دوی خبر په حقه سره بيانوو، بېشکه دوی داسې ځلميان وو چې پر خپل رب يې ايمان راوړی و او مونږ دوی په هدايت کي ورزيات کړي وو (١٤) او مونږ د دوی زړونه مضبوط کړي وو، کله چې دوی ولاړ شول، نو ويې ويل: زمونږ رب د اسمانونو او ځمکي رب دی، مونږ به هيڅکله له هغه نه غير بل معبود ونه بلو (که مونږ له هغه نه غير بل معبود وبلو نو)، يقينًا يقينًا په دغه وخت کي به مونږ ډېره غلطه خبره کړې وي» [الكهف: ١٣-١٤]

٢ -﴿وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَن ذِي ٱلۡقَرۡنَيۡنِۖ قُلۡ سَأَتۡلُواْ عَلَيۡكُم مِّنۡهُ ذِكۡرًا ٨٣ إِنَّا مَكَّنَّا لَهُۥ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَءَاتَيۡنَٰهُ مِن كُلِّ شَيۡءٖ سَبَبٗا ٨٤ فَأَتۡبَعَ سَبَبًا ٨٥ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَغۡرِبَ ٱلشَّمۡسِ وَجَدَهَا تَغۡرُبُ فِي عَيۡنٍ حَمِئَةٖ وَوَجَدَ عِندَهَا قَوۡمٗاۖ قُلۡنَا يَٰذَا ٱلۡقَرۡنَيۡنِ إِمَّآ أَن تُعَذِّبَ وَإِمَّآ أَن تَتَّخِذَ فِيهِمۡ حُسۡنٗا ٨٦﴾ [الكهف: ٨٣-٨٦] «(٨٣) او دوی له تا نه د ذوالقرنين باره کې تپوس کوي، ته (دوی ته) ووايه: ژر به زه تاسو ته د هغه په هکله څه احوال بيان کړم (٨٤) بېشکه مونږ هغه ته په ځمکه کې اقتدار ورکړی و او مونږ هغه ته له هر شي نه يوه لاره (او وسيله) ورکړې وه (٨٥) نو هغه لاره ونيوله (او هغه اسباب هم چې مغرب ته يې ورساوه) (٨٦) تر هغه پورې چې کله دی د لمر پرېوتو ځای ته ورسېده (نو) ده دغه (لمر) ومونده چې د تورو خټو په لويه چينه کې ډوبېده، او ده هغې(چينې) ته نژدې يو قوم وموندو، مونږ ووېل: ای ذوالقرنينه! (تا ته اختيار حاصل دی چې) يا خو ته (دوی ته) عذاب ورکړه او يا دا چې ته د دوی په هکله ښه لار ونيسه» [الكهف: ٨٣-٨٦]

٣ -﴿إِذۡ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ ٱذۡكُرۡ نِعۡمَتِي عَلَيۡكَ وَعَلَىٰ وَٰلِدَتِكَ إِذۡ أَيَّدتُّكَ بِرُوحِ ٱلۡقُدُسِ تُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِي ٱلۡمَهۡدِ وَكَهۡلٗاۖ وَإِذۡ عَلَّمۡتُكَ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَۖ وَإِذۡ تَخۡلُقُ مِنَ ٱلطِّينِ كَهَيۡـَٔةِ ٱلطَّيۡرِ بِإِذۡنِي فَتَنفُخُ فِيهَا فَتَكُونُ طَيۡرَۢا بِإِذۡنِيۖ وَتُبۡرِئُ ٱلۡأَكۡمَهَ وَٱلۡأَبۡرَصَ بِإِذۡنِيۖ وَإِذۡ تُخۡرِجُ ٱلۡمَوۡتَىٰ بِإِذۡنِيۖ وَإِذۡ كَفَفۡتُ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ عَنكَ إِذۡ جِئۡتَهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡهُمۡ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ١١٠﴾ [المائدة: ١١٠] «(١١٠) کله چې الله به وواېي: ای عيسٰی د مريمې زويه! زما هغه نعمتونه ياد کړه چې په تا او ستا په مور باندې شوي دي، کله چې ته ما په پاك روح (جبريل) سره قوي کړې، تا به له خلقو سره په غېږ کې او په پاخه عمر کې خبرې کولې او کله چې ما تا ته کتاب او حکمت او تورات او انجيل وښودل، او کله چې تا به زما په حکم سره له خټې نه د مرغۍ د شکل په شان شکل جوړاوه، بيا به تا په هغه کې پوکی وواهه، نو هغه به زما په حکم سره مرغۍ شوه او تا به زما په حکم سره موروزادي ړوند او برګي مرض والا روغاوه او کله چې تا زما په حکم سره مړي (له قبرونو نه ژوندي) راوښکل او کله چې ما له تا نه بني اسرائيل بند (ايسار) کړل، کله چې تا هغوی ته ښکاره دليلونه راوړل، نو په هغوی کې کافر شويو خلقو وويل: نه دی دا مګر ښکاره جادو» [المائدة: ١١٠]

دې وینا کي اشاره کړې ده: ما كُنْتَ تَعْلَمُها أَنْتَ وَلا قَوْمُكَ مِنْ قَبْلِ هذا [هود: ۴۹] ترجمه: تر دې مخکي نه ته او نه ستا قوم په دې قصو خبر وو.

۲- د الله تعالی د یووالي اثبات هم دی؛ ته نه ګورې چي کله یې دکافرانو امتونه ذکر کړه ویې ویل: فَما أَغْنَتْ عَنْهُمْ آلِهَتُهُمُ الَّتِي يَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مِنْ شَيْءٍ [هود: ۱۰۱] ترجمه: د دوی هغو معبودانو چې له الله پرته یې را بلل، له دوی څخه هیڅ شی دفع نکړای شو.

۳- عبرت اخیستل او د الله په قدرت او له حقه منکرو خلکو ته یې په سختو سزاګانو کي فکر کول هم دي.

۴- پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته یې د قوم لخوا د تکذیب په وړاندي تسلیت ورکول په دې ډول چي په پخوانیو پیغامبرانو پسې اقتدا وکړي؛ لکه قرآن کریم چي وایي: وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِنْ قَبْلِكَ [الأنعام: ۳۴] .

ترجمه: یقینا تر تا مخکي نور پیغامبران هم دروغجن بلل شوي دي.

۵- پیغمبر علیه السلام ته تسلیت او د مرستي ډاډ ورکول لکه څرنګه چې یې تر ده له مخکې پیغمبرانو سره مرسته کړي ده[1].

۶- کافران له دې څخه وېرول چي تر دوی مخکې کافرانو په څېر به سزا ورکول شي[2]، او داسې نورې عجیبه پېښې، نصیحتونه او د پیغمبرانو علیهم الصلاة والسلام لخوا دلائل وړاندي کول ، پر کافرانو د دوی لخوا ردونه او داسې نور څه چې په قصو کي راغلي

---

۱ -﴿وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِۦ فُؤَادَكَۚ وَجَآءَكَ فِي هَٰذِهِ ٱلْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَذِكْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ١٢٠ وَقُل لِّلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ٱعْمَلُواْ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنَّا عَٰمِلُونَ١٢١ وَٱنتَظِرُوٓاْ إِنَّا مُنتَظِرُونَ ١٢٢﴾ [هود: ۱۲۰-۱۲۲] او مونږ تا ته د رسولانو له خبرونو څني ټول هغه څه بیانوو چې په هغو سره مونږ ستا زړه کلکوو او تا ته په دې (خبرونو) کي راغلی دی حق او نصیحت او یادونه لپاره د مومنانو (۱۲۱) او ته هغو کسانو ته چې ایمان نه راوړي، ووایه: تاسو پر خپل ځای (او حال) عمل کوئ، بېشکه مونږ هم عمل کوونکي یو (۱۲۲) او تاسو انتظار کوئ، بېشکه مونږ هم انتظار کوونکي یو»

﴿إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ ٱلْأَشْهَٰدُ٥١ يَوْمَ لَا يَنفَعُ ٱلظَّٰلِمِينَ مَعْذِرَتُهُمْۖ وَلَهُمُ ٱللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوٓءُ ٱلدَّارِ٥٢﴾ [غافر: ۵۱-۵۲] بېشکه مونږ خامخا د خپلو رسولانو او د هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی، په دنیایي ژوند کې مدد کوو او په هغې ورځ کې (هم) چې ګواهان به ودرېږي (۵۲) په هغې ورځې کې چې ظالمانو (مشرکانو) ته به د هغوی معذرت هېڅ نفع نه رسوي او د همدوی لپاره لعنت دی او د همدوی لپاره بد کور (دوزخ) دی»

۲ ﴿بَلْ كَذَّبُواْ بِمَا لَمْ يُحِيطُواْ بِعِلْمِهِۦ وَلَمَّا يَأْتِهِمْ تَأْوِيلُهُۥۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلظَّٰلِمِينَ ٣٩﴾ [یونس: ۳۹] «(۳۹) بلکې دوی د هغه (قرآن) تکذیب وکړ چې دوی د هغه د علم احاطه نه وه کړې، او دوی ته لا د ده حقیقت نه و راغلی، همدارنګه تکذیب کړی و هغو کسانو چې له دوی نه مخکې وو، نو ته وګوره د ظالمانو انجام څنګه و؟»

﴿وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ وَبِٱلزُّبُرِ وَبِٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُنِيرِ٢٥﴾ [فاطر: ۲۵] «(۲۵) او که چېرې دوی تا دروغجن وبولي، نو یقینًا (خپل انبیاء) دروغجن بللي وو هغو کسانو چې له دوی نه مخکې وو، دوی ته د دوی رسولان په ښکاره دلیلونو سره، او په صحیفو سره او په روښانه رڼا کوونکي کتاب سره راغلي وو»

﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَتَعْسًا لَّهُمْ وَأَضَلَّ أَعْمَٰلَهُمْ٨ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَرِهُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَٰلَهُمْ٩ ۞ أَفَلَمْ يَسِيرُواْ فِي ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُواْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْۖ دَمَّرَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْۖ وَلِلْكَٰفِرِينَ أَمْثَٰلُهَا ١٠ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ مَوْلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَأَنَّ ٱلْكَٰفِرِينَ لَا مَوْلَىٰ لَهُمْ ١١﴾ [محمد: ۸-۱۱] «(۸) او هغه کسان چې کافران شوي دي، نو د دوی لپاره هلاکوالی دی او هغه (الله) د دوی عملونه ضایع کړي دي (۹) دا ځکه چې یقینًا دوی هغه (قرآن) بد ګڼلی دی چې الله نازل کړی دی، نو هغه (الله) د دوی عملونه برباد کړل (۱۰) ایا نو دوی په ځمکه کې نه ګرځي، نو چې وویني چې د هغو کسانو انجام څنګه و چې له دوی نه مخکې وو، الله په دوی تباهي راوسته، او د کافرانو لپاره د دغه (انجام) په مثل مثالونه شته (۱۱) دغه ځکه چې یقینًا الله د هغو کسانو دوست (او مددګار) دی چې ایمان یې راوړی دی او دا چې یقینًا کافران (چې دي) د دوی لپاره مددګار (او دوست) نشته»

دي. نو په دا وجه چې د پيغمبرانو عليهم الصلاة والسلام په قصو کي ډېر فوائد او مقاصد وو، په ډېرو ځايونو کې ذکر شوي دي او له هرځای لپاره خپله مناسبه خبره وي.

## الباب الرابع
## في فنون العلم التي تتعلق بالقرآن

اعلم أن الكلام على القرآن يستدعي الكلام في اثني عشر فنا من العلوم، وهي: التفسير، والقراءات، والأحكام، والنسخ، والحديث، والقصص، والتصوف، وأصول الدين، وأصول الفقه، واللغة، والنحو، والبيان[١].

**دويم مطلب: د مقدمې څلورم باب هغه فنون چي له قرآن کريم سره تړاو لري**

په دې ځان پوهول په کار دي چي د قرآن په اړه ږغېدل د علم د دوولسو فنونو په اړه ږغېدل غواړي، هغه فنون : تفسير، قراءات، احکام، نسخ، حديث، قصص، تصوف، عقائد، اصول الفقه، لغت ، نحو او بيان (معاني) دي[٢].

**فأما التفسير فهو المقصود بنفسه وسائر هذه الفنون أدوات تعين عليه أو تتعلق به أو تتفرع منه، ومعنى التفسير: شرح القرآن وبيان معناه، والإفصاح بما يقتضيه بنصه أو إشارته أو فحواه «واعلم أن التفسير منه متفق عليه ومختلف فيه، ثم إن المختلف فيه على ثلاثة أنواع:**

**الأول: اختلاف في العبارة، مع اتفاق في المعنى: فهذا عده كثير من المؤلفين خلافا، وليس في الحقيقة بخلاف لاتفاق معناه، وجعلناه نحن قولا واحدا، وعبرنا عنه بأحد عبارات المتقدمين، أو بما يقرب منها، أو بما يجمع معانيها.**

**الثاني: اختلاف في التمثيل لكثرة الأمثلة الداخلة تحت معنى واحد، وليس مثال منها على خصوصه هو المراد، وإنما المراد المعنى العام التي تندرج تلك الأمثلة تحت عمومه، فهذا عده أيضا كثير من المؤلفين خلافا، وليس في الحقيقة بخلاف لأن كل قول منها مثال، وليس بكل المراد، ولم نعده نحن خلافا: بل عبرنا عنه بعبارة عامة تدخل تلك تحتها، وربما ذكرنا بعض تلك الأقوال على وجه التمثيل، مع التنبيه على العموم المقصود.**

**الثالث: اختلاف المعنى فهذا هو الذي عددناه خلافا، ورجحنا فيه بين أقوال الناس حسبما ذكرناه في خطبة الكتاب»[٣].**

---

١ -«تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٥)

٢ دلته مصنف دا يادونه کړې چي دغه علوم له قرآن سره تړاو لري او په زدکړه کي يې ګټور دي. په دې اړه زموږ په خلکو يوه غلط فهمي را منځ ته شوې چي د قرآن د ترجمې اورېدلو لپاره يې هم دغه علوم شرط کړي، په داسي حال کي چي دغه ذکر شوي فنون چې چا ياد کړي، هغه د ترجمې اورېدونکي لپاره نه دي شرط کړي، بلکي د مفسر لپاره يې ګټور بللي. دا يې د هغه چا لپاره ياد کړې دی چي د قرآن مفسر جوړېږي، خپله قرآن تفسير کوي د هغه له مخي مفتي جوړ شي، پرته له دې چي کوم بل تفسير والا يا استاد ته مراجعه وکړي. يوازي د ترجمې اورېدلو لپاره د دې خبري شرط لګول هيڅ دليل نه لري، بلکي د قرآن او سنت دلائل يې ردوي؛ الله تعالى وايي:
هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ.
ترجمه: الله هغه ځوک دی چي په اميانو ( نالوستو ) کي يې له دوی خپلو څخه پيغمبر را ليږلی چي د ده آيتونه وربانْدي تلاوتوي، پاک يې روزي او کتاب او سنت ورښيي په داسي حال کي چي دوی تر دې مخکي يقينا په ښکاره بېلاري کي ول.

٣ -«تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٦)

تفسير خو خپله مقصود دی[۱] او دا نور فنون وسائل دي چې په زدکړه کې يې مرسته کوي يا تړاو ورسره لري يا سرچينه ورڅخه اخلي. د تفسير معنا د قرآن شرح ، د معنا بيان يې او د هغه څه تصريح کول چې د قرآن لفظ ، اشاره يا سياق (د بحث لړۍ) يې غوښتنه کوي.

په دې ځان پوه کړه چې د تفسير پر ځينو برخو اتفاق دی او په ځينو کي يې اختلاف دی[۲]، دا اختلافي يې بيا درې ډوله دي:

اول په عبارت کي سره بېل، خو به په معنا کي سره متفق. دغه ډول تفسير هم ډېرو ليکوالانو د اختلافي تفسير له جملې ګڼي، خو په حقيقت کي دا اختلاف نه دی؛ ځکه معنا يې يوه ده، موږ دا ډول قولونه يو قول حساب کړي او له دې څخه مو تعبير په مخکينيو عالمانو کي د يوه په وينا کړی يا په داسي څه چې ور نژدې وي يا د ټولو قولونو معناوې جمع کوي.

دويم يې په مثال راوړلو کي اختلاف وي؛ ځکه د يوې معنا لپاره ډېر مثالونه وي او يو مثال يې په خصوصي ډول مراد نه وي، بلکي عامه معنا مراد وي چې هغه ټول مثالونه يې تر عموم لاندي کېږي. دا هم ډېرو ليکوالانو اختلافي تفسير ګڼلی، خو په حقيقت کي دا اختلاف نه دی؛ ځکه هر قول يې يو مثال دی او ټوله مقصودي معنا په هغه کي نه وي، موږ دا اختلاف نه دی ګڼلی، بلکي له هغو څخه مو په عام عبارت تعبير کړی چې ټول مثالونه تر لاندي کېږي او کله کله ځيني د دغو اقوالو څخه د مثال په ډول ذکر کړو ، خو د عمومي مقصود يادونه هم وکړو.

درېيم قسم په معنا کي اختلاف، دا هغه څه دی چې موږ اختلاف ګڼلی دی او په دې کي مو د خلکو د قولونو ترمنځ ترجيح او غوراوی په هغه طريقه کړی دی چې د کتاب په سريزه کي مو ذکر کړ.

**فإن قيل: ما الفرق بين التفسير والتأويل؟ فالجواب أن في ذلك ثلاثة أقوال: الأول أنهما بمعنى واحد. الثاني: أن التفسير للفظ، والتأويل للمعنى. الثالث: وهو الصواب: أن التفسير: هو الشرح، والتأويل: هو حمل الكلام على معنى غير المعنى الذي يقتضيه الظاهر، بموجب اقتضى أن يحمل على ذلك ويخرج على ظاهره وأما القراءات: فإنها بمنزلة الرواية في الحديث، فلا بد من ضبطها كما يضبط الحديث بروايته.**

**ثم إن القراءات على قسمين: مشهورة. وشاذة. فالمشهورة: هي القراءات السبع وما جرى مجراها: كقراءة يعقوب، وابن محيصن. والشاذة ما سوى ذلك. وإنما بنينا هذا الكتاب على قراءة نافع لوجهين: أحدهما أنها القراءة المستعملة في بلادنا بالأندلس وسائر بلاد المغرب. والأخرى اقتداء بالمدينة شرفها الله لأنها قراءة أهل المدينة. وقال مالك بن أنس:**

---

۱ـ تفسير له فسر څخه اخيستل شوی، د بيان او د پټ شي د لوڅولو معنا لري، په اصطلاح کي په څو دوله تعريفات شوی، تر ټولو مهم يې د زرکشي تعريف دی، هغه دا چي دا يو علم دی چي د الله پر پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم د نازل شوي کتاب مقصد ، د معناوو بيان ، د احکامو او حکمتونو را ايستل يې په پېژندل کېږي. **البرهان في علوم القرآن**:1\13 بدرادين محمد بن عبدالله الزرکشي ت: ٧٩٤ ، محقق: محمد أبوالفضل إبراهيم ، الناشر:دار إحياء الکتب العربية عيسى الحلبي ، ط:١٣٧٦هـ

٢ـ دغه معنا علامه ابن تيميه په خپل کتاب : مقدمه في اصول التفسير أحمد بن عبدالحليم بن عبدالسلام ابن تيمية الدمشقي ت: ٧٢٨هـ ،الناشر دار مكتبة الحياة بيروت-لبنان ، ١٩٨٠م : صـ٥٢ او له هغې وروسته کي واضح کړې ده او کوم چي يې په تفسير کي اختلاف دوی ډولونو ته وېشلی دی: اختلاف تنوع او اختلاف تضاد او دا ډېر قيمتي بحث دی.

**قراءة نافع سنة. وذكرنا من سائر القراءة ما فيها فائدة في المعنى والإعراب وغير ذلك. دون ما لا فائدة فيه زائدة. واستغنينا عن استيفاء القراءات لكونها مذكورة في الكتب المؤلفة فيها. وقد ألفنا فيها كتبا نفع الله بها. وأيضا فإنا لما عزمنا في هذا الكتاب على الاختصار حذفنا منه ما لا تدعو إليه الضرورة وقد ذكرنا في هذه المقدمات بابا في قواعد أصول القراءات**[1].

که دا وويل شي چي د تفسير او تأويل ترمنځ توپير څه دی؟ نو جواب دا دی چي په دې کي درې قولونه دي:

اول دا چي دواړه په يوه معنا دي.

دويم دا چي تفسير د لفظ تشريح ده او تأويل د معنا.

درېيم قول چي صحيح همغه دی، هغه دا چي تفسير شرح ده او تأويل يو کلام له خپلي هغي معنا پرته چي ښکاره الفاظ يې غوښتنه کوي، پر بله معنا اړول دي سره له يوې داسې قريني او دليله چي له ظاهري معنا يې باسي او پر هغه بله معنا اړوي.

قراءتونه داسي دي لکه په احاديثو کي روايتونه، نو دا اړينه ده چي هغه سم ضبط ( حرکات يې تنظيم او حفظ) شي ؛ لکه څرنګه چي حديث له خپل روايت سره ضبط کېږي.

قراءات بيا دوه ډوله دي: يو مشهور دي ، بل شاذ دي.

مشهور: هغه اوه قراءتونه او داسي څه چي دوی ته ورته وي لکه د يعقوب[2] او ابن محيصن[3] قراءتونه.

شاذ: هغه دي چي له دې پرته وي[4]. موږ خپل کتاب د نافع پر قراءت ٥ د دوو دليلونو په وجه بنا کړی دی:

يوه وجه يې دا ده چي دا زموږ په هيواد اندلس او نورو مغربي هيوادونو کي کارول شوی قراءت دی.

---

١ - «تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٦)

٢- دی يعقوب ابن اسحاق بن زيد بصري دی د لسو قاريانو امامانو څخه يو دی، په ٢٠٥ هـ کال کي وفات شوی. طبقات القراء السبعة: عبدالوهاب بن يوسف بن إبراهيم الشافعي : ت: ٧٨٧هـ ، احمد محمد عزور، المكتبة العصرية – بيروت ، ط: ١٤٢٣هـ : صـ ٩٩

٣- دی محمد بن عبد الرحمن دی چي په ابن محيصن معروف دی، د ابو عمرو بن علاء استاد و، په ١٣٢هـ کال کي وفات شوی. سير أعلام النبلاء:٥/ ٣٨٧ ليکنه وګوره .

٤- دلته غواړم دا واضح کړم چي عالمانو د دې خبري تصريح کړې چي هغه اوه قراءتونه په اتفاق متواتر دي او دوی دا هم ويلي: هغه درې قراءتونه چي لس بشپړوي هم د صحيح قول پر بنسټ متواتر دي او هغه نورپر دې څلورو زائد قراءتونه شاذ دي او هغه:

- د حسن بصري قراءت دی چي په ١١٠هـ کي وفات شوی.

- د يحيى بن مبارک يزيدي قراءت دی چي په ١٤٨ هـ کي وفات شوی.

- د اعمش سليمان بن مهران قراءت دی چي په ١٤٨ هـ کي وفات شوی. طبقات القراء السبعة: صـ ١٠٧ ليکنه وګوره .

دغه شاذ قراءتونه ځينو عالمانو په ځانګړي په يوه کتاب کي راوړي لکه قاضي شيخ عبد الفتاح چي څرنګه راوړي په خپل کتاب : القراءات الشاذة وتوجيها من لغة العرب، ځينو عالمانو بيا دغه له لسو قراءتونو سره يو په يوه کتاب کي يو ځای کړي لکه د ١١١٧ هـ کال وفات شوي شيخ احمد بنا دمياطي په خپل کتاب : إتحاف فضلاء البشر في القراءات الأبعة عشر. نو پر همدې اساس د ابن محيصن قراءت په مشهورو ( متواترو) قراءتونو کي شمېرل تېروتنه ده، دا متواتر نه بلکي شاذ قراءت دی، خو مؤلف (ابن جزی) دغسي کار کړی چي کله پر مشهورو قراءتونو ږغېدلی دی؛ لکه څرنګه چي به دا مسأله راشي. نشر البنود على مراقي السعود عبدالله بن إبراهيم الشنقيطي الناشر مكتبة فضالة بالمغرب: ١ / ٨٤ لومړی چاپ او منجد المقرئين صـ٩١ د ابن جزري ليکنه او غيث النفع صـ٧ د شيخ علي نوري ليکنه وګوره.

٥- دا هغه قراءت دی چي اوس د افريقا په شمال کي د ورش د قراءت په نامه يادېږي، ورش د هغو کسانو له جملې دی چي د نافع مدني څخه قراءت اخيستی دی. د دوی ژوندليکونه د کتاب په آخره کي وګوره.

دويمه وجه يې په مديني شريفې پسې اقتدا ده؛ ځکه د نافع قراءت د مديني د خلکو قراءت دی. امام مالک بن انس ويلي: د نافع قراءت سنت ( نبوي تګلاره) ده.

د نورو قراءتونو هغه برخه مو ذکر کړې چې د معنا يا اعراب يا بل څه کومه فائده په هغه کې وي، نه هغه څه چې زياتي فائده په کې نه وي. د ټولو قراءتونو له راوړلو څخه موږ ځانونه بې حاجته وګڼل ؛ ځکه چې هغه د قراءتونو اړوند ليکل شويو کتابونو کې ذکر شوي دي او موږ په دې اړه داسي کتابونه ليکلي چې الله تعالی د هغو په وجه خلکو ته ګټه رسولې ده. بله وجه دا ده چې موږ کله په دې کتاب کې د لنډيز قصد وکړ، هغه څه مو ترې حذف کړه چې اړتيا ورته نه وي او په دې مقدماتو کې مو د قراءتو د اساسي قواعدو اړوند هم يو باب ذکر کړی دی.

**وأما أحكام القرآن فهي ما ورد فيه من الأوامر والنواهي. والمسائل الفقهية. وقال بعض العلماء إن آيات الأحكام خمسمائة آية. وقد تنتهي إلى أكثر من ذلك إذا استقصى تتبعها في مواضعها. وقد صنف الناس في أحكام القرآن تصانيف كثيرة. ومن أحسن تصانيف المشارقة فيها: تأليف إسماعيل [بن إسحاق المالكي] القاضي وابن الحسن كباه «ومن أحسن تصانيف أهل الأندلس تأليف القاضي الإمام أبي بكر بن العربي والقاضي الحافظ بن محمد بن عبد المنعم بن عبد الرحيم المعروف بابن الفرس»**[1].

د قرآن احکام هغه امر، نهي او فقهي مسائل دي چې په کې راغلي دي. ځينو عالمانو ويلي: د احکامو آيتونه پنځه سوه آيتونه دي او کله تر دې ډېر هم کېدای شي چې هغه په خپلو ځايونو کې ولټول شي. خلکو د قرآن د احکامو په اړه ډېر تصنيفات ليکلي دي. د ختيځوالو تر ټولو غوره تصنيف د قاضي اسماعيل بن اسحاق مالکي[2] او ابو الحسن[3] الکيا[4] ليکني دي.

د اندلس والو تر ټولو ښه تصنيف د قاضي امام ابوبکر بن العربي[5] او قاضي حافظ بن محمد بن عبد المنعم بن عبد الرحيم مشهور په ابن الفرس[6] ليکني دي.

---

١ - «تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٧)

٢- دی ابو اسحاق اسماعيل بن اسحاق بن حماد بن زيد بن درهم جهضمی بصري مالکي دی، فقه يې له ابن معدل څخه زده کړې، له قعنبي، طيالسي ، ابن ابي شيبه او نورو څخه يې حديث اورېدلي دي. ده به ويل: زه پر خلکو په بصره کې په دوو شخصيتونو فخر کوم: په ابن معدل چې فقه را زده کوي او روضة الحفاظ هم د ابن معدل ده ، او په علي بن عبد الله مديني چې حديث را زده کوي. د نوموړي ډېر ګټور تأليفات شته. په ٢٠٢ هـ کال کې وفات شوی. الديباج المذهب : ١ / ٢٨٣ وطبقات المفسرين:محمد بن علي بن أحمد شمس الدين الداودي المالكي، ت:٩٤٥هـ، ١/١٠٦.

٣- دی ابو الحسن علي بن محمد بن علي طبري چې د عماد الدين لقب ورکول شوی او په (الکيا الهراسي) مشهور و. الأعلام للزركلي ۴ / ۳۲۹.

٤- په چاپ شوې نسخه کې همداسي دي.

٥ - دی قاضي محمد بن عبد الله بن محمد معافري اشبيلي مالکي ابو بکر بن العربي په علوم کې د بېلابېلو فنون ماهر ، په ټولو معارفو کې مخکښ، په ټولو انواعو کې څېړونکی ، په خپرولو حرص لرونکی او کتابونه يې د ده پر مقام شاهدي ورکوي. په اشبيليه کې يې د قضاء دنده پر غاړه واخيستله نو په ښه توګه يې د قضاء مسؤوليت ادا کړ او دی د حديثو له حافظانو څخه و او داسي هم ويل کېږي چې نوموړی د اجتهاد درجې ته رسېدلی و. په ۵۴۳ هـ کال کې وفات شوی. شجرة النور الزكية في طبقات المالكية:محمد بن عمر بن محمد مخلوف ت: ١٣٦٠هـ محقق: عبدالمجيد خيالي الناشر: دارالكتب العلمية لبنان ، ط: ١٤٢٤هـ: ص: ۱۳۶ وګوره .

٦- دی محمد بن عبد الرحيم بن محمد بن فرج امام قاضي ابو عبد الله نصاري خزرجي دی. د بلنسيه د قضاء دنده يې په غاړه واخيستله او دی اندلس له لحافظانو څخه و. په ۵۹۷ هـ کال کې وفات شو. سير أعلام النبلاء:محمد بن أحمد بن عثمان شمس الدين الذهبي ت: ٧٤٨هـ،محقق: شعيب الأرنؤوط ، الناشر مؤسسة الرسالة، ط:١٤٠٥هـ: ۲۱ / ۳۶۴.

**«وأما النسخ فهو يتعلق بالأحكام لأنها محل النسخ إذ لا تنسخ الأخبار ولا بد من معرفة ما وقع في القرآن من الناسخ والمنسوخ، والمحكم وهو ما لم ينسخ، وقد صنف الناس في ناسخ القرآن ومنسوخه تصانيف كثيرة وأحسنها تأليف القاضي أبي بكر بن العربي. وقد ذكرنا في هذه المقدمات بابا في قواعد النسخ، وذكر ما تقرر في القرآن من المنسوخ، وذكرنا سائره في مواضعه»**[١].

نسخ له احکامو (امر او نهي) سره تړاو لري؛ ځکه همدا د نسخ محل دی؛ ځکه په خبر کي نسخ نه واقع کېږي[٢]. په قرآن کي د واقع شوي ناسخ او منسوخ او محکم (هغه چي نه وي منسوخ شوي) پېژندل اړين دي.

خلکو د قرآن په ناسخ او منسوخ کي ډېر تصنيفات ليکلي او غوره يې د قاضي ابوبکر بن العربي ليکنه ده. په دې مقدماتو کي موږ يو باب د نسخ په قواعدو کي هم ذکر کړ او نور مسائل يې موږ په خپلو ځايونو کي ذکر کړي دي.

**وأما الحديث فيحتاج المفسر إلى روايته وحفظه لوجهين:**

**الأول: أن كثيرا من الآيات في القرآن نزلت في قوم مخصوصين ونزلت بأسباب قضايا وقعت في زمن النبي صلى الله عليه وسلم من الغزوات والنوازل والسؤالات، ولا بد من معرفة ذلك ليعلم فيمن نزلت الآية وفيما نزلت ومتى نزلت فإن الناسخ يبنى على معرفة تاريخ النزول لأن المتأخر ناسخ للمتقدم.**

**الثاني: أنه ورد عن النبي صلى الله عليه وسلم كثير من تفسير القرآن فيجب معرفته لأن قوله عليه السلام مقدم على أقوال الناس»**[٣].

د حديثو نقل او حفظ ته مفسر د دوو دليلونو په وجه اړتيا لري:

لومړی دا چي په قرآن کي ډېر آيتونه د خاص قومو په اړه نازل شوي او د داسي پېښنو په وجه نازل شوي چې د پېغمبر صلى الله عليه وسلم په زمانه کي واقع شوي چې هغه غزوات، را منځ ته شوي مسألې او پوښتني دي او د دې پېژندنه اړينه ده د دې لپاره چې معلومه شي چې دغه آيت د چا په هکله، د کوم څه په هکله[٤] او کله نازل شوی دی؟ ځکه د ناسخ پېژندل د نزول پر تاريخ پېژندني ولاړه ده؛ ځکه وروستنی د مخکيني لپاره ناسخ وي.

---

١ - «تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٧)

٢- دا خبره يې سمه ده چي اصطلاحي نسخ په اخبار کي نه واقع کېږي؛ ځکه د الله تعالى هر خبر صادق دی او د هغه ضد او نقيض او د وعدې مخالفه پرېکړه الله تعالى نه کوي ؛ قرآن کريم وايي: إِنَّ اللَّهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ (آل عمران: ٩) . يقيني خبره ده چي الله د وعدې مخالفت نه کوي. مَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ (ق:٢٩). ترجمه: زما په اند وينا نه بدلېږي.

٣ -«تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٧

٤ د سبب نزول په اړه دوې خبري زده کول په کار دي؛ يوه دا چي په صحيح سند ثابت يې ښخي لږ دي، اکثره ځايونه په صحيح سند ثبوت نه لري . دويمه خبره دا چي په صحيح سند ثابت اسباب نزول د پوهي د پراختيا لپاره تر يوه ګټور تماميږي اما حکم هيڅکله په سبب نزول پسې نه خاص کېږي؛ حنفي مذهب عالمان آيتونه په شان نزول پسې خاص نه بولي، بلکي د لفظ عموم ته اعتبار ورکوي ؛ په دغي مسألې د پوهېدو لپاره راتلونکي حوالې شته تفتازاني صيب وايي: الْعِبْرَة لِلْعُمُومَاتِ وَالْإِطْلَاقَاتِ دُونَ خُصُوصِيَّاتِ الْأَسْبَابِ وَالِاحْتِمَالَاتِ. (شرح التلويح على التوضيح: سعدالدين مسعود بن عمر التفتازاني ت: ٧٩٢هـ ، الناشر مكتبة محمد علي صبيح بالأزهر-مصر، ط:١٣٧٧هـ: الْقِسْمُ الثَّانِي مِنْ الْكِتَابِ فِي الْحُكْمِ ج ٢ ص ٩٤) ،

دويم دا چې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه د قرآن د تفسير ډېره برخه نقل شوې ده[1]؛ د هغه پيژندل هم اړين دي؛ ځکه د پيغمبر صلى الله عليه وسلم وينا د نورو خلکو تر وينا اوچته ده.

**«وأما القصص فهي من جملة العلوم التي تضمنها القرآن فلا بد من تفسيره إلا أن الضروري منه ما يتوقف التفسير عليه. وما سوى ذلك زائد مستغنى عنه وقد أكثر بعض المفسرين من حكاية القصص الصحيح وغير الصحيح. حتى أنهم ذكروا منه ما لا يجوز ذكره مما فيه تقصير بمنصب الأنبياء عليهم السلام أو حكاية ما يجب تنزيههم عنه. وأما نحن فاقتصرنا في هذا الكتاب من القصص على ما يتوقف التفسير عليه وعلى ما ورد منه في الحديث الصحيح»**[2].

قصص خو د هغو علومو له جملې دي چې قرآن يې له ځان سره لري، نو تفسير ته يې اړتيا شته، ليکن ضروري برخه يې هغه ده چې د تفسير پوهنه ورباندي موقوفه ده، له هغه پرته نور يې اضافي شيان دي اړتيا ورته نشته. ځينو مفسرينو د سمو او ناسمو قصو ګڼ حکايتونه ډېر راوړي دي آن تر دې چې داسي څه يې هم يې ذکر کړي دي چې يادول يې نه دي روا ، هغه داسي څه دي چې د پيغمبرانو عليهم السلام د منصِب (دريځ) سپکاوي په کې دی يا د داسي څه حکايت دی چې د پيغمبرانو شان له هغه څخه لري ساتل واجب وي. موږ په دې کتاب کې د قصو پر هغې برخي اقتصار کړی چې تفسير پر هغه موقوف وي او دا رنګه پر هغې برخي چې په صحيح حديث کې راغلي وي.

**وأما التصوف فله تعلق بالقرآن. لما ورد في القرآن من المعارف الإلهية ورياضة النفوس. وتنوير القلوب. وتطهيرها باكتساب الأخلاق الحميدة. واجتناب الأخلاق الذميمة. وقد تكلمت المتصوفة في تفسير القرآن. فمنهم من أحسن وأجاد. ووصل بنور بصيرته إلى دقائق المعاني. ووقف على حقيقة المراد. ومنهم من توغل في الباطنية وحمل القرآن على ما لا تقتضيه اللغة العربية وقد جمع أبو عبد الرحمن السلمي كلامهم في التفسير في كتاب سماه «الحقائق» وقال بعض العلماء: بل هي البواطل. وإذا انصفنا قلنا: فيه حقائق وبواطل. وقد ذكرنا هذا في كتاب ما يستحسن من الإشارات الصوفية. دون ما يعترض أو يقدح فيه.**

**وتكلمنا أيضا على اثني عشر مقاما من [مقامات] التصوف في مواضعها من القرآن: فتكلمنا على الشكر في أم القرآن. لما بين الحمد والشكر من الاشتراك في المعنى. وتكلمنا على التقوى في قوله تعالى في البقرة هدى للمتقين وعلى الذكر في قوله فيها فاذكروني أذكركم [البقرة: ١٥٣] وعلى الصبر في قوله تعالى: وبشر الصابرين [البقرة: ١٥٥] وعلى التوحيد في قوله فيها: وإلهكم إله واحد [البقرة: ١٦٣] وعلى محبة الله في قوله فيها: والذين آمنوا أشد حبا لله [البقرة: ١٦٥] وعلى التوكل في قوله في آل عمران: فإذا عزمت فتوكل على الله [آل عمران: ١٥٩] وعلى المراقبة في قوله في النساء: إن الله كان عليكم رقيبا [النساء: ١] وعلى الخوف والرجاء في قوله في الأعراف: وادعوه خوفا وطمعا**

١ ـ عن سالم بن عبدالله عن أبيه أن رسول الله ( ص) قال: مفاتح الغيب خمس : ( إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِ ...) البخاري, كتاب التفسير , باب و عنده مفاتح الغيب جـ ٦ صـ ٥٦ حـ ٤٦٢٧ . عن عبدالله قال لما نزلت (ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَمۡ يَلۡبِسُوٓاْ إِيمَٰنَهُم بِظُلۡمٍ ) قال أصحابه و أينا لم يظلم فنزلت :( إِنَّ ٱلشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيمٞ١٣﴾ [لقمان: ١٣] البخاري كتاب الإيمان باب ظلم دون ظلم جـ ٦ صـ ٥٦ حـ ٤٦٢٩.

٢ - «تفسير ابن جزي = التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٧)

**[الأعراف: ۵۶] وعلى التوبة في قوله في النور: وتوبوا إلى الله جميعا [النور: [31]، وعلى الإخلاص في قوله في لم يكن: وما أمروا إلا ليعبدوا الله مخلصين له الدين [البينة: ۴]»**[۱].

تصوف هم له قرآن سره تړاو لري د هغه څه په وجه چې په قرآن راغلي چې هغه الهي معارف، د ښو اخلاقو په خپلولو او له بدو څخه په پرهېز د نفس رياضت، د زړونو روښانه کول او پاکول دي. صوفيان هم د قرآن په تفسير کې ړغېدلي دي، نو ځينو ښې خبرې کړي ، سمه لاره يې خپله کړې او د خپلې پوهې په رڼا سره نريو معانيو ته رسېدلي، د مطلب په حقيقت پوه شوي او ځينو يې بيا د باطنيه[۲] وو پرتګلاره په تلو کې ډېر افراط کړى او قرآن يې پر داسې معناوو اړولى چې عربي ژبه يې نه مني. ابوعبد الرحمن سُلَمي[۳] په تفسير کې د دوى خبرې په يو کتاب کې جمع کړې چې «الحقائق» نوم يې پر ايښى دى. ځينو عالمانو ويلي: دا کتاب «حقائق» نه ، بلکې «بواطل :باطلې خبرې» دي. چې کله انصاف وکړو وايو: په دې کې حق او باطلې خبرې شته.

موږ په دې کتاب کې د صوفي اشاراتو هغه څه ذکر کړي چې ښه ګڼل کېږي، نه هغه چې نيوکه پر کېږي يا عيب ورباندې لګول کېږي. د تصوف پر دوولسو مقاماتو[٤] په قرآن کې د هغو په خپلو ځايونو کې ړغېدلي يو: پر شکر د الحمد لله په تفسير کې وړغېدلو په دا وجه چې د حمد او شکر ترمنځ په معنا کې اشتراک شته. پر تقوا په سورة البقرة کې د {هُدىً لِلْمُتَّقِينَ} (سورة البقرة: ۲) په تفسير کې، پر ذکر د {فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ} سورة [البقرة: ۱۵۳] په تفسير کې، پر صبر د {وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ} [البقرة: ۱۵۵] په تفسير کې او پر توحيد د {وَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ واحِدٌ} [البقرة : ۱۶۳] په تفسير کې، له الله تعالى سره پر مينه د {وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِلَّهِ} [البقرة: ۱۶۵] په تفسير کې، پر تَوَکُّل د {فَإِذا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ} [آل عمران: ۱۵۹] په تفسير کې، پر مراقبه د {إِنَّ اللَّهَ كانَ عَلَيْكُمْ رَقِيباً} [النساء: ۱] په تفسير کې، پر خوف او رجاء ، وېره او هيله د {وَادْعُوهُ خَوْفاً وَطَمَعاً} [الأعراف: ۵۶] په تفسير

۱ -«تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (۱/ ۱۸)

۲- باطنيه په اصل کې د شيعه ګانو يوه څانګه ده چې اسماعيليه، قرامطه او آغاخانيه هم ورته ويل کېږي. دوى باطنيه ځکه ويل کېږي چې وايي: د قرآن هره کلمه باطني (پټې) معناوې لري؛ جعفري شيعه ملا سيد محمد حسين طباطبائي د دوى په کله ويلي: اسماعيليه به طور کلى فلسفه اى دارند شبيه به فلسفه ستاره پرستان که با عرفان هندى آميخته مى باشد و در معارف و احکام اسلام براى هر ظاهرى ، باطنى و براى هر تنزيلى ، تأويلى قائلند ... ابوطاهر قرمطى يکى از سران باطنيه که در سال ۳۱۱ بصره را مسخر ساخته و از کشتار و تاراج اموال مردم فروگذارى نکرد و در سال ۳۱۷ با گروه انبوهى از باطنيه در موسم حج عازم مکه گرديد و پس از در هم شکستن مقاومت مختصر دولتيان ، وارد شهر مکه شد و مردم شهر و حجاج تازه وارد را قتل عام نمود و حتى در مسجدالحرام و داخل کعبه جوى خون روان ساخت. پيراهن کعبه را در ميان ياران خود قسمت نمود و درِ کعبه را کند و حجرالا سود را از جاى خود درآورده به يمن برد که مدت ۲۲ سال پيش قرامطه بود. **در اثر** اين اعمال بود که عامه مسلمين از باطنيه برائت کرده آنان را خارج از آيين اسلام شمردند**.** (شيعه در اسلام :جـ ۱صـ ۲۲ د سيد محمد حسين طباطائى ليکنه) الکترونيکي نسخه.

۳- دى محمد بن حسن بن محمد بن موسى ازدي ابو عبد الرحمن سلمي نيشاپوري د صوفيانو له عالمانو څخه دى. امام ذهبي ويلي: د صوفيانو شيخ، د دوى د تاريخ، طبقاتو او تفسير حښتن دى، ويل شوي چې نوموړي د صوفيانو په ګټه له ځانه احاديث جوړول، تصانيف يې سل يا تر زياتو ته رسېدلي، له هغې جملې دى: حقائق التفسير، طبقات الصوفية ، منهج العارفين او نور. په ۴۱۱ هـ کال کې وفات شوى دى.

٤ ـ لکه څنګه چې ابن جزى دولس مقامات سره له دلايلو ذکر کړى ، همدا رنګه اهل تصوف دغه مقامات په مختلفو کتابونو کى ليکلي لدې ډلې د څلورمې پېړى يو کتاب د يادونې وړ دى: التعرف لمذهب آهل التصوف ، پدې کتاب کې مقامات پدې ډول ذکر شوي: ۱- التوبه ۲- الزهد ۳- الصبر ۴ - الفقر ۵- التواضع ۶- الخوف ۷- التقوى ۸- اِلإخلاص ۹- الشکر ۱۰- التوکل ۱۱-الرضا ۱۲- اليقين ۱۳- القرب ۱۴- المحبه ۱۵-التجريد ۱۶- الوجد ،
التعرف لمذهب اهل التصوف :ابوبکر محمد بن ابى اسحاق بن ابراهيم الکلاباذى البخارى الحنفى ت: ۳۸۰هـ , ط: دارالکتب العلمية – بيروت , المکتبة الشاملة ۱٤۳۱هـ .

کې، پر توبه د {وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعاً} [النور: ٣١] په تفسير کې او پر اخلاص د {وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ} [البينة: ۴] په تفسير کې.

**«وأما أصول الدين فيتعلق بالقرآن من طرفين: أحدهما: ما ورد في القرآن من إثبات العقائد وإقامة البراهين عليها. والرد على أصناف الكفار. والآخر: أن الطوائف المختلفة من المسلمين تعلقوا بالقرآن وكل طائفة منهم تحتج لمذهبها بالقرآن وترد على من خالفها.**

**وتزعم أنه خالف القرآن. ولا شك أن منهم المحق والمبطل. فمعرفة تفسير القرآن أن توصل في ذلك إلى التحقيق مع التشديد والتأييد من الله والتوفيق»**[1].

اصول الدين (عقائد) له قرآن سره له دوه اړخونو تړاو لري:

يو هغه د عقائدو اثبات، د هغو لپاره دلائل راوړل او د کافرانو پر بېلابېلو ډلو ردونه چې په قرآن کې راغلي دي.

بل دا چې د مسلمانانو مختلفو ډلو په قرآن پسې لاس نيولی، هره ډله يې د خپل مذهب د اثبات لپاره په قرآن دليل نيسي ، پر خپل مخالف رد کوي او دا دعوه کوي چې ده له قرآنه مخالفت کړی دی. په دې کې شک نشته په چې دغو ډلو کې حقپلوي هم شته او باطلپال هم شته. نو د قرآن د تفسير پېژندنه په دې اړه حق موندنې ته انسان رسوي له کلکوالي او د الله د خوا له مرستې او توفيق سره.

**«وأما أصول الفقه فإنها من أدوات تفسير القرآن. على أن كثيرا من المفسرين لم يشتغلوا بها. وإنها لنعم العون على فهم المعاني وترجيح الأقوال. وما أحوج المفسر إلى معرفة النص. والظاهر. والمجمل. والمبين. والعام. والخاص. والمطلق. والمقيد.**

**وفحوى الخطاب. ولحن الخطاب. ودليل الخطاب. وشروط النسخ. ووجوه التعارض. وأسباب الخلاف. وغير ذلك من علم الأصول»**[2].

اصول الفقه د قرآن له اسبابو او وسائلو له څخه دې، سره له دې چې ډېرو مفسرينو اړيکه نه ده ورسره نيولې په داسې حال کې چې د معناوو په پوهنه او د اقولو ترمنځ په

---

١ -«تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٨)
٢- تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٨)

ترجيح كي دا علم ډېر ښه مرستندوی دی او مفسر د نص١، ظاهر٢، مجمل٣، مبين٤، عام٥، خاص٦، مطلق٧، مقيد٨، فحوى الخطاب٩، لحن الخطاب١٠، دليل الخطاب١١، وشروط النسخ ، ووجوه التعارض، اسباب الخلاف او داسي نور د اصولو علم پېژندني ته څومره ډېره اړتيا لري؟

**وأما اللغة فلا بد للمفسر من حفظ ما ورد في القرآن منها. وهي غريب القرآن وهي من فنون التفسير. وقد صنف الناس في غريب القرآن تصانيف كثيرة. وقد ذكرنا بعد هذه**

---

١ نص: هغه دی چي لفظ دلالت وربانديـ كوي او د بل څه احتمال نه لري. ځينو عالمانو پر مخكښي تېر شوی او پر ظاهر دواړو اطلاق كوي. نشر البنود على المراقي ، عبدالله بن إبراهيم المعروف بابن الهائم ، تحقيق : صاحي عبدالباقي الشنقيطي ، ط: مطبعة الفضالة بالمغرب: ١ / ٢٧٣.

٢ ظاهر هغه دی چي اورېدونكي ته يې مراد له خپله صيغې څخه ظاهرېږي او د تأويل احتمال په كي وي. تعريفات ص: ١٨٥ ونشر البنود: ١ / ٢٧۴. نشر البنود على مراقي السعود: عبد الله بن إبراهيم العلوي الشنقيطي: الداي ولد سيدي بابا - أحمد رمزيالناشر: مطبعة فضالة بالمغرب.

٣ مجمل هغه دی چي دلالت يې واضح نه وي، تعريف يې داسي دی: مجمل هغه دی چي مراد يې له لفظه نه فهمول كېږي او په بيان كي يې بل څه ته اړتيا لري. نشر البنود: ١ / ٧٠١.

٤ مبين هغه دای چي خپله معنا يې څرګنده كړې وي يا په خپل لفظ يا په ضميمه شوي دليل چي بيان يې كوي. داسي تعريف يې هم شوی چي مبين داسي لفظ دی چي پر خپله معنى دلالت كوي يا په اصلي ډول يا له بيان وروسته. تقريب الوصول إلى علم الأصول:أبوالقاسم محمد بن أحمد بن جزي الكلبي الغرناطي المالكي ،ت:٧٤١هـ ،محقق: محمد حسن محمد حسن ، دارالكتب العلمية بيروت – لبنان ، ١٤٢٤هـ : صـ١٦٣ ، نشر البنود: ١/ ٧١٢ او شرح تنقيح الفصول أبوالعباس شهاب الدين أحمد بن إدريس القرافي ، ت:٦٨٤هـ، محقق: طه عبدالرؤوف سعد ، الناشر:شركة الطباعة الفنية المتحدة ، ط: ١٣٩٣هـ: صـ٢٧۴.

٥ عام داسي لفظ دی چي هغه معنا يو ځلي له حصر پرته رانغاړي چي دی ورته د شاملېدلو صلاحيت لري. نشر البنود: ١ / ٥١٣ اوالتعريفات: علي بن محمد بن علي الجرجاني ت: ٨١٦هـ محقق: جماعة من العلماء ، الناشر:دارالكتب العلمية بيروت – لبنان ، ط:١٤٠٣هـ: صـ١٨٨. او اصول السرخسي جـ ١ صـ ١٢٥ .

٦ خاص هر هغه لفظ دی چي د معلومي معنا لپاره په انفرادي ډول وضع شوی وي. أصول السرخسي جـ ١ صـ ١٢٤ أبوبكر محمد بن أحمد السرخسي ( ت:٤٨٣) تحقيق: أبوالوفاء الأفغاني ط:لجنة إحياء المعارف النعمانية حيدر آباد – الهند .

٧- مطلق هغه دی چي پر يو غير معين شي دلالت كوي.بذل النظر في الأصول : صـ ٢٦٠ محمد بن عبدالحميد الأسمندي (ت: ٥٥٢) تحقيق: د.محمد زكي عبدالبر، الناشر:مكتبة التراث القاهرة ط: ١٤١٢هـ .

٨- مقيد هغه دی چي د ځينو صفاتو په وجه يې قيد ورته لګول شوی وي. نشر البنود: ١/ ۶٨٧.

٩- فحوى الخطاب ته تنبيه الخطاب او مفهوم موافقه هم ويل كېږي. نشر البنود: ١/ ۶٨٧ وګوره.

١٠- لحن الخطاب د كلام هغه حذف شوې برخه ده چي له هغه پرته معنا نه سمېږي. تقريب الوصول صـ١۶٧ اوشرح تنقيح الفصول صـ ۴٣٨وګوره. د مراقي ليكوال ذكر كړي چي لحن الخطاب د مفهوم موافقه يو قسم دی ؛ ځكه ده ويلي: وقيل ذا فحوى الخطاب والذي ساوى بلحنه دعاه المحتذي.

زموږ مشر عبد الله بن الحاج ابراهيم علوي شنقيطي په نشر البنود كي ويلي: د دې بيت مطلب دا چي ځينو مفهوم موافقه دوه ډوله ته وېشلی :

يو يې فحوى الخطاب دی او دا هغه دی چي په كې د ياد حكم لپاره تر ذكر شوي شي هغه برخه ډېره وړ ده چي سكوت وربانديـ شوی.

بل يې دليل الخطاب دی او دا هغه دی چي په كې د ياد حكم لپاره له له ذكر شوي برخي سره هغه برخه برابره وي چي سكوت وربانديـ شوی ١ / ٢٩٢

١١- دليل الخطاب همغه مفهوم مخالف دی او د ذكر د حكم نقيض هغه څه ته ثابتول دي چي سكوت وربانديـ شوی دی. تقريب الوصول صـ١۶٩ وګوره.

د نور تفصيل لپاره معجم لغة الفقهاء: محمد رواس قلعجي ، الناشر:دارالنفائس للطباعة ، ط: ١٤٠٨هـ: (ص: ۶٨) د محمد رواس قلعجي - حامد صادق قنيبي ليكنه او معجم مصطلح الأصول ص: ٣١۴ د هيثم هلال ليكنه وګوره.

**المقدمة: مقدمة في اللغات الكثيرة الدوران في القرآن. لئلا نحتاج أن نذكرها حيث وقعت فيطول الكتاب بكثرة تكرارها»**[1].

د لغت د هغې برخې حفظ کول مفسر ته اړين دي چې په قرآن کې راغلي دي، کوم چې غريب القرآن ورته ويل کيږي او دا د تفسير له علومو څخه دي. خلکو په غريب القرآن کي ډېر تصنيفات [2]ليکلي دي. موږ له دغي مقدمې وروسته يو بله مقدمه د هغو لغاتو په اړه ذکر کړې چې په قرآن کې ډېر کاريږي؛ دا په دې خاطر چې بيا يې په هر ځای کي له مختصه راتلو سره يادوني ته اړتيا پيدا نکړو چې کتاب يې په ډېر بياځلي يادولو سره اوږديږي.

**وأما النحو فلا بد للمفسر من معرفته. فإن القرآن نزل بلسان العرب فيحتاج إلى معرفة اللسان. والنحو ينقسم إلى قسمين: أحدهما: عوامل الإعراب. وهي أحكام الكلام المركب. والآخر: التصريف وهي أحكام الكلمات من قبل تركيبها. وقد ذكرنا في هذا الكتاب من إعراب القرآن ما يحتاج إليه من المشكل والمختلف. أو ما يفيد فهم المعنى. أو ما يختلف المعنى باختلافه ولم نتعرض لما سوى ذلك من الإعراب السهل الذي لا يحتاج إليه إلا المبتدئ فإن ذلك يطول بغير فائدة كبيرة»**[3].

د نحو پېژندل مفسر ته اړين دي؛ ځکه قرآن د عربو په ژبه نازل شوی دی نو دی هم د دې ژبې پېژندني ته اړتيا لري[4]. نحو دوو برخو ته وېشل کيږي، يو يې د اعراب (وروستي تغيراتو ) عوامل دي او دا د مرکب کلام (جملې ) احکام دي، بل يې صرف دی او دا د جملې په ترکيب کې تر واقع کېدو مخکې د کلماتو د انفرادي (يوازيني) حالت احکام دي. په دې موږ په دې کتاب کې د قرآن کريم د إعراب[5] هغه برخه بيان کړې چې مشکل يا اختلافي وي يا د معنا په فهم کې مرسته کوي او يا يې د اختلاف په وجه معنا بدلون مومي. له دې پرته مو د إعراب هغه آسانه برخې نه دي سپړلي چې له ابتدائي شاګرد پرته بل څوک اړتيا نه ورته لري؛ ځکه دا له کومې لويې فايدې پرته بحث اوږدوي.

وأما علم البيان: فهو علم شريف تظهر به فصاحة القرآن. وقد ذكرنا منه في هذا الكتاب فوائد فائقة. ونكات مستحسنة رائقة. وجعلنا في المقدمات بابا في أدوات البيان ليفهم به ما يرد منها مفرقا في مواضعه من القرآن»[6].

علم بيان (معاني) ښه علم دی ، په مرسته يې د قرآن فصاحت څرګنديږي، له دې علمه مو په دغه کتاب کې لوړ ارزښته فائدې او ښايسته ځلاندې نُکتې ذکر کړي دي. په مقدماتو

---

١ - «تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٨)

٢ - التبيان في تفسير غريب القرآن: شهاب الدين أحمد بن محمد ، دار الغرب الإسلامي ٢٠٠٣م ، الترجمان عن غريب القرآن :تاج الدين أبي المحاسن عبدالباقي بن عبدالمجيد ، مكتبة البيان ، ط: ١٩٩٨م ، المفردات في غريب القرآن : أبوالقاسم الحسين بن محمد المعروف بـ الراغب الأصفهاني ، ط: مكتبة بزار مصطفى الباز .

٣ - «تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٨)

٤- د نحو او عربي ژبې هغې برخه زده کول فرض کفايي ده چې د قرآن او حديثو زدکړه وربانډې موقوفه وي، ټوله عربي زده کول نه ده اړينه. په دې اړه د «تطبيق القواعد النحوية على النصوص القرآنية : استاذ محسن حنيف، الناشر:وزارة الحج والأوقاف الأفغانية ط: ١٤٢٢هـ » د اول ټوک سريزه اول او دويم مخ وګوره.

٥- اعراب په عربي نحو کي په دوه معناوو کاريږي، يوه د کلماتو د آخر تغيرات ، يعني د مبني مقابل، دويم يوه جملې يا يې بعضې کلمات يې د نحوي قواعدو مطابق سپړل چې زموږ په عجمو سيمو کي ترکيب ورته ويل کيږي. دلته مفسر مطلب دغه دويمه معنى ده. د اعراب د اقسامو تفصيلي پېژندني لپاره «تطبيق القواعد النحوية على النصوص القرآنية» جـ٢ صـ٤٠٢ وګوره.

٦ - «تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٨)

کې مو يو باب د علم بيان د اسبابو او طريقو په اړه هم ذکر کړی د دې لپاره چې په اړه يې کوم څه بېل بېل په نورو ځايونو کي واردېږي هغه زده شي.

**الباب الخامس**

**في أسباب الخلاف بين المفسرين. والوجوه التي يرجح بها بين أقوالهم**

**فأما أسباب الخلاف فهي اثنا عشر:**

الأول: اختلاف القرآن.

الثاني: اختلاف وجوهالإعراب وإن اتفقت القراءات.

الثالث: اختلاف اللغويين في معنى الكلمة.

الرابع: اشتراك اللفظ بين معنيين فأكثر.

الخامس: احتمال العموم والخصوص.

السادس: احتمال الإطلاق أو التقييد.

السابع: احتمال الحقيقة أو المجاز.

الثامن: احتمال الإضمار أو الاستقلال.

التاسع:احتمال الكلمة زائدة.

العاشر: احتمال حمل الكلام على الترتيب وعلى التقديم والتأخير.

الحادي عشر: احتمال أن يكون الحكم منسوخا أو محكما.

الثاني عشر: اختلاف الرواية في التفسير عن النبي صلى الله عليه واله وسلم وعن السلف رضي الله عنهم»[1].

**درېيم مبحث**

**د مفسرينو د اختلاف اسباب او د هغو بيان**

**لمړی مطلب: د مقدمی پنځم باب د مفسرينو ترمنځ د اختلاف اسباب**

**د مفسرينو ترمنځ د اختلاف اسباب دوولس دي:**

اول د قراءتونو اختلاف[2].

دويم: د اعراب (ترکيب او جمله جوړوني) اختلاف، که څه هم قراءتونه سره متفق وي[3].

---

١ - «تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٩)

٢ مثال يې په دغه آيت کي دی: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ... (المائدة: ٦) دلته په مصحف کي (أَرْجُلَكُمْ) په نصب (د لام په زور) دی چي د پښو د وينځلو حکم ثابتوي او يو بل قراءت يې د لام په جر (زېر) راغلی دی چي پر پښو د مسح قائلينو لاس پسې تينګ کړی .

٣ مثال يې: وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ (آل عمران: ٧) دلته د اعراب (جمله جوړوني) په بيان کي اختلاف دی: يو قول دا دی چي (الرَّاسِخُونَ ) پر مفرغه مستثنی (الله) معطوف دی چي د (يَعْلَمُ) فاعل واقع شوی او وروسته جمله (يقولون...) له معطوف (الراسخون) څخه حال دی. دويم قول دا چي (الراسخون) مبتدأ او وروسته جمله (يقُولُونَ...) يې خبر دی. د اول اعراب يا ترکيب پر اساس بايد (الراسخون = په علم کي پاخه کسان) هم د متشابه په تأويل وپوهېږي او د دويم اعراب يا ترکيب پر اساس بايد د متشابه په علم پوهېدل يوازي الله ته ځانګړی کېږي.

درېيم د كلمې په معنا كي د ژبپوهانو اختلاف[١].
څلورم د دوو يا ډېرو معناګانو ترمنځ د يو لفظ اشتراک[٢].
پنځم د عموم او خصوص احتمال[٣].
شپږم د اطلاق او تقييد احتمال[٤].
اوم د حقيقت او مجاز احتمال[٥].
اتم په كلام كي د تقدير او بشپړتيا (عدم تقدير) احتمال[٦].
نهم د كلمې د زياتوالي احتمال[٧].
لسم په كلام كي د ترتيب او تقديم او تأخير احتمال[٨].

---

١ لكه په سورة البقرة: ٢٢٨ كي د قُروء لفظ چي د طهر او حيض ترمنځ مشترک دی، يا لكه ځيني حروف جاره: باء، (مِن) او (الی).

٢ مثال يې په سورة التكوير: ١٧ كي د (عسعس) كلمه چي آيا دا د تيارې د تګ په معنی ده او كه يې د راتګ په معنی ده؟ ليكن اول معنا يې هم په ورپسې آيت (وَالصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ) كي تأييد لري او هم په نورو ځايونو كي لكه دا آيت: (وَاللَّيْلِ إِذْ أَدْبَرَ وَالصُّبْحِ إِذَا أَسْفَرَ) (المدثر: ٣٣ ـ ٣٤) .

٣ مثال يې دا آيت {وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ} [البقرة: ٢٣٣]، د (الوالدات) هري مور ته شامل دی، خو امام مالک د عرف او دود په وجه د نازولي كورنۍ ښځي له دې حكمه استثناء كړي ، دا عام يې حكم يې عادي ښځو ته خاص كړی (الوجيز في أصول الفقه الإسلامي: ٢/ ٦٤ د دكتور محمد مصطفی زحيلي ليكنه وګوره). و {لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ} [النساء: ٧]، د (الوالدان) لفظ هر پلار او مور ته شامل دی، ليكن د سورة الانفال ٧٢ شمېر آيت او دې ته ورته نورو نصوصو په وجه هغه مور او پلار ته خاص شوی چي په دين كي له اولاد سره موافق وي.

٤ مثال يې دا چي د ظهار په كفاره كي قرآن كريم مريی مطلق ذكر كړی {فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا} [المجادلة: ٣] د ايمان قيد يې نه دی ورسره شرط كړی. خو په بل حكم كي چي د قتل خطأ كفار ده، د ايمان قيد ورسره ذكر شوی {فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ} [النساء: ٩٢]. نو دلته احناف او اكثر مالكيان وايي: په اول حكم كي همغسي مطلق مريی آزادول كفايت كوي ؛ ځكه د هغه حكم له دويم ځايه بېل دی او شافعيان د دويم آيت په وجه په اول ځای كي هم د ايمان قيد ورسره لګوي (الوجيز في أصول الفقه الإسلامي: دكتور: مصطفی الزحيلي ، الناشر: دار الخير دمشق ، ط:١٤٢٧هـ: (٢/ ٤٦ ) ليكنه دي وكتل شي) .

٥ مثال يې دا آيتونه دي: إِذَا رَأَتْهُمْ مِنْ مَكَانٍ بَعِيدٍ سَمِعُوا لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا (الفرقان: ١٢) يَوْمَ نَقُولُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَأْتِ وَتَقُولُ هَلْ مِنْ مَزِيدٍ (ق: ٣٠) په اول آيت كي دوزخ ته دليد نسبت او دويم كي د قول نسبت د حقيقت او مجازل احتمال لري، مجاز يې داسي چي د ليدلو قابل واتن ته دوی ورسېږي، له قول څخه يې د لسان حال بيان مراد وي.

٦ مثال: يې قُلْ أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَادَةً قُلِ اللَّهُ شَهِيدٌ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ (الأنعام: ١٩) د تقدير مثال يې دا چي د (الله ) لفظ مبتدأ محذوف خبر او شهيد بيا د بلي مبتدأ محذوف خبر وګڼل؛ هو الله، هو شهيد. تر هر څه ستر شاهد الله دی. دی زموږ او ستاسو ترمنځ شاهدی دی. د استقلال مثال يې داسي چي (الله) مبتدأ، (شهيد) يې خبر شي. يعني الله زموږ او ستاسو ترمنځ شاهد دی. دغه ښه اصل دی خو له بده مرغه په ځينو مهمو ځايونو كي له دليل پرته له پامه غورځول شوی دی؛ د مثال په توګه : {فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِنْ أَثَرِ الرَّسُولِ} (طه: ٩٦) په همدې (التسهيل لعلوم التنزيل: ٢/ ١٣) كي وګوره او بيا پر همدې آيت التفسير الكبير( مفاتيح الغيب) أبوعبدالله محمد بن عمر فخرالدين الرازي ت: ٦٠٦هـ ، الناشر: دارإحياء التراث العربي بيروت ،ط:١٤٢٠هـ:(٢٢/ ٩٥) او (محاسن التأويل : محمد جمال الدين القاسمي ت:١٣٣٢هـ ط: ١٤١٨هـ: ٧/ ١٤٤) د جمال الدين القاسمي وګوره.

٧ د زائد اصطلاح په دوه ډوله كاريږي: يو زائد د معنا په لحاظ وي چي په كلام كي هيڅ اړتيا د معنا په لحاظ ورته نه وي. دغه ډول زائد په قرآن كريم كي څوک نه مني. دويم داسي كلمه چي د اعراب (نحوي تركيب) په لحاظ زائده بلل كيږي خو په معنا كي زائده نه وي ، بلكي اړتيا ورته وي؛ لكه په سورة فاطر: ٣ كي په (هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللَّهِ ) كي چي د مِن لفظ پر متبدأ داخل شوی او په سورة النساء: ٧٩ { وكفى بالله شهيدا } باء الجر پر فاعل داخل شوې ده. خو دې ته هم ډېر عالمان د زائد اصطلاح نه كاروي، بلكي توكيدي كلمه ورته وايي؛ ځكه په معنا كي تأكيد راولي. د تفصيل لپاره تطبيق القواعد النحوية ٢ / ٤٠٧ ــ ٤٠٩ ليكنه وګوره.

٨ مثال يې: {وَقَالَ رَجُلٌ مُؤْمِنٌ مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ إِيمَانَهُ} [غافر: ٢٨] ابن جزی رحمه الله ويلي: {مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ} د «رجل» لپاره صفت دی، داسي هم ويل شوی چي ياد شخص لبني اسرائيلو و، بناء بر دغه وينا {مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ} ، د « رجل» لپاره صفت نه دی، بلكي د {يَكْتُمُ إِيمَانَهُ} متعلق دی وربandي مقدم شوی دی، يعني له فرعونيانو يې خپل ايمان پټاوه. وروسته يې ويل: اول قول صحيح دی؛ ځكه يو خو په هغه كي تقديم او تأخير ته اړتيا نه ليدل كيږي او بله وجه يې

يوولسم د دې احتمال چې حکم منسوخ يا محکم (غير منسوخ) وي[1].

دولسم په تفسير کې له نبي عليه السلام او له سلفو څخه د راغلي روايتونو ترمنځ اختلاف[2].

**وأما وجوه الترجيح فهي اثنا عشر:**

الأول: تفسير بعض القرآن ببعض: فإذا دل موضع من القرآن على المراد بموضع آخر حملناه عليه، ورجحنا القول بذلك على غيره من الأقوال.

الثاني: حديث النبي صلى الله عليه وسلم: فإذا ورد عنه عليه السلام تفسير شيء من القرآن عولنا عليه. لا سيما إن ورد في الحديث الصحيح.

الثالث: أن يكون القول قول الجمهور وأكثر المفسرين: فإن كثرة القائلين بالقول يقتضي ترجيحه.

الرابع: أن يكون القول قول من يقتدى به من الصحابة كالخلفاء الأربعة، وعبد الله بن عباس: لقول رسول الله صلى الله عليه وسلم: «اللهم فقهه في الدين وعلمه التأويل».

الخامس: أن يدل على صحة القول كلام العرب من اللغة والإعراب أو التصريف أو الاشتقاق.

السادس: أن يشهد بصحة القول سياق الكلام ويدل عليه ما قبله أو ما بعده.

السابع: أن يكون ذلك المعنى المتبادر إلى الذهن فإن ذلك دليل على ظهوره ورجحانه.

---

دا ده چي ياد شخص ويلي: {فَمَنْ يَنْصُرُنَا مِنْ بَاسِ اللَّهِ} [غافر: ٢٩] يعني بيا موږ د الله له عذابه څوک ژغوري؛ ځکه دا خو د يو زړه سواندي خپلوۍپالونکي شخص وينا ده او بني اسرائيل خو په هغه وخت کې داسي خوار بې ارزښته وو چي هيڅ يوه يې داسي خبره نه شوه کولای (التسهيل لعلوم التنزيل: ٢/ ٢٣٠). دلته ابن جزی رحمة الله عليه دې خبري ته ترجيح ورکوي چي دغه مؤمن سړی د فرعون له کورنۍ دی او له بني اسرائيلو څخه نه دی؛ ځکه اصل په کلام کي دا دي چي په ترتيب وي او تقديم او تأخير هغه منل کېدای شي چي له هغه پرته نه پامول کېږي. کوم څه چي ابن جزی رحمة الله عليه راجح بللي دي، نحوي کتابونو هم دغه خبره تأييد کړې ده؛ په دې اړه د تفصيل لپاره د نعت بحث (تطبيق القواعد النحوية: ٢ / ٧٠) کي وګورئ .

١ د نسخ د احتمال لپاره مثال دغه آيت دی چي وايي: {وَأَنْ لَيْسَ لِلإِنْسَانِ إِلاَّ مَا سَعَى} [النجم: ٣٩] . اين جزی رحمه الله يې په تفسير کي ويلي: دلته سعي د عمل په معنا ده او ظاهر يې دا ده چي هيڅوک د بل چا له عمله ګټه نه شي اخيستلای او دا د امام مالک لپاره دليل دی پر دې خبره چي هيڅوک د خپل قريب له ځای روژه نه شي نيولای چي کله هغه په داسي حال کي ومري چي روژه ورباندي وي.

داسي هم ويل شوي چي دغه آيت منسوخه شوی په دې بل آيت چي وايي: {وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ} [الطور: ٢١] . خو صحيح دا ده چي دا منسوخ نه دی؛ ځکه دا خبر دی او خبر نه منسوخ کېږي. (التسهيل لعلوم التنزيل: ٢/ ٣٢٠ وګوره) دا خبره يې سمه ده چي اصطلاحي نسخ په اخبار کي نه واقع کېږي؛ ځکه د الله تعالى هر خبر صادق دی او د هغه ضد او نقيض او د وعدې مخالفه پرېکړه الله تعالى نه کوي ؛ قرآن کريم وايي: إِنَّ اللَّهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ (آل عمران: ٩) . يقيني خبره ده چي الله د وعدې مخالفت نه کوي . مَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ (ق:٢٩). ترجمه: زما په اند وينا نه بدلېږي . د نسخ په اړه نور تفصيل وروسته را روان دی.

٢ د دې مثال د اسراء او معراج په اړه راغلي روايات دي چي آيا دا په وېښه و او که په خوب کي؟ عَنْ شَرِيكِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّهُ قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يَقُولُ: " لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَسْجِدِ الكَعْبَةِ، أَنَّهُ جَاءَهُ ثَلاَثَةُ نَفَرٍ قَبْلَ أَنْ يُوحَى إِلَيْهِ وَهُوَ نَائِمٌ فِي المَسْجِدِ الحَرَامِ، فَقَالَ أَوَّلُهُمْ: أَيُّهُمْ هُوَ؟ فَقَالَ أَوْسَطُهُمْ: هُوَ خَيْرُهُمْ، فَقَالَ آخِرُهُمْ: خُذُوا خَيْرَهُمْ، فَكَانَتْ تِلْكَ اللَّيْلَةَ، فَلَمْ يَرَهُمْ حَتَّى أَتَوْهُ لَيْلَةً أُخْرَى، فِيمَا يَرَى قَلْبُهُ، وَتَنَامُ عَيْنُهُ وَلاَ يَنَامُ قَلْبُهُ، وَكَذَلِكَ الأَنْبِيَاءُ تَنَامُ أَعْيُنُهُمْ وَلاَ تَنَامُ قُلُوبُهُمْ، فَلَمْ يُكَلِّمُوهُ حَتَّى احْتَمَلُوهُ، فَوَضَعُوهُ عِنْدَ بِئْرِ زَمْزَمَ، فَتَوَلَّاهُ مِنْهُمْ جِبْرِيلُ، فَشَقَّ جِبْرِيلُ مَا بَيْنَ نَحْرِهِ إِلَى لَبَّتِهِ حَتَّى فَرَغَ مِنْ صَدْرِهِ وَجَوْفِهِ، فَغَسَلَهُ مِنْ مَاءِ زَمْزَمَ بِيَدِهِ، حَتَّى أَنْقَى جَوْفَهُ، ثُمَّ أُتِيَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ فِيهِ تَوْرٌ مِنْ ذَهَبٍ، مَحْشُوًّا إِيمَانًا وَحِكْمَةً، فَحَشَا بِهِ صَدْرَهُ وَلَغَادِيدَهُ - يَعْنِي عُرُوقَ حَلْقِهِ - ثُمَّ أَطْبَقَهُ ثُمَّ عَرَجَ بِهِ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا...
قَالَ: فَاهْبِطْ بِاسْمِ اللَّهِ قَالَ: وَاسْتَيْقَظَ وَهُوَ فِي مَسْجِدِ الحَرَامِ " (صحيح البخاري: ٧٥١٧ ومثله في صحيح مسلم: ٢٦٢) . د دې مقابل روايت خو معلوم دي چي پر وېښو دلالت کوي .

الثامن: تقديم الحقيقة على المجاز. فإن الحقيقة أولى أن يحمل عليها اللفظ عند الأصوليين. وقد يترجح المجاز إذا كثر استعماله حتى يكون أغلب استعمالا من الحقيقة ويسمى مجازا راجحا والحقيقة مرجوحة. وقد اختلف العلماء أيهما يقدم: فمذهب أبي حنيفة تقديم الحقيقة لأنها الأصل ومذهب أبي يوسف تقديم المجاز الراجح لرجحانه. وقد يكون المجاز أفصح وأبرع فيكون أرجح.

التاسع: تقديم العمومي على الخصوصي فإن العمومي أولى لأنه الأصل إلا أن يدل دليل على التخصيص.

العاشر: تقديم الإطلاق على التقييد، إلا أن يدل دليل على التقييد.

الحادي عشر: تقديم الاستقلال على الإضمار إلا أن يدل دليل على الإضمار.

الثاني عشر: حمل الكلام على ترتيبه إلا أن يدل دليل على التقديم والتأخير[١].

**د تفسیرونو ترمنځ د ترجیح وجوهات هم دوولس دي:**

اول د قرآن ځیني برخې په ځینو تفسیرول، چې کله د قرآن یو ځای د بل ځای مراد او مقصد بیان کړي موږ همغه معنا ترې اخلو او په دې سره دغه قول پر نورو غوره کوو[٢].

دویم د پیغمبر صلی الله علیه وسلم حدیث دی. نو چې کله پیغمبر علیه الصلاة والسلام څخه د قرآن کوم تفسیر راشي موږ پر همغه اعتماد کوو په ځانګړي ډول بیا هغه چې په صحیح حدیث کې راشي[٣].

دریم دا چې قول د جمهورو او اکثرو تفسیرپوهانو وي؛ ځکه د یو قول ډېر قائلین د هغه د قوت ښکارندوی دی[٤].

---

١ -«تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ١٩)

٢د دې مثالونه ښېخي ډېر دي یو یې دغه دا دی چې په {وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ} [الحج: ٢٩] عتيق په آزاد كور هم تفسير شوی چې د ظالمانو له ولکې آزاد وي، او په لرغوني هم تفسير شوی. دويم تفسير په قرآن کريم بل ځای تأييد کړی چې وايي: إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِلْعَالَمِينَ (آل عمران: ٩٦) اول تفسير يوه بله ستونزه هم لري چې كعبه څرنګه له ظالمانو څخه آزاد كور دی په داسي حال کې ډېر وخت د مشرکانو په لاس کې پاته شوې ده نو تر مشرکانو به لوی ظالم بل څوک وي؟ وَالْكَافِرُونَ هُمُ الظَّالِمُونَ (البقرة: ٢٥٤) بل مثال يې د (عسعس) په تفسير کې تېر شو.

٣ مثال يې دا چې د کوثر په تفسير کې مصنف رحمة الله عليه اوه قولونه ذکر کړي، په پای کې په دې اړه د راغلي حديث په وجه هغه قول ته ترجيح ورکوي چې په نهر يا حوض يې تفسيروي.

٤ دلته کېدای شي د ابن عباس رضي الله عنه هغه دريځ په مثال کې ذکر شي چې وايي: د قاتل توبه نه قبلېږي. او جمهور وايي: قبلېږي.

خو زه وايم: دغه قاعده له لويه سره د امام ابوحنيفه له نظره سمه نه ده؛ امام سرخسي ويلي: وَالصَّحِيحُ مَا قَالَا فَإِنَّ كَثْرَةَ الْعَدَدِ لَا تَكُونُ دَلِيلَ قُوَّةِ الْحُجَّةِ قَالَ تَعَالَى، {وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لا يَعْلَمُونَ} [الأنعام: ٣٧] {وَمَا أَكْثَرُ النَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِينَ} [يوسف: ١٠٣]. وَقَالَ {مَا يَعْلَمُهُمْ إِلا قَلِيلٌ} [الكهف: ٢٢] {وَقَلِيلٌ مَا هُمْ} [ص: ٢٤] (أصول السرخسي [فصل في بيان المعارضة] ٢ / ٢٤ وكشف الأسرار شرح أصول البزدوي [بحث تعارض الجرح والتعديل]: ٣ / ١٠٢).

ترجمه: صحيح هغه خبره ده چې امام ابوحنيفه او امام ابو سويف رحمة الله عليهما ويلي ( چې په ډېرښت د آراء او قائلينو ترجيح نه ثابتېږي) ځکه د شمېر ډېر والی د قوت دليل نه وي؛ ځکه الله تعالى ويلي: اکثر خلک نه پوهېږي [الأنعام: ٣٧]. اکثر خلک ايمان نه راوړي که ته هرڅه حرص ورباندي وکړې. [يوسف: ١٠٣] له لږو پرته نور نه پوهېږي [الكهف: ٢٢]. ايمان والا ښېخي لږ دي. [سوره‌ء ص: ٢٤].

الله تعالى ويلي: وَإِنْ تُطِعْ أَكْثَرَ مَنْ فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ إِنْ يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ (أنعام: ١١٦).

ترجمه: که د اکثريت خلکو حکم ومنې د الله له دينه دې بېلاري کوي؛ ځکه اکثريت خلک يوازي د ګمان لارروي کوي او له اټکل پرته بل څه نه کوي.

وَقَلِيلٌ مِنْ عِبَادِيَ الشَّكُورُ (سبأ: ١٣). ترجمه: زما لږ بندګان منندوی (احسان منونکي) دي.

قرآن کريم هيڅ ځای اکثر الناس نه دي تأييد کړي؛ د حنفي فقه اصول بل ځای د دغي خبري د تأييد لپاره وايي: قيل ربما كان الحق مع الأقل. وليس فيه بعد ؛ ألا ترى أن الفرقة الناجية واحدة من ثلاث وسبعين؟ فالأقل على الحق. وقد ارتد أكثر الناس بعد وفاته عليه وعلى آله وأصحابه الصلاة والسلام . والمؤمنون أقل من الكفرة . وكان الأكثر من الناس في زمان بني

ځلورم دا چې د داسې چا قول وي چې اقتدا پسې کېږي لکه څلور خلفاء او عبد الله بن عباس؛ ځکه پېغمبر صلى الله عليه وسلم ويلي: يا الله ! ده ته په دين کي ژوره پوهنه ورکړې او د قرآن په مقصد يې پوه کړې[1].

پنځم دا چې د عربو کلام: لغت ، نحو، صرف او اشتقاق د يو قول پر صحت دلالت ولري[2].

شپږم دا چې د کلام د بحث لړی او مخکې يا وروسته برخه يې پر صحت دلالت وکړي[3].

اوم دا چې معنا ذهن ته متبادره ( ژر منونکې ) وي[4]؛ ځکه دا دليل دی چې همدغه معنی څرګنده او راجح ده.

---

أمية على إمامة معاوية مع أن الحق كان بيد أمير المؤمنين علي كرم الله وجهه من غير ريبة. (مسلم الثبوت مع شرحه فواتح الرحموت جـ٢ صـ٢٢٣) . ترجمه: دا خبره بعيده نه ده چې حق دي له لږو خلکو سره وي؛ ته نه ګورې چې په دري اويا ډلو کي ناجيه ډله يوه وي؟ نو خو هغه لږ خو پر حق دي. د پېغمبر صلى الله عليه وسلم له وفات وروسته اکثريت خلک له دينه واوښتل، مؤمنان تر کافرانو لږ دي. د بني اميه په وخت کي اکثرو خلکو د معاويه د حکومت او مشرۍ تأييد کاوه سره له دې چې له شک پرته حق د امير المؤمنين علي کرم الله وجهه په خوا کي و.

١ دا صحيح حديث دی، امام احمد په مسند کي په ١٨٥٢ شمېره نقل کړی، ابن حبان په خپل صحيح : المسند الصحيح:محمد بن حبان بن أحمد أبوحاتم البستي ت:٣٥٤هـ، محقق: محمد علي ، الناشر: دارابن حزم بيروت ،ط: ١٤٣٣هـ : ١٥ / ٥٣١ په (٧٠٥٥) شمېره او په صحيح البخاري کي په (١٤٣) شمېره داسي راغلی: اللهم فقهه فى الدين او په بل روايت کي داسي دی: اللهم علمه الحكمة . فتح الباري لابن حجر: ١ / ١٧٠ او مجمع الزوائد للهيثمی:أحمد بن محمد بن إبراهيم أبو الفضل النيسابوري ت: ٥١٨هـ محقق: محمد محيي الدين عبدالحميد ، الناشر: دار المعرفة بيروت ، ط:١٤٣٣هـ: ٩ / ٢٧٦.

د دې مثال: د {وَإِذَا النُّفُوسُ زُوِّجَتْ} [التكوير: ٧] په تفسير کي دوه قولونه راغلي دي:
اول دا چي هرڅوک له خپر همفکرو سره يو ځای شی، کافر له کافر سره، منافق له منافق سره، مؤمن له مؤمن سره، بيا کافران په خپلو کي هم سره تقسيم شي، ستورلمانځي له ستورلمانځو سره يو ځای شي، اور لمانځي له اور لمانځو سره يو ځای شي. د هغو خلکو له جملې چي دغه تفسير يې کړی عمر بن خطاب او عبد الله بن عباس رضي الله عنهم دي. دويم قول دا چي ارواحونه له جسدونو سره يو ځای ( خلک بيا ځلي را ژوندي ) شي. ک څه هم دغه دواړه قولونه ټکر نه سره لري ځکه په قيامت کي دغه دواړه کارونه ترسره کيږي، هم ارواحونه له جسدونه سره يو ځای کيږي او هم هره ډله له ځان ته ورته ډلي سره يو ځای کيږي، ليکن ابن جزی رحمة الله عليه ويلي: فقط لومړی قول راجح دی؛ ځکه هغه له نبي صلى الله عليه وسلم او دا رنګه له عمر بن الخطاب او ابن عباس څخه نقل شوی دی. (التسهيل لعلوم التنزيل (٢/ ٤٥٦) که ترجيح په کې وشي نو د اول قول لپاره بله د ترجيح وجه هم شته چي قرآن يې تأييد کړی؛ لکه دا آيتونه چي وايي: الَّذِينَ ظَلَمُوا وَأَزْوَاجَهُمْ} [الصافات: ٢٢] دلته دوی ته ورته خلک مراد دي؛ {وَكُنْتُمْ أَزْوَاجًا ثَلَاثَةً *فَأَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ مَا أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ *وَأَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ مَا أَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ *وَالسَّابِقُونَ السَّابِقُونَ} [الواقعة: ٧ - ١٠] د دوی مېرمني مراد نه دي؛ ځکه د کافر مېرمن کله مؤمنه وي؛ لکه د فرعون او کله بالعکس د مؤمن مېرمن کافره وي لکه سورة التحريم: ١٠ چي يې ببلګي ذکر کړي دي.

٢ مثال يې: {لاَ يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا} [النبأ: ٢٤] دی. دلته (برد) چي د يخ معنا لري په خوب هم تفسير شوی و په سړه هوا هم تفسير شوی او مشهور په عربي ژبه کي د (برد) اطلاق پر سړې هوا دی. نو دا راجح دی.

٣ مثال يې د ولي لفظ په دغه ايت کي چي وايي: إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ (المؤمنون: ٥٥) شيعه حضرات ولي دلته په متولي الأمور = د چارو اختيارمن تفسيروي او دا آيت د علي رضي الله عنه په شان کي راغلی دی. او اهل سنت يې په دوست ترجمه کوي؛ ځکه دلته د بحث لړۍ پر دې دلالت کوي يوازي علي مراد نه دی؛ مؤمنان جمع ذکر دي او علي رضي الله عنه يو نفر دی. دلته ولي هغه ډول د دوست په معنا دی لکه په دې آيت کي چي وايي: وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ... (التوبة: ٧١) او د (وَهُمْ رَاكِعُونَ) راکعون جمله حاليه نه ده، بلکي پرمخکنيو جملو عطف ده لکه په دغه آيت (لَيْسُوا سَوَاءً مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ أُمَّةٌ قَائِمَةٌ يَتْلُونَ آيَاتِ اللَّهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُونَ) (آل عمران: ١١٣) کي چي د (وَهُمْ يَسْجُدُونَ) جمله اتفاق سره پر مخکي جملو عطف ده او هيڅوک يې حاله جمله نه بولي.

٤ ذهن ته د يو شي ژر تېرېدل نسبي مسأله ده، د دې پر بنسټ پرېکړه کول ګرانه ده؛ ځکه کوم څه چي زما ذهن ته ژر تېرېږي کېدای شي هغه ستا ذهن ته ژر تېر نه شي، ليکن که داسي شي وي چي په اتفاقي ډول ذهن ته ژر تېرېدونکی وي، نو هغه د منلو وړ دی. مثال يې : {قَالَ أَرَاغِبٌ أَنْتَ عَنْ آلِهَتِي يَاإِبْرَاهِيمُ لَئِنْ لَمْ تَنْتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِي مَلِيًّا} [مريم: ٤٦]،

اتم پر مجاز دحقيقت وړاندي کول؛ ځکه د اصولپوهانو په اند يو لفظ پر حقيقي معنا اخيستل غوره دي. کله – کله مجاز راجح کيږي چي کله يې استعمال ډېر وي تر دې چې په استعمال کي تر حقيقت غالب وي چې دې ته راجح مجاز او مرجوح حقيقت ويل کيږي. عالمانو په دغه صورت کي اختلاف کړی چي کوم يو يې مقدم دی؟ د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه مذهب د حقيقت مخکې کول دي؛ ځکه دا اصل دی او د امام ابويوسف مذهب د راجح مجاز مخکې کول دي ځکه هغه په استعمال کي راجح او قوي دی او مجاز کله کله ډېر فصيح او لوړ رتبه وي نو راجح هم وي(۱).

نهم عمومي معنا پر خصوصي مقدم کول؛ عمومي ځکه اولی دی چي دا اصل دی پرته له هغه ځايه چي ځانګړی دليل وربانديي دلالت وکړي .

لسم اطلاق ( بلا قيده) معنا پر مقيد مقدم کول پرته له هغه ځايه چې پر مقيد کولو دليل شتون ولري(۲).

يوولسم د کلام بشپړوالی پر مقدروالی مخکې کول پرته له هغه ځايه چې پر مقدر کوم دليل دلالت وکړي.

دولسم: کلام پر خپل ترتيب اخيستل پرته له هغه حالته ته چي پر تقديم او تأخير کول دليل وي(۳).

## الباب السادس
## في ذكر المفسرين

**اعلم أن السلف الصالح انقسموا إلى فرقتين: فمنهم من فسر القرآن وتكلم في معانيه. وهم الأكثرون. ومنهم من توقف عن الكلام فيه احتياطا لما ورد من التشديد في ذلك. فقد قالت عائشة رضي الله عنها: ما كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يفسر من القرآن الآيات إلا بعد علمه إياهن من جبريل. وقال صلى الله عليه وسلم: «من قال في القرآن برأيه وأصاب فقد أخطأ». وتأول المفسرون حديث عائشة رضي الله عنها بأنه «في مغيبات القرآن التي لا تعلم إلا بتوقيف من الله تعالى. وتأول الحديث الآخر بأنه فيمن تكلم في القرآن بغير علم ولا أدوات لا فيمن تكلم فيما تقتضيه أدوات العلوم ونظر في أقوال العلماء المتقدمين فإن هذا لم يقل في القرآن برأيه «واعلم أن المفسرين على طبقات فالطبقة الأولى: الصحابة رضي الله عنهم.**

---

دلته چا ويل چي له رجم څخه مراد بدو رد يا ښکنځل دي او چا ويلي چي په ډبرو ويشتل مراد دي؛ ځکه په دغه معنا ډېر استعمال شوی دی او ذهن ته ژر تېرېږي.

۱ د حقيقت د تقديم مثالونه خو مخکې تېر شول ، د راجح مجاز مثال يې: خَتَمَ اللّهُ عَلَى قُلُوبِهمْ وَعَلَى سَمْعِهِمْ وَعَلَى أَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ (البقرة:۷) همدا آيت په التسهيل کي وګورئ.

۲ (ٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهۡدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقۡطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِۚ ) البقرة :27عهدالله مطلق دی په عهدونو کي همدا رنګه قطع او فساد مطلق دي .

۳ د دې مثال مخکې تېر شو: {وَقَالَ رَجُلٌ مُؤْمِنٌ مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ إِيمَانَهُ} [غافر: ۲۸] خو له بده مرغه دغه اصل بيا د بقرې د قصې او تر هغه وروسته بلي قصې ترمنځ نه دی مراعات شوی چي په دې الفاظ شوی. د بقرې قصې په له (۶۷) آيته شروع کيږي ، وريسې بله قصه په (۷۲) آيت کي شروع شوی ده خو د ابن جزی رحمة الله عليه وپه شمول ډېر مفسرين دا وروستۍ قصه تر اولي په وقوع کي مخکې بولي. اوس پوښتنه دا ده چي کوم دليل دوی مجوره کړي دي؟ پردغه ترتيب اړولو خو بل اندلسي عالم ابو حيان نحوي به البحر المحيط کي ښه کلک رد کړی دی.

**وأكثرهم كلاما في التفسير ابن عباس. وكان علي بن أبي طالب رضي الله عنه يثني على تفسير ابن عباس. ويقول: كأنما ينظر إلى الغيب من ستر رقيق. وقال ابن عباس ما عندي من تفسير القرآن فهو عن علي بن أبي طالب. ويتلوهما عبد الله بن مسعود. وأبي بن كعب. وزيد بن ثابت. وعبد الله بن عمر بن الخطاب، وعبد الله بن عمرو بن العاص، وكلما جاء من التفسير عن الصحابة فهو حسن.**

**والطبقة الثانية: التابعون. وأحسنهم كلاما في التفسير الحسن بن أبي الحسن البصري. وسعيد بن جبير ومجاهد مولى ابن عباس. وعلقمة صاحب عبد الله بن مسعود.**

**ويتلوهم: عكرمة. وقتادة. والسدي. والضحاك بن مزاحم. وأبو صالح. وأبو العالية»**[١].

دويم مطلب: د مقدمی شپږم باب، د مفسرینو بیان

په دې خبره ځان پوهول په کار دي چي سلف صالحين په دې اړه پر دوو ډلو وېشل شوي دي:

ځینو یې قرآن تفسیر کړی او په معنا کي یې ږغېدلي دي او اکثريت همدا دي[٢].

ځینو یې بیا د احتیاط په وجه په قرآن کریم کي له ږغېدلو ډډه توقف کړی؛ ځکه په دې اړه سختي راغلي ده؛ عائشې رضي الله عنه ویلي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د قرآن آیتونه نه تفسیرول مګر وروسته له هغه چي جبریل به هغه ور زده کړل[٣]. او پېغمبر صلى الله عليه وسلم ویلي: که څوک په قرآن کي په خپله رأیه ور ږغېدی او حق ته هم ورسېدی بس هغه هم تېروتی دی[٤]. تفسيرپوهانو د عائشې رضي الله عنها په حديث کي تأويل کړی چي دا د قرآن هغه برخه بنيي چي له غيبو سره تړاو لري کوم چي د الله د خوا له ورکول شويو معلوماتو پرته نه شي معلومېدلای. دويم حديث يې داسي تأويل کړی چي دا د هغه چا په هکله دی چي له پوهي او وسائلو پرته په قرآن کي ږغيږي، د هغه چا په هکله نه دی چي په هغه څه کي ږغيږي چي آلي علوم[٥] يې غوښتنه کوي او د پخوانيو عالمانو په اقوالو کي يې نظر کړی وي؛ ځکه دغه ډول شخص په قرآن کي له ځانه نه دی ږغېدلی.

---

١ -«تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ٢٠) .

٢ شيخ الاسلام ابن تيميه ويلی: په دې خبره ځان پوهول فرض دي چي پېغمبر صلى الله عليه وسلم خپلو ملګرو ته د قرآن معناوي بيان کړي لکه څرنګه چي يې الفاظ ورته بيان کړي دي: دا چي الله تعالى وايي: {لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ} لفظ او معنا دواړو ته شامليږي. ابو عبد الرحمن السلمي ويلي: هغه خلک چي قرآن يې راته لوستی لکه عثمان بن عفان، عبد الله بن مسعود او نور، هغو موږ ته دا بيان کړي چي دوی به کله له پېغمبر صلى الله عليه وسلم څخه لس آيتونه زده کړه، تر هغو به نه تېرېدل تر څو چي به يې هغه علم او عمل هم زده کاوه چي په دغو آيتونه کي دي. دوی وايي: نو موږ قرآن ، علم او عمل ټول زده کړل. مقدمة في اصول التفسير صـ١۴ وګوره. مجاهد ټول قرآن عبد الله بن عباس رضي الله ته تېر کړی. مصنف ابن ابي شيبه (٢٩٩٢٠) شميره اثر او مقدمه في اصول التفسير صـ١۶ وګوره.

٣ دا اثر ثابت نه دی؛ لکه څرنګه چي حافظ ابن کثير ويلي: دا حديث غريب منكر (له حقائق خلاف ) دی. تفسير القرآن العظيم: أبوالفداء إسماعيل بن عمر بن كثير الدمشقي ، ت:٧٧٤هـ ، محقق:محمد حسين شمس الدين ، الناشر:بارالكتب العلمية – بيروت، ط:١٤١٩هـ: ١ / ١۴ د ابن کثير ليکنه.

٤ دا حديث ضعيف دی (ثبوت نه لري) ترمذي به خپل سنن کي په (٢٩٥٢) شمېره نقل کړی، دا رنګه په فضائل القرآن:أبوعبدالرحمن أحمد بن شعيب النسائي ، ت: ٣٠٣هـ ، محقق:د. فاروق حمادة، الناشر: دار إحياء العلوم ، بيروت،ط: ١٣١٤هـ: ١ / :١٣٥ کي ، په كنز العمال:علاء الدين علي بن حسام الدين الشهير بالمتقي الهندي ت: ٩٧٥هـ ، محقق: بكري حياتي ، الناشر:مؤسسة الرسالة ، ط:١٤٠١هـ کي په (٢٩٥٧) شمېره، په جامع صغير کي او الباني ضعيف بللی دی. ضعيف الجامع الصغير (٥٧٣۶) ، طبراني: ١ /٥٨ او قرطبي: ١ /۶۶ وګوره.

٥ آلي علوم هغه دي چي خپله مقصود نه وي بلکي د نورو مقصودي علومو د زدکړي لپاره وسيله وي؛ لکه صرف او نحو او داسي نور.

باید پوه شي چې تفسیرپوهان څو طبقې دي: لومړۍ طبقه یې صحابه رضي الله عنهم دي او د دوی له جملې چې په قرآن کې ډېر ږغېدلی عبد الله بن عباس دی[١]، علي بن أبي طالب[٢] رضي الله عنه به د ابن عباس تفسیر ستایه او ویل به یې داسي دی لکه غیبي علومو ته چې تر یوې نرۍ پردې ګوري[٣]. او ابن عباس به ویل: د قرآن کوم تفسیر چې زما سره شته هغه مې له علي څخه نقل کړی دی[٤]. په دوی پسې عبد الله بن مسعود[٥]، أبيّ بن کعب[٦]، زید بن ثابت، عبد الله بن عمر بن الخطاب[٧] او عبد الله بن عمرو بن العاص دی[٨]، او هر وخت چې له صحابه وو څخه تفسیر راغلی هغه ښه د منلو وړ تفسیر دی.

---

١ دی د امت ستر عالم عبد الله بن عباس دی په ۶۸ هـ کال په طائف کي وفات شوی، رضي الله عنه. اسدالغابة: ۲۹۱/۳

٢ دی راشد خلیفه امام علي بن ابي طالب دی رضي الله عنه دی، په ۴۰ هـ کال کي وفات شوی دی. الإستیعاب في معرفة الأصحاب:۱۰۸۹/۳

٣ د ابن عطیه تفسیر ۱ / ۳۰ د ۱۳۹۸ هـ کال لومړی چاپ وګوره. د نوموړي ستاینه نورو صحابه وو هم کړې ده؛ لکه ابن مسعود رضي الله عنه چې یې په هکافیله ویلي: د قرآن ښه ترجمان عبد الله بن عباس دی. تفسیر الطبري( جامع البیان عن تأویل آي القرآن:أبوجعفر محمد بن جریر الطبري ، الناشر:بارالتربیة والتراث : ۱ / ۶۵ او مقدمة في اصول التفسیر لابن تیمیه صـ: ۶۰ وګوره.

٤ ابن عطیه د امام علي رضي الله عنه په هکله ویلي: د مفسرینو رئیس او په دوی کي تأیید شوی خو علي بن ابي طالب رضي اللله عنه دی، په ده پسې بیا عبد الله بن عباس دی او ده ځان دې کار ته فارغ کړ او پوره یې کړ. (المحرر الوجیز في تفسیر الکتاب العزیز:أبو محمد عبدالحق بن غالب ابن عطیة الأندلسي ت:٥٤٢هـ ، محقق: عبدالسلام عبدالشافي، الناشر :دارالکتب العلمیة بیروت، ط:١٤٢٢هـ: ۱ / ۲۹ وګوره) سیوطي ویلي: له علي رضي الله عنه څخه نقل کړي: قسم په الله چي هر آیت نازل شوی زه پوهیږم چي د څه په هکله نازل شوی، چېري نازل شوی او پر چا نازل شوی، یقینا زما رب ما ته عقلمن زړه او رښتیني ناطقه ژبه راکړې ده.

٥ دی عزتمن صحابي عبد الله بن مسعود بن غافل بن حبیب بن سمح د ابو عبد الرحمن په نامه یادیږي او ابن ام عبد هم ورته ویل کېدل. په قرآن پوهانو صحابه وو کي له هغو ډېرو پوهانو له جملې و، ده به ویل: قسم په هغه الله چي له ده پرته بل نشته، د الله د کتاب چي کوم آیت نازل شوی، زه پوهیږم چي د چا په هکله نازل شوی. که زه پوهېدلای چي د الله په کتاب تر ما بل داسي پوه څوک شته چي د سورلیو په سفر زه ورسېدلای شم زه هررو مرو ورغلی وای. صحیح البخاري (۵۰۰۲) شمیره حدیث، صحیح مسلم (۲۴۶۲) شمېره او مقدمة في اصول التفسیر صـ۶۰. ابن مسعود په ۳۲ هـ کال وفات شوی دی. اسدالغابة: ۳۸۱/۳

٦ دی ابي بن کعب بن قیس بن عبید بن زید انصاري خزرجي نجاري دی ابو المنذر ورته ویل کېدل. په دویمه عقبه کي د بیعت کوونکو له جملې و، دی د صحابه وو د مشرانو عالمانو څخه و. په ۲۲ هـ کال کي وفات شو رضي الله عنه. سیر أعلام النبلاء : ۱/ ۳۸۹ اسد الغابة : ۱۶۸/۱ لیکنې وګوره ،

٧ دی عبد الله بن عمر بن الخطاب د بني عبدي له قبیلې سره تړاو لرونکی عزتمن صحابي دی. په ۸۴ هـ کال کي وفات شوی. اسذ الغابة:۳۳۶/۳ لیکنه وګوره .

٨ دی عبد الله بن عمرو بن العاص دی، د صحابه وو د عالمانو او فضیلتمنو خلکو له جملې و، ویل شوي چي دی په ۶۳ هـ کال کي وفات شوی دی. اسد الغابة : ۳۴۵/۳ لیکنه وګوره .

دويمه طبقه يې تابعين دي، د دوی له جملې چې په تفسير کې ښه ړ.غېدلي ، حسن بصري[١]، سعيد بن جبير[٢]، د عبد الله بن عباس لخوا ازاد شوی مجاهد[٣] او د عبد الله بن مسعود شاګرد علقه[٤] دی.

**ثم حمل تفسير القرآن عدول كل خلف، وألف الناس فيه: كالمفضل. وعبد الرزاق.**

**وعبد بن حميد. والبخاري. وعلي بن أبي طلحة. وغيرهم. ثم إن محمدا بن جرير الطبري جمع أقوال المفسرين وأحسن النظر فيها. وممن صنف في التفسير أشياء: أبو بكر النقاش.**

**والثعلبي. والماوردي. إلا أن كلامهم يحتاج إلى تنقيح. وقد استدرك الناس على بعضهم.**

**وصنف أبو محمد بن قتيبة في غريب القرآن ومشكله وكثير من علومه وصنف في معاني القرآن جماعة من النحويين: كأبي إسحاق الزجاج، وأبي علي الفارسي، وأبي جعفر النحاس.**

**وأما أهل المغرب والأندلس فصنف القاضي منذر بن سعيد البلوطي كتابا في غريب القرآن وتفسيره. ثم صنف المقرئ أبو محمد مكي بن أبي طالب كتاب الهداية في تفسير القرآن.**

**وكتابا في غريب القرآن. وكتابا في ناسخ القرآن ومنسوخه. وكتابا في إعراب القرآن. إلى غير ذلك من تآليفه. فإنها نحو ثمانين تأليفا: أكثرها في علوم القرآن والقراءات والتفسير وغير ذلك. وأما أبو عمرو الداني فتآليفه تنيف على مائة وعشرين. إلا أن أكثرها في القرآن.**

**ولم يؤلف في التفسير إلا قليلا. وأما أبو العباس المهدي فمتقن التآليف. حسن الترتيب.**

**جامع لفنون علوم القرآن: ثم جاء القاضيان أبو بكر بن العربي وأبو محمد عبد الحق بن عطية. فأبدع كل واحد وأجمل. واحتفل وأكمل. فأما ابن العربي فصنف كتاب «أنوار الفجر» في غاية الاحتفال والجمع لعلوم القرآن: فلما تلف تلافاه بكتاب «قانون التأويل» إلا أنه اخترمته المنية قبل تخليصه وتلخيصه. وألف في سائر علوم القرآن تآليف مفيدة وأما ابن عطية فكتابه في التفسير أحسن التآليف وأعدلها. فإنه اطلع على تآليف من كان قبله فهذبها ولخصها. وهو مع ذلك حسن العبارة. مسدد النظر، محافظ على السنة. ثم ختم علم القرآن «بالأندلس وسائر المغرب بشيخنا الأستاذ أبو جعفر بن الزبير. فلقد قطع عمره في**

---

١ دی ابو سعيد حسن بن ابي الحسن بصري د انصارو لخوا آزاد شوی ملګری دی او دی د علم او عمل په لحاظ لمشرانو غوره تابعينو څخه دی. سير أعلام النبلاء: ٤/ ٥٦٣

٢ دی سعيد بن جبير بن هشام اسدي دی کنيه نوم ابو عبد الله دی، له عبد الله ابن عباس څخه يې علم زده کړی او په علم، فضيلت، صد او عبادت کي له مشرانو تاعينو څخه او په دوی کي په قرآن ښه پوه و. په ٩٥ هـ کال کي وفات شو. ژوندليک يې په حلية الأولياء و طبقات الأصفياء:أبونعيم أحمد بن عبدالله الأصفهاني ،ت:٤٣٠هـ ، الناشر: مطبعة السعادة مصر، ط:١٣٩٤هـ: ۴ / ٢٧٢ او طبقات القراء: ١ / ٣٠ کي وګوره.

٣ دی مجاهد بن جبر ابو الحجاج قرشي مخزومی د سائب بن ابي سائب لخوا آزاد شوی ملګری دی، نوموړی د عبد الله بن عباس له ملګرو (شاګردانو) څخه و، سير أعلام النبلاء:٤/ ۴٩٩، مجاهد وايي: ما قرآن درې ځلي پر ابن عباس رضي الله له اوله تر آخره ختم کړی په داسي حال کي چي له هر آيت سره به مي دراوه او د هغه په اړه به مي پوښتنه ترې کوله. دا روايت ابن ابي شيبه په المصنف کي په (٣٠٢٧٨) شمېره نقل کړی، مقدمة في اصول التفسير لشيخ الاسلام ابن تيميه صـ ۶۴. مصنف (ابن جزی) چي محاهد د عبد الله بن عباس مولی بللی که يې مقصد دا وي چي شاګرد او مرستندوی يې دی، دا صحيح خبره ده او که يې مقصد دا وي چي دی يې آزاد شوی مريی دی، نو دا نه ده صحيح لکه څرنګه چي دا خبره تېره شوه. مجاهد په ١٠٣ هـ کال وفات شو.

٤ دی علقمه بن قيس بن عبد الله بن مالک ابو شبل نخغي کوفي دی، د عبد الله بن مسعود له مشرانو ملګرو (شاګردانو) او عالمانو څخه يې و. په ۶١هـ کال کي وفات شوی او ۶٢ هم ويل شوي دي. سير اعلام النبلاء:۴/٥٣ .

**خدمة القرآن وآتاه الله بسطة في علمه. وقوة في فهمه. وله فيه تحقيق. ونظر دقيق. ومما بأيدينا من تأليف أهل المشرق تفسير أبو القاسم [محمود بن عمر] الزمخشري فمسدد النظر بارع في الإعراب متقن في علم البيان. إلا أنه ملأ كتابه من مذهب المعتزلة وشرهم. وحمل آيات القرآن على طريقتهم. فتكدر صفوه. وتمرر حلوه. فخذ منه ما صفا ودع ما كدر. وأما القرنوي فكتابه مختصر. وفيه من التصوف نكت بديعة. وأما ابن الخطيب فتضمن كتابه ما في كتاب الزمخشري وزاد عليه إشباعا في قواعد علم الكلام. ونمقه بترتيب المسائل. وتدقيق النظر في بعض المواضع. وهو على الجملة كتاب كبير الحجم. ربما يحتاج إلى تلخيص، والله ينفع الجميع بخدمة كتابه. ويجزيهم أفضل ثوابه»**[١].

په دوی پسې عکرمة[٢]، قتادة[٣]، سّدي[٤]، ضحاك بن مزاحم[٥]، أبو صالح[٦] او أبو العاليه[٧] دی.

بیا د هرې وروستۍ طبقې دیندارو درنو خلکو د تفسیر علم را اخیستی[٨] خلکو تألیفات په کې ترسره کړي؛ مفضل[٩]، عبد الرزاق[١٠]، عبد بن حمید[١١]، امام بخاري[١٢]، علي بن

---

- ١«تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ٢١)

٢ دی عکرمه بن عبد الله بربري مدني دی د الله عبد الله بن عباس رضي الله عنه لخوا آزاد شوی ملګری و. ابن عباس به د ده په ښوونه کې ډېر زیار ایستی تر دې چې وروستي هدف ته ورسېدی . په ١٠٧ هـ کې وفات شوی ، سير اعلام النبلاء: ٤٤٩/٤ .

٣ دی قتاده بن دعامه سدوسي له موره ړوند پیدا شوی ابو الخطاب عربي الاصل دی ، په بصره کې اوسېدی، د تابعینو له عالمانو څخه یو دی. په ١١٧ هـ کال کې وفات شوی دی. سيراعلام النبلاء:٢٦٩/٥ .

٤ سدي اسماعيل بن عبد الرحمن بن ابی کريمه سدی د قريشو لخوا آزاد شوی ملګری ابو محمد کوفي دی، نوموړی د پېښو د او خلکو د تاريخ په اړه مخکښ پوه و. په ١٢٨ هـ کال کې وفات شو. سيراعلام النبلاء:٢٦٤/٥

٥ ضحاک بن مزاحم هلالي د هغوی لخوا آزاد شوی ملګری خراساني دی، کنيه نوم ابو القاسم دی، په تفسير کې مشهور شوی ، په ١٠٥ هـ کال کې وفات شوی. سيراعلام النبلاء: ٥٩٨/٤ .

٦ دی ذکوان ابو صالح سمان دی، له عائشې ، ابو درداء او ابوهريره رضي الله عنهم څخه روايتونه کړي او له ده څخه اعمش يو زر حديثونه اورېدلي دي. سيراعلام النبلاء: ٣٦/٥ .

٧ ابو العاليه زياد او داسې هم ويل شوي چې رُفَيع بن مِهران رياحي دی د جاهليت دوره يې هم ليدلې ده، د پيغمبر صلى الله عليه وسلم له وفات څخه دوه کاله وروسته يې اسلام قبول کړی دی، دی له ثقه تابعينو څخه و.د شپږو کتابونو ليکوالانو پر ده اتفاق کړی دی.

٨ هغه حديث ته اشاره کوي چې وايي: (يحمل هذا العلم من كل خلف عدوله ينفون عنه تحريف الغالين وانتحال المبطلين او تأويل الجاهلين. (التمهيد لابن عبد البر: ١ / ٥٩ ومجمع الزوائد: ٦٠١ وكنز العمال (٢٨٩١٨) شمېره حديث. ځينو اهل علمود دغه حديث پر ځينو راويانو نيوکه کړي او ځينو بيا دغه حديث حسن بللی دی. د متن ترجمه يې داسې ده: د هرې وروستۍ طبقې دينداره درانه خلک دغه علم اخلي، د افراطيانو تحريف، د باطلپالو ناحقه دعوې او ناپوهانو ناسم تعبيرونه ورڅخه لرې کوي.

٩ مفضل بن مهلهل سعدي ابو عبد الرحمن کوفي په ١٦٧ هـ کال کې وفات شوی. سيراعلام النبلاء:٤٠٠/٧ .

١٠ عبد الرزاق بن همام بن نافع حميري ابوبكر صنعاني له مشهورو حافظانو امامانو څخه يو دی، په ٢١١ هـ هجري کې وفات شوی. سيراعلام النبلاء:٥٦٣/٩ .

١١ عبد بن حميد بن نصر کشي حافظ ابومحمد د مسند او تفسير ليکوال دی، په ٢٤٦ هـ کال کې وفات شوی دی.

١٢ دی محمد بن اسماعيل بن ابراهيم بخاري جعفي دی، هغه مشهور امام د الجامع الصحيح کتاب ليکوال دی، په ٢٥٦ هـ کال کې وفات شوی. سيراعلام النبلاء:٣٩١/١٢ ، الجرح والتعديل : عبدالرحمن بن أبي حاتم محمد بن إدريس الرازي ، ناشر: مطبعة مجلس دائرة المعارف العثمانية ، حيدر آباد -الهند ، ط:١٢٧١هـ .

أبي طلحة[١] او نور ، بيا محمد بن جرير طبري[٢] د مفسرينو اقوال راجمع کړل او ښه نظر يې په کې وکړ . د هغو خلکو له جملې چې څه شيان يې په تفسير کې تصنيف کړي أبوبکر نقّاش[٣]، ثعلبي[٤] او ماوردي[٥] دی، ليکن د دوی خبري صافولو (څېړني) ته اړتيا لري او خلکو يې پر ځينو نيوکي کړي دي.

ابو محمد بن قتيبه[٦] د قرآن د غريبو او مشکلو الفاظو[٧] او د ډېرو علومو په اړه ليکنې کړي.

د قرآن د معناوو په اړه د نحويانو يوې ډلې ليکني کړي؛ ابو إسحاق زجاج[٨]، أبو علي الفارسي[٩] وأبو جعفر نحاس[١٠].

د لوېديځ او اندلس د مسلمانانو له جملې قاضي منذر بن سعيد بلوطي[١١] د قرآن د غريبو الفاظو او تفسير په اړه کتاب ليکلی دی. مقرئ ابو محمد مکي بن ابي طالب[١٢] د الهداية في تفسير القرآن په نوم يو کتاب ، په غريب القرآن کي يو کتاب، د قرآن په ناسخ او منسوخ کي يو کتاب ، په إعراب القرآن کي بل کتاب ليکلی او داسي نور تاليفات يې؛ ځکه چي هغه شاوخوا اتيا تاليفات کړي چي اکثره يې په علوم القرآن، قراءاتو ، تفسير او دې ته ورته نورو موضوعاتو کي دي.

---

١ دی علي بن ابي طلحه دی، تفسير يې له ابن عباس رضي الله څخه نقل کړی او له ده څخه معاويه بن صالح روايت کړی. الطبقات الکبری: ٧ / ٣١٧ وګوره.
دلته د علي بن ابي طلحه نوم راړول يو څه له تاريخي تسلسل څخه لري ده؛ ځکه نوموړی تابعي دی او دلته اوس بحث د دريمي پېړۍ د ليکوالانو روان دی.

٢ محمد بن جرير بن يزيد بن کثير بن غالب امام ابوجعفر طبری ابو تفاسير = د تفسيرونو پلار دی. په ٣١٠ هـ کال کي وفات شوی دی. سير اعلام النبلاء:١٤/٢٦٧ .

٣ دی محمد بن حسن بن محمد بن زياد بن هارون موصلي په قراءاتو او تفسير کي د عراقيانو امام دی. په ٣٥١ هـ کال کي وفات شو.

٤ ثعلبي احمد بن محمد بن ابراهيم ابو اسحاق نيشاپوري دی، نوموړی په عربيت کي ستر لوړپوړی ستر امام و. په ٤٢٧هـ کال کي وفات شوی.

٥ ماوردي علي بن محمد بن حبيب قاضي ابو الحسن ماوردي بصري شافعي دی سيراعلام النبلاء:٦٤/١٨ ، طبقات الفقهاء: أبو إسحاق إراهيم بن علي الشيرازي، ت:٤٧٦هـ ، محقق:إحسان عباس ، ناشر: دار الرائد العربي بيروت- لبنان ، ط: ١٤٣١هـ . د ده له تصنيفاتو څخه دي: الحاوي في الفقه، تفسير القرآن ، الأحکام السلطانية او نور . په ٤٥٠ هـ کال کي وفات شوی دی.

٦ دی عبد الله بن مسلم بن قتيبه دينوري ابو محمد د ادب له امامانو څخه دی. له ډېر تصنيفه ليکوالانو څخه دی، د کتابونو له جملې دي: مشکل القرآن، تأويل مختلف الحديث، المشتبه من الحديث والقرآن او داسي نور. په ٢٧٦ هـ کي وفات شوی . طبقات الفقهاء:١٣١

٧ غريب القرآن هغه الألفاظ وي چي د لغت په لحاظ يې عام خلک په معنا نه پوهېږي او ورسره نابلده وي لکه په سورة النجم: ٢٢ کي د (ضيزى) لفظ. مشکل بيا هغه وي چي په تفسير او تطبيق کي يې سختي وي لکه د هاروت او ماروت قصه چي جعلي رواياتو سخته کړې ده. تأويل مشکل القرآن (ص: ٤) وګوره .

٨ دی ابراهيم بن سري بن سهل ابو اسحاق زجاج دی، ده معاني القرآن او نور کتابونه ليکلي دي. په ٣١١هـ کال کي وفات شوی دی.

٩ دی حسن بن احمد بن عبد الغفار ابو علي فارسي مشهور نحوي او د (الحجة في القراءات ) ليکوال دی. په ٣٧٧ هـ کال کي وفات شوی دی. سير اعلام النبلاء: ٣٧٩/١٦

١٠ دی احمد بن محمد بن اسماعيل مرادي مصري ابو جعفر نحاس تفسيرپوه اديب دی. په ٣٣٧ هـ کال کي وفات شوی دی. سير اعلام النبلاء:٢٦٨/١٥

١١ دی منذر بن سعيد بلوطي ابو الحکم اندلسي فقيه حديثپوه امام، ژبور خطيب و، نوموړی حاضر جواب په چمتو خبرو لرلو کي غښتلی و. دی د قرآن په احکامو کي په لوړه سويه تأليفات لري. د قضاء وظيفه يې په داسي حال کي په غاړه واخيسته چي عمر يې ٩٠ کاله و. په ٣٥٥ هـ کال کي وفات شو. سير اعلام النبلاء :١٧٣/١٦ .

١٢ مکي بن ابي طالب ابو محمد مکي حموش بن محمد بن مختار قيسي نحوي مقرئ دی. په ٤٣٧ هـ کي وفات شوی.

او د ابو عَمْر داني[1] تأليفات خو تر يو سل او شلو هم اوړي ليکن اکثره يې د قرآن په اړه دي او د تفسير په اړه له لږ څه پرته نه دي ليکلي.

ابو العباس مهدوي[2] خو نو په تأليفاتو کي تکړه ، ښه ترتيب والا د قرآن د علومو د هر فن جامع دی.

بيا د قاضي ابوبکر بن العربي[3] او قاضي ابو محمد عبد الحق بن عطيه[4] راغلي، نو هر يوه نوښتونه ، ښايستونه وکړه، تشه يې ډکه او بشپړتيا يې رامنځ ته کړه. ابن العربي د (أنوار الفجر) په نامه کتاب وليکی چي د علوم قرآن په اړه ډېر جامع او بشپړ کتاب دی. چي کله دغه کتاب تلف شو، د هغه ځای د (قانون التأويل) په نوم په بل کتاب ډک کړ، ليکن د دې کتاب تر خلاصه کولو او بيا ځلي سمون مخکي يې مرګ وربانديي حمله کړې ده. نوموړي د قرآن په نورو علومو کې هم ګټور تأليفات ليکلي دي.

د ابن عطيه کتاب د تفسير په علم کي تر ټولو ښه او ډېر معتدل کتاب دی؛ ځکه نوموړی تر ده مخکي خلکو تأليفات مطالعه کړي، بيا يې تهذيب او را لنډ کړي؛ د دې ترڅنګ نوموړی د ښه عبارت او سم نظر خاوند او نبوي تګلارې پابند هم دی، بله ځانګړني دا هم ده چې د قرآن علم يې زموږ پر شيخ ابو جعفر بن زبير[5] ختم کړی چي په اندلس او ټول لوېديځ کې استاد دی. نو ده خپل عمر د قرآن په خدمت کي پای ته ورساوه، الله تعالی يې په علم کي پراختيا او په پوهنه کې قوت په برخه کړی او دی په دې کي ځېرنه او دقيق نظر لري.

---

١ دی عثمان بن سعيد بن عثمان داني أُمَوي مام علامه حافظ د قراءت د استادانو استاد ، د قرآن په علومو کي د ډېرو تأليفات څښتن دی. په : ۴۴۴ هـ کال کي وفات شوی. ۷۷/۱۸ معرفة فقهاء الکبار ۳۲۵/۱ .

٢ دی ابو العباس احمد بن عمر مهدوي تميمي دی ، په افريقا کي د لويو مفسرينو او د قراءاتو له امامانو څخه يو دی، خو له دې سره يې بشپړه ترجمه نه ده په برخه شوې، په هغه مهدېه سيمه کي لوی شوی چي نسبت ورته شوی (مهديه به افريقا کي د يوې سيمي نوم دی)، د ده اساسي جوړښت هم د همغي سيمي پر علماوو ورلنډ شوی دی. د ده مشهور شيخ علي قابسي دی چي په ۴۰۳ هـ کي وفات شوی. سير اعلام النبلاء:۲۰۱/۱۴ لکه څرنګه چي د خپل د مورني نيکه مهدي بن ابراهيم او نورو هم شاګرد پاته، اندلس ته يې تر خپلي علمي پوختيا وروسته هجرت وکړ. دی په قراءاتو او تفسير کي ډېر تأليفات لري. په تفسير کي يې د کتابونو له جملې دي: (التفصيل الجامع لعلوم التنزيل) دا يې مختصر کړی په (التحصيل لفوائد التفصيل) کتاب کي چي په څلورو ټوکونو کي دی. له کتابونو څخه يې په قراءاتونو کي دی: (بيان السبب الموجب لاختلاف القراءات وهجاء مصاحف الأمصار) دی د (نظم الطاءات في القرآن) نظم اود هغه شرح هم لري. مهدوي هغه ځوک دی چي امام شاطبي په باب الاستعاذه کي په دې وينا کي ذکر کړی:

وَإِخْفَاؤُهُ فَصْلٌ أَبَاهُ وَعُاَتُنَا ... وَكَمْ مِنْ فَتىً كالْمَهْدَوِي فِيهِ أَعْمَلاَ.

يعني اعوذ بالله په پټه ويل يوه بېله لاره ده چي زموږ پوهانو نه ده منلې او د مهدوي په څېر ډېرو ځوانانو يې په پټ ويلو کي خپل فکر په کار اچولی دی. لکه څرنګه چي داغه خبر داودي په طبقات المفسررين : ۱ / ۵۶ کي ذکر کړې ده او په الوافي على الشاطبيه صـ: ۳۳ کي هم راغلې ده. د ده له شاګردانو څخه ابو اسحاق ابراهيم بن محمد ازدي، ابو عبد الله محمد بن عيسى بن فرج طليطي او نور دي. دی په ۴۴۰ هـ کال شاوخو کي وفات شوی؛ لکه څرنګه چي دا خبره زرکلي به الأعلام کي ذکر کړې ده. ذهبي ويلي: له څلور سوه او دېرش وروسته وفات شوی. الأعلام: ۱ / ۱۸۴، غاية النهاية فى طبقات القراء: ۱ / ۹۲ ، طبقات المفسرين للداودي: ۱ / ۵۶ او التفسير واتجاهاته بافريقية د دکتوره وسيله بلعيد ، صـ۱۴۹ ـ ۳۲۱.

٣ د ژوندليک بيان يې مخکي تېر شوی دی.

٤ ابن عطيه امام قاضي حافظ تجويد پوه ابو محمد عبد الحق بن غالب بن عبد الرحمن بن غالب بن تمام بن عطيه محاربي اندلسي غرناطي د (المحرر الوجيز في تفسير الكتاب العزيز:عبدالحق بن غالب بن عبدالحمن ابن عطية الأندلسي، ت:٥٤٢هـ ، محقق:عبدالسلام عبدالشافي محمد ، ناشر:بارالکتب العلمية بيروت ،ط: ١٤٢٢هـ . کتاب ليکوال، په ۴۸۱ هـ کال کي زېږېدلی او په ۵۴۶ هـ کي وفات شوی او داسي هم ويل شوي چي په ۵۴۱ هـ کي وفات شوی. سير اعلام النبلاء:۱۹

٥ دی احمد بن ابراهيم بن زبير بن محمد بن زبير بن عاصم امام علامه مقرئ محدث حافظ د اندلس عالم د ګټور تصنيفاتو ليکوال او د ابن جزي له مشرانو شيخانو څخه دی. د ژوندليک بيان يې د ابن جزی د استادانو به بيان کي تېر شوی دی.

د ختیځوالو له تألیفاتو څخه زموږ په لاس کې د ابو القاسم محمود بن عمر زمخشري[١]، د ابو الفضل الغزنوي[٢] او د ابو الفضل ابن الخطیب تفسیر دی. زمخشري خو په نحو کي لوړپوړی د ښه سم نظر خاوند او په علم بیان کي پوخ دی لیکن خپل کتاب یې د معتزلیانو له مذهبه ډک کړی، د دوی ملاتړ یې کړی او د قرآن آیتونه یې د دوی پر طریقې ور اړولي، صاف والی یې ور خړ او خوږوالی یې ور تریخ کړی؛ نو صاف یې را اخله او خړ یې پرېږده.

د غزنوي کتاب مختصر دی او په هغه کي د تصوف ناآشنا نکتې شته.

د ابن الخطیب[٣] کتاب کې هغه څه ځای پر ځای شوي چې د زمخشري په کتاب کي دي ، د علم کلام په قواعدو کي پراخ بحثونه هم پر دې اضافه کړي او د مسألو په ترتیب او په ځینو موضوعاتو کي یې د نظر په تدقیق ښایسته کړی هم دی. په مجموع کې د یاد کتاب حجم زیات دی په ډېر احتمال اختصار ته اړتیا لري. الله تعالی دي د خپل کتاب په خدمت ټولو ته ګټه ورسوي او تر ټولو غوره ثوابونه دې ور په برخه کړي.

په دې خبره ځان پوهول په کار دي چې سلف صالحین په دې اړه پر دوو ډلو وېشل شوي دي:

ځینو یې قرآن تفسیر کړی او په معنا کي یې غږېدلی دي او اکثریت همدا دي[٤].

ځینو یې بیا د احتیاط په وجه په قرآن کریم کي له غږېدلو څخه توقف کړی؛ ځکه په دې اړه سختي راغلې ده؛ عائشې رضي الله عنه ویلي: رسول الله صلی الله علیه وسلم به د قرآن آیتونه نه تفسیرول مګر وروسته له هغه چي جبریل به هغه ور زده کړل[٥].

---

١ دی محمود بن عمر بن محمد خوارزمي زمخشري دی نحوي لغتپوه متکلف مفسر دی چي د جار الله ( دالله ګاونډي) لقب ورکول شوی؛ ځکه دی یو څه وخت په مکه کي د بیت الله سره نژدې یې څه وخت استوګنه درلوده. د ده له تألیفاتو څخه کشاف او نور کتابونه هم دي. دی په ٥٣٨ هـ کال کي وفات شوی. سیراعلام النبلاء:١٥١/٢٠ .

٢ غزنوي غزنه ته نسبت شوی چي په افغانستان کي یو ښار دی. دې سیمي ته تر یوه مفسر ډېر کسان نسبت شوي . دلته د مؤلف دا وینا : (په هغه کي د تصوف ناآشنا نکتې شته) موږ دې ګمان ته رااړوي چي دی ابو بکر بن احمد بن اسماعیل بن عیسی غزنوي دی. دی چي په ٥٢٠ هـ کي وفات شوی . طبقات المفسرین للداودي: ١ / ٣١ لیکن هغه څه چي ابن جزی له غزنوي څخه نقل کړي ټول د لغت له ډګر سره تړاو لري، نو احتمال لري چي ابو علي عالي بن ابراهیم بن اسماعیل دي وي چي د تاج شریعت لقب ورکول شوی او د ٥٨٢ کال په شاوخوا کي وفات شوی. دا ټول دکتور زبیري په خپل کتاب ( ابن جزي ومنهجه في التفسیر ١ / ٢٩١ – ٢٩٢ ) کي ذکر کړي .

٣ ابن الخطیب فخر الدین ابو عبد الله محمد بن عمر رازي دی چي په ابن خطیب مشهور دی. تفسیر یې چي د تفسیر او مفاتیح الغیب په نامه یادېږي په اته ټوکه کي چاپ شوی. نوموړی په ٦٠٦ هـ کي وفات شوی . کشف الظنون عن أسامي الکتب والفنون: مصطفی عبدالله المعروف بحاجي خلیفة ، محقق:کمال الدین إحسان ، الناشر:مؤسسة الفرقان للتراث الإسلامي ، ط:١٤١٢هـ: ١ / ٢٣١.

د یادوني وړ ده چي امام رازي د افغانستان په لوېدیځ ولایت هرات کي دفن دی. تفسیر اوس چي له تحقیق او تخریج سره چاپ شوی ٣٢ ټوکه کېږي.

٤ شیخ الاسلام ابن تیمیه ویلی: په دې خبره ځان پوهول فرض دي چي پیغمبر صلی الله علیه وسلم خپلو ملګرو ته د قرآن معناوي بیان کړي لکه څرنګه چي یې الفاظ ورته بیان کړي دي: دا چي الله تعالی وایي: {لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ} لفظ او معنا دواړو ته شاملېږي. ابو عبد الرحمن السلمي ویلي: هغه خلک چي قرآن یې راته لوستی لکه عثمان بن عفان، عبد الله بن مسعود او نور، هغو موږ ته دا بیان کړي چي دوی به کله له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه لس آیتونه زده کړه، تر هغو به نه تېرېدل تر څو چي به یې هغه علم او عمل هم زده کاوه چي په دغو آیتونه کي دي. دوی وایي: نو موږ قرآن ، علم او عمل ټول زده کړل. مقدمة في اصول التفسیر صـ١٤ وګوره. مجاهد ټول قرآن عبد الله بن عباس رضي الله ته تېر کړی. مصنف ابن ابي شیبه (٢٩٩٢٠) شمیره اثر او مقدمه في اصول التفسیر صـ١٦ وګوره.

٥ دا اثر ثابت نه دی؛ لکه څرنګه چي حافظ ابن کثیر ویلي: دا حدیث غریب منکر (له حقائق خلاف ) دی. تفسیر القرآن العظیم: أبوالفداء إسماعیل بن عمر بن کثیر الدمشقي ، ت:٧٧٤هـ ، محقق:محمد حسین شمس الدین ، الناشر:دارالکتب العلمیة – بیروت، ط:١٤١٩هـ: ١ / ١٤ د ابن کثیر لیکنه.

او پیغمبر صلی الله علیه وسلم ویلي: که څوک په قرآن کي په خپله رأیه وړغېدی او حق ته هم ورسېدی بس هغه هم تېروتی دی[1]. تفسیرپوهانو د عائشې رضي الله عنها په حدیث کي تأویل کړی چي دا د قرآن هغه برخه ښيي چي له غیبو سره تړاو لري کوم چي د الله د خوا له ورکول شویو معلوماتو پرته نه شي معلومېدلای. دویم حدیث یې داسې تأویل کړی چي دا د هغه چا په هکله دی چي له پوهي او وسائلو پرته په قرآن کي ږغېږي، د هغه چا په هکله نه دی چي په هغه څه کي ږغېږي چي آلي علوم[2] یې غوښتنه کوي او د پخوانیو عالمانو په اقوالو کي یې نظر کړی وي؛ ځکه دغه ډول شخص په قرآن کي له ځانه نه دی ږغېدلی.

باید پوه شې چي تفسیرپوهان څو طبقې دي: لومړی طبقه یې صحابه رضي الله عنهم دي او د دوی له جملې چې په قرآن کي ډېر ږغېدلی عبد الله بن عباس دی[3]، علي بن أبي طالب[4] رضي الله عنه به د ابن عباس تفسیر ستایه او ویل به یې داسي دی لکه غیبي علومو ته چې تر یوې نرۍ پردې ګوري[5]. او ابن عباس به ویل: د قرآن کوم تفسیر چې زما سره شته هغه مې له علي څخه نقل کړی دی[6]. په دوی پسې عبد الله بن مسعود[7]، أبيّ بن

---

١ دا حدیث ضعیف دی (ثبوت نه لري) ترمذي به خپل سنن کي په (٢٩٥٢) شمېره نقل کړی، دا رنګه په فضائل القرآن:أبوعبدالرحمن أحمد بن شعیب النسائي ، ت: ٣٠٣هـ ، محقق:د. فاروق حمادة، الناشر: دار إحیاء العلوم ، بیروت،ط: ١٣١٤هـ: ١ / :١٣٥ کي ، په کنز العمال:علاء الدین علي بن حسام الدین الشهیر بالمتقي الهندي ت: ٩٧٥هـ ، محقق: بکري حیاتي ، الناشر:مؤسسة الرسالة ، ط:١٤٠١هـ کي په (٢٩٥٧) شمېره، په جامع صغیر کي او الباني ضعیف بللی دی. ضعیف الجامع الصغیر (٥٧٣٦) ، طبراني: ١ /٥٨ او قرطبي: ١ /٦٦ وګوره.

٢ آلي علوم هغه دي چي خپله مقصود نه وي بلکي د نورو مقصودي علومو د زدکړي لپاره وسیله وي؛ لکه صرف او نحو او داسي نور.

٣ دی د امت ستر عالم عبد الله بن عباس دی په ٦٨ هـ کال په طائف کي وفات شوی، رضي الله عنه. اسدالغابة: ٢٩١/٣

٤ دی راشد خلیفه امام علي بن ابي طالب دی رضي الله عنه دی، په ٤٠ هـ کال کي وفات شوی دی. الإستیعاب في معرفة الأصحاب:١٠٨٩/٣

٥ د ابن عطیه تفسیر ١ / ٣٠ د ١٣٩٨ هـ کال لومړی چاپ وګوره. د نوموړي ستاینه نورو صحابه وو هم کړې ده؛ لکه ابن مسعود رضي الله عنه چي یې په هکافیله ویلي: د قرآن ښه ترجمان عبد الله بن عباس دی. تفسیر الطبري( جامع البیان عن تأویل آي القرآن:أبوجعفر محمد بن جریر الطبري ، الناشر:بارالتربیة والتراث : ١ / ٦٥ او مقدمة في اصول التفسیر لابن تیمیه صـ: ٦٠ وګوره.

٦ ابن عطیه د امام علي رضي الله عنه په هکله ویلي: د مفسرینو رئیس او په دوی کي تأیید شوی خو علي بن ابي طالب رضي االله عنه دی، په ده پسې بیا عبد الله بن عباس دی او ده ځان دې کار ته فارغ کړ او پوره یې کړ. (المحرر الوجیز في تفسیر الکتاب العزیز:أبو محمد عبدالحق بن غالب ابن عطیة الأندلسي ت:٥٤٢هـ ، محقق: عبدالسلام عبدالشافي، الناشر :دارالکتب العلمیة بیروت، ط:١٤٢٢هـ: ١ / ٢٩ وګوره) سیوطي ویلي: له علي رضي الله عنه څخه نقل کړي: قسم په الله چي هر آیت نازل شوی زه پوهېږم چي د څه په هکله نازل شوی، چېري نازل شوی او پر چا نازل شوی، یقینا زما رب ما ته عقلمن زړه او ښتیني ناطقه ژبه راکړې ده.

٧ دی عزتمن صحابي عبد الله بن مسعود بن غافل بن حبیب بن سمح د ابو عبد الرحمن په نامه یادېږي او ابن ام عبد هم ورته ویل کېدل. په قرآن پوهانو صحابه وو کي له هغو ډېرو پوهانو له جملې و، ده به ویل: قسم په هغه الله چي له ده پرته بل نشته، د الله د کتاب چي کوم آیت نازل شوی، زه پوهېږم چي د چا په هکله نازل شوی. که زه پوهېدلای چي د الله په کتاب تر ما بل داسي پوه څوک شته چي د سورلیو په سفر زه ورسېدلای شم زه هررو مرو ورغلی وای. صحیح البخاري (٥٠٠٢) شمیره حدیث، صحیح مسلم (٢٤٦٢) شمېره او مقدمة في اصول التفسیر صـ٦٠. ابن مسعود په ٣٢ هـ کال وفات شوی دی. اسدالغابة: ٣٨١/٣

کعب[١]، زید بن ثابت، عبد الله بن عمر بن الخطاب[٢] او عبد الله بن عمرو بن العاص دی[٣].
او هر وخت چي له صحابه وو څخه تفسیر راغلی هغه ښه د منلو وړ تفسیر دی.

دویمه طبقه یې تابعین دي، د دوی له جملې څخه چې په تفسیر کي ښه رغېدلي ، حسن بصري[٤]، سعید بن جبیر[٥]، د عبد الله بن عباس لخوا ازاد شوی مجاهد[٦] او د عبد الله بن مسعود شاګرد علقه[٧] دی.

په دوی پسې عکرمة[٨]، قتادة[٩]، سّدي[١٠]، ضحاك بن مزاحم[١١]، أبو صالح[١٢] او العالیه[١٣] دی.

---

١ دی ابي بن کعب بن قیس بن عبید بن زید انصاري خزرجي نجاري دی ابو المنذر ورته ویل کېدل. په دویمه عقبه کي د بیعت کوونکو له جملې و، دی د صحابه وو د مشرانو عالمانو څخه و. په ٢٢ هـ کال کي وفات شو رضي الله عنه. سیر أعلام النبلاء : ١/ ٣٨٩ اسد الغابة : ١٦٨/١ لیکني وګوره ،

٢ دی عبد الله بن عمر بن الخطاب د بني عبدي له قبیلې سره تړاو لرونکی عزتمن صحابي دی. په ٨٤ هـ کال کي وفات شوی. اسذ الغابة:٣٣٦/٣ لیکنه وګوره .

٣ دی عبد الله بن عمرو بن العاص دی، د صحابه وو د عالمانو او فضیلتمنو خلکو له جملې و، ویل شوي چي دی په ٦٣ هـ کال کي وفات شوی دی. اسد الغابة : ٣٤٥/٣ لیکنه وګوره .

٤ دی ابو سعید حسن بن ابي الحسن بصري د انصارو لخوا آزاد شوی ملګری دی او دی د علم او عمل په لحاظ لمشرانو غوره تابعینو څخه دی. سیر أعلام النبلاء: ٤/ ٥٦٣

٥ دی سعید بن جبیر بن هشام اسدي دی کنیه نوم ابو عبد الله دی، له عبد الله ابن عباس څخه یې علم زده کړی او په علم، فضیلت، صد او عبادت کي له مشرانو تاعینو څخه او په دوی کي په قرآن ښه پوه و. په ٩٥ هـ کال کي وفات شو. ژوندلیک یې په حلیة الأولیاء و طبقات الأصفیاء:أبونعیم أحمد بن عبدالله الأصفهاني ،ت:٤٣٠هـ ، الناشر: مطبعة السعادة مصر، ط:١٣٩٤هـ: ٤ / ٢٧٢ او طبقات القراء: ١ / ٣٠ کي وګوره.

٦ دی مجاهد بن جبر ابو الحجاج قرشي مخزومی د سائب بن ابي سائب لخوا آزاد شوی ملګری دی، نوموړی د عبد الله بن عباس له ملګرو (شاګردانو) څخه و، سیر أعلام النبلاء:٤/ ٤٩٩، مجاهد وایي: ما قرآن درې ځلي پر ابن عباس رضي الله له اوله تر آخره ختم کړی په داسي حال کي چي له هر آیت سره به مي دراوه او د هغه په اړه به مي پوښتنه ترې کوله. دا روایت ابن ابي شیبه په المصنف کي په (٣٠٢٧٨) شمېره نقل کړی، مقدمة في اصول التفسیر لشیخ الاسلام ابن تیمیه صـ ٦٤. مصنف (ابن جزی) چي محاهد د عبد الله بن عباس مولی بللی که یې مقصد دا وي چي شاګرد او مرستندوی یې دی، دا صحیح خبره ده او که یې مقصد دا وي چي دی یې آزاد شوی مریی دی، نو دا نه ده صحیح لکه څرنګه چي دا خبره تېره شوه. مجاهد په ١٠٣ هـ کال وفات شو.

٧ دی علقمه بن قیس بن عبد الله بن مالک ابو شبل نخغي کوفي دی، د عبد الله بن مسعود له مشرانو ملګرو (شاګردانو) او عالمانو څخه یې و. په ٦١هـ کال کي وفات شوی او ٦٢ هم ویل شوي دي. سیر اعلام النبلاء:٥٣/٤ .

٨ دی عکرمه بن عبد الله بربري مدني دی د الله عبد الله بن عباس رضي الله عنه لخوا آزاد شوی ملګری و. ابن عباس به د ده په ښوونه کي ډېر زیار ایستی تر دې چي وروستي هدف ته ورسېدی . په ١٠٧ هـ کي وفات شوی ، سیر اعلام النبلاء: ٤٤٩/٤ .

٩ دی قتاده بن دعامه سدوسي له موره ړوند پیدا شوی ابو الخطاب عربي الاصل دی ، په بصره کي اوسېدی، د تابعینو له عالمانو څخه یو دی. په ١١٧ هـ کال کي وفات شوی دی. سیراعلام النبلاء:٢٦٩/٥ .

١٠ سدي اسماعیل بن عبد الرحمن بن ابی کریمه سدی د قریشو لخوا آزاد شوی ملګری ابو محمد کوفي دی، نوموړی د پیښو د او خلکو د تاریخ په اړه مخکښ پوه و. په ١٢٨ هـ کال کي وفات شو. سیراعلام النبلاء:٢٦٤/٥

١١ ضحاک بن مزاحم هلالي د هغوی لخوا آزاد شوی ملګری خراسانی دی، کنیه نوم ابو القاسم دی، په تفسیر کي مشهور شوی ، په ١٠٥ هـ کال کي وفات شوی. سیراعلام النبلاء: ٥٩٨/٤ .

١٢ دی ذکوان ابو صالح سمان دی، له عائشي ، ابو درداء او ابوهریره رضي الله عنهم څخه روایتونه کړي او له ده څخه اعمش یو زر حدیثونه اورېدلي دي. سیراعلام النبلاء: ٣٦/٥ .

١٣ ابو العالیه زیاد او داسي هم ویل شوي چي رُفَیع بن مِهران ریاحي دی د جاهلیت دوره یې هم لیدلې ده، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له وفات څخه دوه کاله وروسته یې اسلام قبول کړی دی، دی له ثقه تابعینو څخه و.د شپږو کتابونو لیکوالانو پر ده اتفاق کړی دی.

بيا د هرې وروستۍ طبقې ديندارو درنو خلكو د تفسير علم را اخيستی[1] خلكو تأليفات په كې ترسره كړي؛ مفضل[2]، عبد الرزاق [3]، عبد بن حميد[4]، امام بخاري[5]، علي بن أبي طلحة[6] او نور ، بيا محمد بن جرير طبري[7] د مفسرينو اقوال راجمع كړل او ښه نظر يې په كې وكړ . د هغو خلكو له جملې چې څه شيان يې په تفسير كې تصنيف كړي أبوبكر نقّاش[8]، ثعلبي[9] او ماوردي١٠ دی، ليكن د دوی خبري صافولو (څېړني) ته اړتيا لري او خلكو يې پر ځينو نيوكي كړي دي.

ابو محمد بن قتيبه[11] د قرآن د غريبو او مشكلو الفاظو[12] او د ډېرو علومو په اړه ليكنې كړي .

---

١ هغه حديث ته اشاره كوي چي وايي: (يحمل هذا العلم من كل خلف عدوله ينفون عنه تحريف الغالين وانتحال المبطلين او تأويل الجاهلين. (التمهيد لابن عبد البر: ١ / ٥٩ ومجمع الزوائد: ٦٠١ وكنز العمال (٢٨٩١٨) شمېره حديث. ځينو اهل علمود دغه حديث پر ځينو راويانو نيوكه كړې او ځينو بيا دغه حديث حسن بللی دی. د متن ترجمه يې داسي ده: د هري وروستۍ طبقې ديندار درانه خلک دغه علم اخلي، د افراطيانو تحريف، د باطلپالو ناحقه دعوې او ناپوهانو ناسم تعبيرونه ورڅخه لري كوي.

٢ مفضل بن مهلهل سعدي ابو عبد الرحمن كوفي په ١٦٧ هـ كال كي وفات شوی. سيراعلام النبلاء:٧/٤٠٠ .

٣ عبد الرزاق بن همام بن نافع حميري ابوبكر صنعاني له مشهورو حافظانو امامانو څخه يو دی، په ٢١١ هـ هجري كي وفات شوی. سيراعلام النبلاء:٩/٥٦٣ .

٤ عبد بن حميد بن نصر كشي حافظ ابومحمد د مسند او تفسير ليكوال دی، په ٢٤٦ هـ كال كي وفات شوی دی.

٥ دی محمد بن اسماعيل بن ابراهيم بخاري جعفي دی، هغه مشهور امام د الجامع الصحيح كتاب ليكوال دی، په ٢٥٦ هـ كال كي وفات شوی. سيراعلام النبلاء:١٢/٣٩١ ، الجرح والتعديل : عبدالرحمن بن أبي حاتم محمد بن إدريس الرازي ، ناشر: مطبعة مجلس دائرة المعارف العثمانية ، حيدر آباد -الهند ، ط:١٢٧١هـ .

٦ دی علي بن ابي طلحه دی، تفسير يې له ابن عباس رضي الله څخه نقل كړی او له ده څخه معاويه بن صالح روايت كړی. الطبقات الكبری: ٧ / ٣١٧ وګوره.
دلته د علي بن ابي طلحه نوم راړول يو څه له تاريخي تسلسل څخه لري ده؛ ځكه نوموړی تابعي دی او دلته اوس بحث د دريمي پېړۍ د ليكوالانو روان دی.

٧ محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب امام ابوجعفر طبری ابو تفاسير = د تفسيرونو پلار دی. په ٣١٠ هـ كال كي وفات شوی دی. سير اعلام النبلاء:١٤/٢٦٧ .

٨ دی محمد بن حسن بن محمد بن زياد بن هارون موصلي په قراءاتو او تفسير كي د عراقيانو امام دی. په ٣٥١ هـ كال كي وفات شو.

٩ ثعلبي احمد بن محمد بن ابراهيم ابو اسحاق نيشاپوري دی، نوموړی په عربيت كي ستر لوړپوړی ستر امام و. په ٤٢٧هـ كال كي وفات شوی.

١٠ ماوردي علي بن محمد بن حبيب قاضي ابو الحسن ماوردي بصري شافعي دی سيراعلام النبلاء:١٨/٦٤ ، طبقات الفقهاء: أبو إسحاق إراهيم بن علي الشيرازي، ت:٤٧٦هـ ، محقق:إحسان عباس ، ناشر: دار الرائد العربي بيروت- لبنان ، ط: ١٤٣١هـ . د ده له تصنيفاتو څخه دي: الحاوي في الفقه، تفسير القرآن ، الأحكام السلطانية او نور . په ٤٥٠ هـ كال كي وفات شوی دی.

١١ دی عبد الله بن مسلم بن قتيبه دينوري ابو محمد د ادب له امامانو څخه دی. له ډېر تصنيفه ليكوالانو څخه دی، د كتابونو له جملې دي: مشكل القرآن، تأويل مختلف الحديث، المشتبه من الحديث والقرآن او داسي نور. په ٢٧٦ هـ كي وفات شوی . طبقات الفقهاء:١٣١

١٢ غريب القرآن هغه الألفاظ وي چي د لغت په لحاظ يې عام خلک په معنا نه پوهېږي او ورسره نابلده وي لكه په سورة النجم: ٢٢ كي د (ضيزى) لفظ. مشكل بيا هغه وي چي په تفسير او تطبيق كي يې سختي وي لكه د هاروت او ماروت قصه چي جعلي رواياتو سخته كړې ده. تأويل مشكل القرآن (ص: ٤) وګوره .

د قرآن د معناوو په اړه د نحويانو يوې ډلې ليکنې کړي؛ ابو إسحاق زجاج[1]، أبو علي الفارسي[2] وأبو جعفر نحاس [3].

د لوېديځ او اندلس د مسلمانانو له جملې قاضي منذر بن سعيد بلوطي[4] د قرآن د غريبو الفاظو او تفسير په اړه کتاب ليکلى دى. مقرئ ابو محمد مکي بن ابي طالب[5] د الهداية في تفسير القرآن په نوم يو کتاب ، په غريب القرآن کي يو کتاب، د قرآن په ناسخ او منسوخ کي يو کتاب ، په إعراب القرآن کي بل کتاب ليکلى او داسي نور تاليفات يې؛ ځکه چي هغه شاوخوا اتيا تاليفات کېږي چي اکثره يې په علوم القرآن، قراءاتو ، تفسير او دې ته ورته نورو موضوعاتو کي دي.

او د ابو عَمْر داني[6] تأليفات خو تر يو سل او شلو هم اوړي ليکن اکثره يې د قرآن په اړه دي او د تفسير په اړه له لږ څه پرته نه دي ليکلي.

ابو العباس مهدوي[7] خو نو په تأليفاتو کي تکړه ، ښه ترتيب والا د قرآن د علومو د هر فن جامع دى.

---

١ دى ابراهيم بن سري بن سهل ابو اسحاق زجاج دى، ده معاني القرآن او نور كتابونه ليكلي دي. په ٣١١هـ كال كي وفات شوى دى.

٢ دى حسن بن احمد بن عبد الغفار ابو علي فارسي مشهور نحوي او د (الحجة في القراءات ) ليكوال دى. په ٣٧٧ هـ كال كي وفات شوى دى. سير اعلام النبلاء: ٣٧٩/١٦

٣ دى احمد بن محمد بن اسماعيل مرادي مصري ابو جعفر نحاس تفسيرپوه اديب دى. په ٣٣٧ هـ كال كي وفات شوى دى. سير اعلام النبلاء:٢٦٨/١٥

٤ دى منذر بن سعيد بلوطي ابو الحكم اندلسي فقيه حديثپوه امام، ژبور خطيب و، نوموړى حاضر جواب په چمتو خبرو لرلو کي غښتلى و. دى د قرآن په احكامو کي په لوړه سويه تأليفات لري. د قضاء وظيفه يې په داسي حال کي په غاړه واخيسته چي عمر يې ٩٠ كاله و. په ٣٥٥ هـ كال كي وفات شو. سير اعلام النبلاء :١٧٣/١٦ .

٥ مكي بن ابي طالب ابو محمد مكي حموش بن محمد بن مختار قيسي نحوي مقرئ دى. په ٤٣٧ هـ كي وفات شوى.

٦ دى عثمان بن سعيد بن عثمان داني أُمَوي مام علامه حافظ د قراءت د استادانو استاد ، د قرآن په علومو كي د ډېرو تأليفات څښتن دى. په : ٤٤٤ هـ كال كي وفات شوى. ٧٧/١٨ معرفة فقهاء الكبار ٣٢٥/١ .

٧ دى ابو العباس احمد بن عمر مهدوي تميمي دى ، په افريقا كي د لويو مفسرينو او د قراءاتو له امامانو څخه يو دى، خو له دې سره يې بشپړه ترجمه نه ده په برخه شوې، په هغه مهدېه سيمه كي لوى شوى چي نسبت ورته شوى (مهديه به افريقا كي د يوې سيمي نوم دى)، د ده اساسي جوړښت هم د همغي سيمي پر علماوو ورلنډ شوى دى. د ده مشهور شيخ علي قابسي دى چي په ٤٠٣ هـ كي وفات شوى. سير اعلام النبلاء:٢٠١/١٤ لكه څرنګه چي د خپل د مورني نيكه مهدي بن ابراهيم او نورو هم شاګرد پاته، اندلس ته يې تر خپلي علمي پوختيا وروسته هجرت وكړ. دى په قراءاتو او تفسير كي ډېر تأليفات لري. په تفسير كي يې د كتابونو له جملې دي: (التفصيل الجامع لعلوم التنزيل) دا يې مختصر كړى په (التحصيل لفوائد التفصيل) كتاب كي چي په څلورو ټوكونو كي دى. له كتابونو څخه يې په قراءاتونو كي دى: (بيان السبب الموجب لاختلاف القراءات وهجاء مصاحف الأمصار) دى د (نظم الطاعات في القرآن) نظم اود هغه شرح هم لري. مهدوي هغه څوک دى چي امام شاطبي په باب الاستعاذه كي په دې وينا كي ذكر كړى:
وَإِخْفَاؤُهُ فَصْلٌ أَبَاهُ وَعُاَتُنَا ... وَكَمْ مِنْ فَتىً كالْمَهْدَوِي فِيهِ أَعْمَلَا.
يعني اعوذ بالله په پټه ويل يوه بېله لاره ده چي زموږ پوهانو نه ده منلې او د مهدوي په څېر ډېرو ځوانانو يې په پټ ويلو كي خپل فكر په كار اچولى دى. لكه څرنګه چي داغه خبر داودي په طبقات المفسررين : ١ / ٥٦ كي ذكر كړې ده او په الوافي على الشاطبيه صـ: ٣٣ كي هم راغلې ده. د ده له شاګردانو څخه ابو اسحاق ابراهيم بن محمد ازدي، ابو عبد الله محمد بن عيسى بن فرج طليطي او نور دي. دى په ٤٤٠ هـ كال شاوخو كي وفات شوى؛ لكه څرنګه چي دا خبره زركلي به الأعلام كي ذكر كړې ده. ذهبي ويلي: له څلور سوه او دېرش وروسته وفات شوى. الأعلام: ١ / ١٨٤، غاية النهاية فى طبقات القراء: ١ / ٩٢ ، طبقات المفسرين للداودي: ١ / ٥٦ او التفسير واتجاهاته بافريقية د دكتوره وسيله بلعيد ، صـ١٤٩ – ٣٢١.

بیا د قاضي ابوبکر بن العربي[1] او قاضي ابو محمد عبد الحق بن عطیه[2] راغلي، نو هر یوه نوښتونه ، ښایستونه وکړه، تشه یي ډکه او بشپړتیا یي رامنځ ته کړه. ابن العربي د (أنوار الفجر) په نامه کتاب ولیکی چې د علوم قرآن په اړه ډېر جامع او بشپړ کتاب دی. چې کله دغه کتاب تلف شو، د هغه ځای د (قانون التأویل) په نوم په بل کتاب ډک کړ، لیکن د دې کتاب تر خلاصه کولو او بیا ځلي سمون مخکې یې مرګ وربانديې حمله کړې ده. نوموړي د قرآن په نورو علومو کې هم ګڼور تألیفات لیکلي دي.

د ابن عطیه کتاب د تفسیر په علم کې تر ټولو ښه او ډېر معتدل کتاب دی؛ ځکه نوموړی تر ده مخکې خلکو تألیفات مطالعه کړي، بیا یې تهذیب او را لنډ کړي؛ د دې ترڅنګ نوموړی د ښه عبارت او سم نظر خاوند او نبوي تګلارې پابند هم دی، بله ځانګړني دا هم ده چې د قرآن علم یې زموږ پر شیخ ابو جعفر بن زبیر[3] ختم کړی چې په اندلس او ټول لوېدیځ کې استاد دی. نو ده خپل عمر د قرآن په خدمت کې پای ته ورساوه، الله تعالی یې په علم کې پراختیا او په پوهنه کې قوت په برخه کړی او دی په دې کې ځېرنه او دقیق نظر لري.

د ختیځوالو له تألیفاتو څخه زموږ په لاس کې د ابو القاسم محمود بن عمر زمخشري[4]، د ابو الفضل الغزنوي[5] او د ابو الفضل ابن الخطیب تفسیر دی. زمخشري خو په نحو کې لوړپوړی د ښه سم نظر خاوند او په علم بیان کې پوخ دی لیکن خپل کتاب یې د معتزلیانو له مذهبه ډک کړی، د دوی ملاتړ یې کړی او د قرآن آیتونه یې د دوی پر طریقې ور اړولي، صاف والی یې ور خړ او خوږوالی یې ور تریخ کړی؛ نو صاف یې را اخله او خړ یې پرېږده.

د غزنوي کتاب مختصر دی او په هغه کې د تصوف ناآشنا نکتې شته.

د ابن الخطیب[6] کتاب کې هغه څه ځای پر ځای شوي چې د زمخشري په کتاب کې دي ، د علم کلام په قواعدو کې پراخ بحثونه هم پر دې اضافه کړي او د مسألو په ترتیب او

١ د ژوندلیک بیان یې مخکې تېر شوی دی.

٢ ابن عطیه امام قاضي حافظ تجوید پوه ابو محمد عبد الحق بن غالب بن عبد الرحمن بن غالب بن تمام بن عطیه محاربي اندلسي غرناطي د (المحرر الوجیز في تفسیر الکتاب العزیز:عبدالحق بن غالب بن عبدالحمن ابن عطیة الأندلسي، ت:٥٤٢هـ ، محقق:عبدالسلام عبدالشافي محمد ، ناشر:بارالکتب العلمیة بیروت ،ط: ١٤٢٢هـ . کتاب لیکوال، په ۴۸۱ هـ کال کې زیږېدلی او په ۵۴۶ هـ کې وفات شوی او داسې هم ویل شوي چې په ۵۴۱ هـ کې وفات شوی. سیر اعلام النبلاء:١٩

٣ دی احمد بن ابراهیم بن زبیر بن محمد بن زبیر بن عاصم امام علامه مقرئ محدث حافظ د اندلس عالم د کتور تصنیفاتو لیکوال او د ابن جزي له مشرانو شیخانو څخه دی. د ژوندلیک بیان یې د ابن جزی د استادانو به بیان کې تېر شوی دی.

٤ دی محمود بن عمر بن محمد خوارزمي زمخشري دی نحوي لغتپوه متکلف مفسر دی چې د جار الله ( دالله ګاونډي) لقب ورکول شوی؛ ځکه دی یو څه وخت په مکه کې د بیت الله سره نژدې یې څه وخت استوګنه درلوده. د ده له تألیفاتو څخه کشاف او نور کتابونه هم دي. دی په ۵۳۸ هـ کال کې وفات شوی. سیراعلام النبلاء:١٥١/٢٠ .

٥ غزنوي غزنه ته نسبت شوی چې په افغانستان کې یو ښار دی. دې سیمې ته تر یوه مفسر ډېر کسان نسبت شوي . دلته د مؤلف دا وینا : (په هغه کې د تصوف ناآشنا نکتې شته) موږ دې ګمان ته رااړوي چې دی ابو بکر بن احمد بن اسماعیل بن عیسی غزنوي دی. دی چې په ۵۲۰ هـ کې وفات شوی . طبقات المفسرین للداودي: ١ / ٣١ لیکن هغه څه چې ابن جزی له غزنوي څخه نقل کړي ټول د لغت له ډګر سره تړاو لري، نو احتمال لري چې ابو علي عالي بن ابراهیم بن اسماعیل دي وي چې د تاج شریعت لقب ورکول شوی او د ۵۸۲ کال په شاوخوا کې وفات شوی. دا ټول دکتور زبیري په خپل کتاب ( ابن جزي ومنهجه في التفسیر ١ / ٢٩١ – ٢٩٢ ) کې ذکر کړي .

٦ ابن الخطیب فخر الدین ابو عبد الله محمد بن عمر رازي دی چې په ابن خطیب مشهور دی. تفسیر یې چې د تفسیر او مفاتیح الغیب په نامه یادېږي په اته ټوکه کې چاپ شوی. نوموړی په ۶۰۶ هـ کې وفات شوی . کشف الظنون عن أسامي الکتب والفنون: مصطفی عبدالله المعروف بحاجي خلیفة ، محقق:کمال الدین إحسان ، الناشر:مؤسسة الفرقان للتراث الإسلامي ، ط:١٤١٢هـ: ١ / ٢٣١.

په ځينو موضوعاتو کې يې د نظر په تدقيق ښايسته کړی هم دی. په مجموع کې د ياد کتاب حجم زيات دی په ډېر احتمال اختصار ته اړتيا لري. الله تعالی دي د خپل کتاب په خدمت ټولو ته ګټه ورسوي او تر ټولو غوره ثوابونه دې ور په برخه کړي.

---

د يادوني وړر ده چي امام رازي د افغانستان په لوېديځ ولايت هرات کي دفن دی. تفسير اوس چي له تحقيق او تخريج سره چاپ شوی ۳۲ ټوکه کيږي.

## الباب السابع في الناسخ والمنسوخ

النسخ في اللغة: هو الإزالة والنقل. ومعناه في الشريعة: رفع الحكم الشرعي بعد ما نزل، ووقع في القرآن على ثلاثة أوجه: **الأول**: نسخ اللفظ والمعنى كقوله: (لا ترغبوا عن آبائكم فإنه كفر بكم) «١» .
**الثاني**: نسخ اللفظ دون المعنى كقوله: (الشيخ والشيخة إذا زنيا فارجموهما البتة نكالا من الله والله عزيز حكيم) .
**الثالث**: نسخ المعنى دون اللفظ وهو كثير وقع منه في القرآن على ما عد بعض العلماء مائتا موضع وثنتا عشرة مواضع منسوخة، إلا أنهم عدوا التخصيص والتقييد نسخا، والاستثناء نسخا، وبين هذه الأشياء وبين النسخ: فروق معروفة، وسنتكلم على ذلك في مواضعه.
ونقدم هنا ما جاء من نسخ مسالمة الكفار والعفو عنهم والإعراض والصبر على أذاهم، بالأمر بقتالهم ليغني ذلك عن تكراره في مواضعه، فإنه وقع منه في القرآن مائة آية وأربع عشرة آية من أربع وخمسين آية، ففي البقرة وقولوا للناس حسنا [البقرة: ٨٣] ولنا أعمالنا [البقرة: ١٣٩] ولا تعتدوا [البقرة: ١٩٠] أي لا تبدءوا بالقتال ولا تقاتلوهم [البقرة: ١٩١] قل قتال [البقرة: ٢١٧] لا إكراه [البقرة: ٢٥٦] وفي آل عمران فإنما عليك البلاغ [آل عمران: ٢٠] منهم تقاة [آل عمران: ٢٨] وفي النساء فأعرض عنهم [النساء: ٦٣- ٨١] في موضعين فما أرسلناك عليهم حفيظا [النساء:
٧٩] لا تكلف إلا نفسك [النساء: ٨٣] إلا الذين يصلون [النساء: ٨٩] وفي المائدة ولا آمين [المائدة: ٢] عليك البلاغ [المائدة: ٣- ٢٠] عليكم أنفسكم [المائدة: ١٠٥] وفي الأنعام لست عليكم بوكيل [الأنعام: ٦٦] ثم ذرهم [الأنعام:
٩١] عليكم بحفيظ [الأنعام: ١٠٤] وأعرض [الأنعام: ١٠٦] عليهم حفيظا [الأنعام: ١٠٧] ولا تسبوا [الأنعام: ١٠٨] قدرهم في موضعين يا قوم اعملوا [الأنعام: ١٣٥] قل انتظروا [الأنعام: ١٥٨] لست منهم في شيء [الأنعام: ١٥٩] وفي الأعراف: وأعرض [الأعراف: ٦٨] وأملي لهم [الأعراف: ١٨٢] وفي الأنفال وإن استنصروكم [الأنفال: ٧٢] يعني المجاهدين. وفي التوبة فاستقيموا لهم [التوبة: ٨] وفي يونس فانتظروا [يونس: ٢٠] فقل لي عملي [يونس: ٤١] وإما نرينك [يونس: ٤٦] ولا يحزنك قولهم [يونس: ٦٥] لما يقتضي من الإمهال أفأنت تكره [يونس: ٩٩] فمن اهتدى [يونس: ١٠٨] لأن معناه الإمهال واصبر [يونس:
١٠٩] وفي هود إنما أنت نذير [هود: ١٢] أي تنذر ولا تجبر اعملوا على مكانتكم [هود: ٩٣] انتظروا [هود: ١٢٢] وفي الرعد عليك البلاغ [الرعد: ٤٢] وفي النحل إلا البلاغ [النحل: ٣٥] عليك البلاغ [النحل: ٨٢] وجادلهم [النحل: ١٢٥] واصبر [النحل: ١٢٧] وفي الإسراء ربكم أعلم بكم [الإسراء: ٢٥] وفي مريم وأنذرهم [مريم: ٣٩] فليمدد [مريم: ٧٥] ولا تعجل [مريم: ٨٥] وفي طه قل كل متربص [طه: ١٣٥] وفي الحج وإن جادلوك [الحج: ٦٨] وفي المؤمنين فذرهم [المؤمنين: ٥٥] ادفع [المؤمنين:
٩٧] وفي النور فإن تولوا [النور: ٥٤] وما على الرسول إلا البلاغ [النور: ٥٤] وفي النمل فمن اهتدى [النمل: ٩٢] وفي القصص لنا أعمالنا [القصص: ٥٥] وفي العنكبوت أنا نذير [العنكبوت: ٥٠] لما يقتضي من عدم الإجبار، وفي الروم فاصبر [الروم: ٦٠] وفي لقمان ومن كفر [لقمان: ٢٣] وفي السجدة وانتظر [السجدة: ٣٠] وفي الأحزاب ودع أذاهم [الأحزاب: ٤٨] وفي سبأ قل لا تسئلون [سبأ: ٢٥] وفي فاطر إن أنت إلا نذير [فاطر: ٢٣] وفي يس فلا يحزنك [ياسين: ٧٦] وفي الصافات قول وقول [الصافات: ٣١] وما يليهما، وفي ص اصبر [ص: ١٧] أنا نذير [ص: ٧٠] وفي الزمر إن الله يحكم بينهم [الزمر: ٣] لما فيه من الإمهال فاعبدوا ما شئتم [الزمر:
١٥] يا قوم اعملوا [الزمر: ٣٩] فمن اهتدى [الزمر: ٤١] أنت تحكم [الزمر:

٤٦] لأن فيه تفويضا، وفي المؤمن فاصبر [المؤمن: ٥٥- ٧٦] في موضعين، وفي فصلت ادفع [فصلت: ٣٤] وفي الشورى وما أنت عليهم بوكيل [الشورى: ٦] لنا أعمالنا [الشورى: ١٥] فإن أعرضوا [الشورى: ٤٨] وفي الزخرف فذرهم [الزخرف: ١٣] فاصفح [الزخرف: ٨٩] وفي الدخان فارتقب [الدخان: ١٠] وفي الجاثية يغفروا [الجاثية: ١٤] وفي الأحقاف فاصبر [الأحقاف: ٣٥] وفي القتال [محمد] فإما منا [محمد: ٤] وفي ق فاصبر [ق: ٣٩] وما أنت [ق: ٤٥] وفي الذاريات قول [الذاريات: ٨] وفي الطور قل تربصوا [الطور: ٣١] واصبر [الطور: ٤٨] فذرهم [الطور: ٤٥] وفي النجم فأعرض [النجم: ٢٩] وفي القمر يقول وفي ن فاصبر [ن: ٤٨] سنستدرجهم [ن: ٤٤] وفي المعارج فاصبر [المعارج: ٥] فذرهم [المعارج: ٤٢] وفي المزمل واهجرهم [المزمل: ١٠] وذرني [المزمل: ١١] وفي المدثر ذرني [المدثر: ١١] وفي الإنسان فاصبر [الإنسان: ٢٤] وفي الطارق فمهل الكافرين [الطارق: ١٧] وفي الغاشية لست عليهم «بمصيطر[الغاشية: ٢٢] وفي الكافرين لكم دينكم [الكافرين: ٦] نسخ ذلك كله: فاقتلوا المشركين [التوبة: ٦] وكتب عليكم القتال [البقرة: ٢١٦]». «تفسير ابن جزي = التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ٢٣)

## څلورم مبحث د قرآن كريم ناسخ او منسوخ، اړوند جامع قواعد او وقفونه

### لمړی مطلب: د مقدمی اووم باب، د ناسخ او منسوخ بيان

نسخ په لغت كي زائلولو او نسخ ته ويل كيږي او په شريعت كي يې معنا د شرعي حكم تر نازلېدلو وروسته بيرته اخيستل دي[1]. نسخ په قرآن كي پر درې ډوله واقع شوې ده:

اول د لفظ او معنا نسخ[2] لكه دا وينا يې: (لا ترغبوا عن آبائكم فإنه كفر بكم)[3] ترجمه: له خپلو پلرونو مخ مه اړوئ؛ ځكه دا ستره ناشكري ده.

دويم: له معنا پرته يوازې د لفظ منسوخ كېدل لكه دا وينا: (الشيخ والشيخة إذا زنيا فارجموهما البتة نكالا من الله والله عزيز حكيم) [4] ترجمه: بوډی سړی او بوډۍ ښځه چي كله زنا وكړي هرومرو يې په كاڼو وولئ ، دا د الله لخوا د سزا په توګه او الله عزتمن حكمت والا دی .

---

١ د نسخ دغه ښه تعريف دی او يو قيد ورسره اضافه كول ضروري دي چي (له اول څخه په وروستي حكم).

٢ د ابن جزی (رحمة الله عليه) دا خبره سمه نه ده چي د راتلونكي حديث معنا منسوخ ده، له پلار پرته بل چا ته د نسبت حكم نه دی منسوخ شوی ، تل په اسلامي شريعت كي ثابت حكم دی چي د زوی نسبت له پلار پرته بل چا ته حرام دی؛ الله تعالی ويلي: (ادعوهم لآبائهم) او پيغمبر صلی الله عليه وسلم ويلي: هر سړی چي له ځپل پلار پرته بل چا ته ځان نسبت كوي او دی په پوهيږي هغه كافر كيږي. دا بخاري په ٢/ ٢٦٦ كي نقل كړی. په ياد موضوع كي د دغي معنا لپاره نور نصوص هم شته. غوره خبره دا وه چي د عائشې رضي الله عنها حديث يې به مثال كي راوړی وای چي وايي: (كان فيما أنزل على محمد صلى الله عليه وسلم عشر رضعات معلومات يحرمن ثم نسخن بخمس...) (مسلم د نووي له شرح سره: ١٠ / ٢٩ وګوره).

٣ صحيح البخاري (٦٤٤٢) شمېره حديث، مسند احمد: جـ ١ صـ ٣٠٥ (٣٣١) شمېره حديث، مسند طيالسي (٥٦) شمېره حديث، المعجم الكبير:سليمان بن أحمد الشامي الطبراني ، محقق:فريق من الباحثين ، ط:١٤٢٧هـ: (٤٨٠٧) شمېره حديث او البزار ١٩٤) شمېره حديث.

٤ الموطأ للإمام مالك: مالك بن أنس ،ت:١٧٩هـ ، محقق: د.بشار عواد ، الناشر: مؤسسة الرسالة بيروت ، ط: ١٤١٢هـ : اول كتاب الرجم والحدود باب ما جاء في الرجم ( ٣٠٤٤/ ٦٣١ ) شمېره حديث. په صحيح البخاري او مسلم كي يې دغه ډول الفاظ نشته، بلكي داسي الفاظ دي (فَكَانَ مِمَّا أَنْزَلَ اللَّهُ آيَةُ الرَّجْمِ، فَقَرَأْنَاهَا وَعَقَلْنَاهَا وَوَعَيْنَاهَا) صحيح البخاري (٦٨٣٠) شمېره حديث وصحيح مسلم (١٦٩١) شمېر حديث.

دعائشې رضي الله عنها په حواله چي ويل شوي: په قرآن كي داسي آيت و چي پنځه ځله شيدې رودل حرمت ثابتوي. د هغه په رد كي مشهور حنفي امام سرخسي وايي: أَمَّا حَدِيثُ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهَا - فَضَعِيفٌ جِدًّا؛ لِأَنَّهُ إذَا كَانَ مَتْلُوًّا بَعْدَ رَسُولِ اللَّهِ، وَنَسْخُ التِّلَاوَةِ بَعْدَ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ لَا يَجُوزُ فَلِمَاذَا لَا يُتْلَى الْآنَ؟ (المبسوط للسرخسي ٥ / ١٣٤) ترجمه: د عائشې رضي الله عنها په حواله ياد شوی روايت په جدي ډول نا ثابت دی؛ ځكه د رسول الله ﷺ له وفات وروسته چي دغه برخه د قرآن په توګه لوستل كېدله نو دغه برخه اوس ولي په قرآن كه نه لوستل كيږي سره له دې چي د پيغمبر ﷺ وروسته خو د تلاوت نسخ هم نه ده روا ؟

دغه پوښتنه يې ډېره جدي ده چي دغه برخه خو اوس په قرآن كي نشته، نو د دې ناسخ كوم آيت دی؟ ځكه دا خبره خو ټول مني چي له ناسخ پرته نسخه نه شي كېدلای، نو دا چا وويل چي دغه برخه قرآن منسوخ دی، لفظ يې لري كړئ، په

قرآن کي يې مه ليکئ؟ که څوک داسي دعوه وکړي چي د پيغمبرﷺ په ژوند منسوخ شوی و خو ځينو خلکو ته يې نسخه نه وه رسېدلې، له هغه څخه هم دا پوښتنه کېږي چي ناسخ يې کوم آيت دی؟
حنفي ژورپوه ابن الهمام د فتح القدير په کتاب الرضاع کي وايي: لِأَنَّ ادِّعَاءَ بَقَاءَ حُكْمِ الدَّالِّ بَعْدَ نَسْخِهِ يَحْتَاجُ إِلَى دَلِيلٍ، وَإِلَّا فَالْأَصْلُ أَنَّ نَسْخَ الدَّالِّ يَرْفَعُ حُكْمَهُ، وَأَمَّا مَا نَظَرَ بِهِ مِنْ " الشَّيْخِ وَالشَّيْخَةِ إذَا زَنَيَا فَارْجُمُوهُمَا " فَلَوْلَا مَا عُلِمَ بِالسُّنَّةِ وَالْإِجْمَاعِ لَمْ يَثْبُتْ بِهِ (فتح القدير لابن الهمام [٣ / ٤٤٠]).
ترجمه: ځکه د لفظ تر نسخ وروسته د حکم بقاء دليل ته اړتيا لري، که نه نو اصل خو دا دی چي لفظ منسوخ شي حکم يې هم له منځه ځي. کوم څه چي دوی په مثال کي ياد کړي چي وايي: بوډا او بوډۍ ( سپينږيری او سپينسرې) چي کله زنا وکړي په ډبرو يې وژنئ. د هغه جواب دا دی چي که نبوي سنت او اجماع نه وای په دې حکم نه ثابتېدی.
دلته شيخ ابن الهمام يو بل روايت هم رد کړی دی، هغه داسي يو روايت دی چي وايي : په قرآن کي داسي آيت و چي بوډا سړی او بوډۍ ښځه چي زنا وکړي، هغوی په ډبرو ووژنئ . د امام شافعي پلويانو دغه روايت د منسوخ التلاوة آيت په مثال کي وړاندي کړی، چي په دې هم حکم ثابتېږي. احناف چي رجم مني، دليل يې نبوي سنت او اجماع وړاندي کوي، نه دغه پورته ياد شوی روايت چي وايي: دغه الفاظ د قرآن برخه وه، بيا يې لفظ منسوخ شو، حکم يې پاته دی؛ ځکه پر دغه روايت هم څو ډول اعتراضونه کېږي:
**اول** دا چي دغه برخه خو اوس په قرآن کي نشته، نو د دې ناسخ کوم آيت دی؟ ځکه دا خبره خو ټول مني چي له ناسخ پرته نسخه نه شي کېدلای، نو دا چا وويل چي دغه برخه قرآن منسوخ دی، لفظ يې لري کړئ، په قرآن کي يې مه ليکئ او حکم يې پر ځای پرېږدئ؟ (د نسخ په اړه به هم د دغه بحث په پای کي بيان راشي) .
**دويم** دا چي د قرآن د اثبات لپاره تواتر شرط دی او دا خو خبر واحد دی؛ شيخ ابن الهمام د فتح القدير على الهداية:كمال الدين محمد بن عبدالواحد المعروف بابن الهمام الحنفي ، ت:٨٦١هـ ط: الحلبي لطبعة بولاق په کتاب الحدود (فصل في كيفية الحد) کي وايي:
لِعَدَمِ الْقَطْعِ بِثُبُوتِ كَوْنِهَا قُرْآنًا ثُمَّ انْتِسَاخُ تِلَاوَتِهَا وَإِنْ ذَكَرَهَا عُمَرُ وَسَكَتَ النَّاسُ، فَإِنَّ كَوْنَ الْإِجْمَاعِ السُّكُوتِيِّ حُجَّةً مُخْتَلَفٌ فِيهِ، وَبِتَقْدِيرِ حُجِّيَّتِهِ لَا يُقْطَعُ بِأَنَّ جَمِيعَ الْمُجْتَهِدِينَ مِنْ الصَّحَابَةِ كَانُوا إذْ ذَاكَ حُضُورًا؛ ثُمَّ لَا شَكَّ أَنَّ الطَّرِيقَ فِي ذَلِكَ إلَى عُمَرَ ظَنِّيٌّ، وَلِهَذَا وَاَللَّهُ أَعْلَمُ قَالَ عَلِيٌّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - فِيمَا ذَكَرْنَاهُ عَنْهُ: إنَّ الرَّجْمَ سُنَّةٌ سَنَّهَا رَسُولُ اللَّهِ ﷺ وَقَالَ: جَلَدْتهَا بِكِتَابِ اللَّهِ، وَرَجَمْتهَا بِسُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ وَلَمْ يَنْسُبْهُ إلَى الْقُرْآنِ الْمَنْسُوخِ التِّلَاوَةِ (فتح القدير ٥ / ٢٣٠ د ابن الهمام ليکنه).
ترجمة: دا ځکه چي د دغه خبري قرآنيت او بيا يې د تلاوت منسوخ والی په قطعي دليل نه دی ثابت که څه هم عمر رضي الله عنه دغه خبره ذکر کړې او خلک ورباندي ساکت شوي وي؛ ځکه يو ځل خو د سکوتي اجماع په حجتيت کي اختلاف دی، چي حجت يې فرض کړو بيا هم د دې خبري قطعي دليل نشته چي د صحابه کرامو ټول مجتهدين دغه وخت حاضر وو. بل په دې خبره کي شک نشته چي له عمر رضي الله عنه څخه دغه خبره په ظني سند (خبر واحد) سره ثابته ده. نو په دا وجه به علي رضي الله عنه ويل: رجم ( په کاڼو وژل) د پيغمبر ﷺ په تګلاره ثابت دی او دا يې ويلي: د الله په کتاب مي په دره ووهله او د پيغمبر ﷺ په تګلاره مي په ډبرو ووژله. دا خبره يې منسوخ التلاوة قرآن ته نه ده نسبت کړې.
د علامه ابن الهمام رحمة الله عليه دغه خبره ملا علي قاري صاحب هم د مشكاة كتاب الحدود په شرح کي له تأييد سره نقل کړې ده (المرقاة: ٦ / ٢٣٢٨) .
پورتنی روايت چي ابن الهمام اشاره ورته کړې ده، د حديثو په کتابونو کي راغلی دی؛ عَنْ كَثِيرِ بْنِ الصَّلْتِ قَالَ: كَانَ سَعِيدُ بْنُ الْعَاصِ وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ يَكْتُبَانِ الْمَصَاحِفَ، فَمَرُّوا عَلَى هَذِهِ الْآيَةِ، فَقَالَ زَيْدٌ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ: "الشَّيْخُ وَالشَّيْخَةُ إِذَا زَنَيَا فَارْجُمُوهُمَا الْبَتَّةَ "، فَقَالَ عُمَرُ: لَمَّا أُنْزِلَتْ أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ فَقُلْتُ: أَكْتِبْنِيهَا، قَالَ شُعْبَةُ:، فَكَأَنَّهُ كَرِهَ ذَلِكَ، فَقَالَ عُمَرُ: أَلَا تَرَى أَنَّ الشَّيْخَ إِذَا لَمْ يُحْصَنْ جُلِدَ، وَأَنَّ الشَّابَّ إِذَا زَنَى وَقَدْ أُحْصِنَ رُجِمَ (مسند أحمد: ٣٥ / ٤٧٢).
ترجمه: کثير بن صلت وايي: سعيد بن العاص او زيد بن ثابت مصحفونه (قرآنونه) ليکل، نو پر دغه آيت راغلل. زيد وويل: ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل ويل يې: بوډی سړی او بوډۍ ښځه چي زنا وکړي، هرومرو دواړه په ډبرو ووژنئ. نو عمر رضي الله عنه وويل: کله چي دغه برخه نازله شوه، زه پيغمبر ﷺ ته راغلم ورته مي وويل: دغه راته وليکه. شعبه ( راوي ) وايي: ګويا چي ده ناخوښه وګڼله. نو عمر رضي الله عنه وويل: آيا ته نه ګورې چي کله بوډې شخص واده نه وي کړی، په دوره وهل کېږي او ځوان چي واده لري او زنا وکړي په ډبرو وژل کېږي؟
د مسند احمد دغه نسخه د سعودي عالمانو: دکتور عبد الله بن عبد المحسن التركي او نورو تر اشراف لاندي مشهور حديثپوه شيخ شعيب أرنؤوط، عادل مرشد او نورو حديثپوهانو په ګډه څېړلې، د احاديثو تخريج يې کړی. دوی دغه روايت د سندي پلوه صحيح بللی دی...
وروسته يې ډېر اوږد بحث ور باندي کړی، په پای کي يې ليکي: ويستفاد من هذا الحديث: أن هذا الكلام "الشيخ والشيخة" ليس بقرآن منزَّل مِن عند الله، لأن إجماع الأمة على العمل بخلافه. ترجمه: له دغه حديثه معلومېږي چي دغه د «الشيخ والشيخة» خبره د الله لخوا نازل شوی قرآن نه دی؛ ځکه د امت اجماع د دې پر خلاف ده(مسند أحمد مع تحقيق الشيخ شعيب وآخرين ط الرسالة: ٣٥ / ٤٧٣ - ٤٧٤)

درېيم: له لفظ پرته يوازي د معنا منسوخ کېدل، دا په قرآن کي ډېر واقع شوي، د هغه څه پر اساس چي ځينو عالمانو شمېرلي، دوه سوه او دوولس ځايونه منسوخه شوي، ليکن دوی ( د عام ) تخصيص او ( د مطلق) تقييد هم نسخ ګڼلې ده او د نسخ او د دې شيانو ترمنځ معلوم توپيرونه شته موږ به پر خپلو ځايونو ورباندي وږغېږو.

دلته دا مخکي راوړو چي له کافرانو سره د سولي، له دوی څخه د عفو او پر ځورونو يې صبر د دوی په وړاندي د جګړې په امر منسوخ شوي؛ د دې لپاره چي دا يې په نورو ځايونو کي د بياځلي يادولو له احتياجه موږ وباسي؛ ځکه له دې څخه په قرآن کي يو سل څوارلس آيتونه په څلور پنځوسو سورتونو کي واقع شوي دي[1].

**په سورة البقرة کي:**

وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْناً [البقرة: ٨٣] خلکو ته ښه وينا کوئ.

وَلَنا أَعْمالُنا [البقرة: ١٣٩] زموږ لپاره زموږ عملونه دي.

وَلا تَعْتَدُوا [البقرة: ١٩٠] تېری مه کوئ.

وَلا تُقاتِلُوهُمْ [البقرة: ١٩١] د دوی پر ضد جګړه مه کوئ [2].

قُلْ قِتالٌ فيه كَبيرٌ[البقرة: ٢١٧] ووايه: په عزتمنه مياشت کي جګړه لويه ګناه ده.

لا إِكْراهَ [البقرة: ٢٥٦] په دين کي هيڅ ډول مجبورول نشته.

**په سورة آل عمران کي:**

فَإِنَّما عَلَيْكَ الْبَلاغُ [آل عمران: ٢٠] ژباړه: پر تا صرف دين رسول دي.

مِنْهُمْ تُقاةً [آل عمران: ٢٨] (مګر دا چي) له دوی څخه ځانونه وساتئ.

**په سورة النساء کي :**

فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ [النساء: ٦٣- ٨١] نو له دوی څخه مخ واړوه. (دا دوه ځايه دي).

فَما أَرْسَلْناكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظاً [النساء: ٧٩] نو ته مي پر دوی ساتونکی نه يې لېږلی.

لا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ [النساء: ٨٣] ته له خپل ځان پرته په بل څه نه يې مکلف.

إِلَّا الَّذِينَ يَصِلُونَ [النساء: ٨٩] پرته له هغو چي له داسي قوم سره پيوستېږي چي ستاسو او هغوی ترمنځ تړون وي.

**په سورة المائدة کي:**

وَلَا آمِّينَ [المائدة: ٢] مه د هغو خلکو بې عزتي کوئ چي د بيت الله قصد يې کړی وي.

عَلَى رسولنا الْبَلاغُ [المائدة: ٩٤- ١٠١] زما پر پېغامبر يوازي د دين رسول دي.

عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ [المائدة: ١٠٥] تاسو ځانونه اصلاح کړئ.

**په سورة الانعام کي:**

لَسْتُ عَلَيْكُمْ بِوَكِيلٍ [الأنعام: ٦٦] زه ستاسو د کارونو جوړولو مسؤول نه يم.

ثُمَّ ذَرْهُمْ [الأنعام: ٩١] بيا دوی پرېږده.

عَلَيْكُمْ بِحَفِيظٍ [الأنعام: ١٠٤] زه ستاسو ساتونکی نه يم.

وَأَعْرِضْ [الأنعام: ١٠٦] نو مخ ترې واړوه.

عَلَيْهِمْ حَفِيظاً [الأنعام: ١٠٧] ته مي پر دوی ساتونکی نه يې ګرځولی.

وَلا تَسُبُّوا [الأنعام: ١٠٨]

{فذرهم} (الأنعام: ١١٣ و١٣٨) نو دوی پرېږده. (دغه آيت په دوه ځايونو کي دی)

يا قَوْمِ اعْمَلُوا [الأنعام: ١٣٥] اې زما قومه تاسو خپل کار کوئ.

---

١ د هغو نسخو مطابق چي زموږ په ولکه کي دي يوازي يې دوه پنځوښ سورتونه ذکر کړي، ابن حزم چي د نسخ په باب کي د ابن جزي متاثر کېدل له هغه څخه ښکاري، يوازي ۴۸ سورتونه يې ذکر کړي. د تفسير الجلالين پر حاشيه ابن حزم ناسخ او منسوخ صـ٢۶٥ وګوره

٢ بشپړ آيت داسي دی: {وَلَا تُقَاتِلُوهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتَّى يُقَاتِلُوكُمْ فِيهِ} يعني د مسجد حرام په څنګ (نژدې) کي د دوی پر ضد جګړه مه کوئ تر هغه چي دوی همله ستاسو پر ضد جګړه پيلوي.

قُلِ انْتَظِرُوا [الأنعام: ١٥٨] ورته ووايه: انتظار وكړئ.
لَسْتَ مِنْهُمْ فِي شَيْءٍ [الأنعام: ١٥٩] ته له دوى سره په هيڅ كي نه يې.
**په سورة الأعراف كي:**
وَأَعْرِضْ [الأعراف: ٦٨] له دوى څخه مخ واړوه.
وَأُمْلِي لَهُمْ [الأعراف: ١٨٢] دوى ته مهلت وركوم.
**په سورة الأنفال كي:**
وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ [الأنفال: ٧٢] كه دوى ستاسو څخه مرسته وغوښتله. (مطلب يې مجاهدين دي).
**په سورة التوبة كي:**
فَاسْتَقِيمُوا لَهُمْ [التوبة: ٨] نو تاسو هم ورته ژمن پاته شئ.
**په سورة يونس كي:**
فَانْتَظِرُوا [يونس: ٢٠] نو انتظار كوئ.
فَقُلْ لِي عَمَلِي [يونس: ٤١] نو ووايه: زما لپاره زما عمل دى.
وَإِمَّا نُرِيَنَّكَ [يونس: ٤٦] يا به ځيني هغه څه در ووينم.
وَلا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ [يونس: ٦٥] د دوى په وينا مه غمجن كېږه؛ دا ځكه چي دغه خبره هم مهلت وركول غواړي.
أَفَأَنْتَ تُكْرِهُ [يونس: ٩٩] نو آيا ته خلک مجبوروې؟
فَمَنِ اهْتَدى [يونس: ١٠٨] نو كه څوک پر لاره سم شو (هدايت يې په خپله ګټه دى) ځكه د دې معنا مهلت وركول دي.
وَاصْبِرْ [يونس: ١٠٩] او صبر كوه.
**په سورة هود كي:**
إِنَّما أَنْتَ نَذِيرٌ [هود: ١٢] ته صرف خبروونكى يې. يعني په دين به يې خبروې او نه به يې مجبوروې.
اعْمَلُوا عَلى مَكانَتِكُمْ [هود: ٩٣] تاسو پر خپله تګلاه كار كوئ.
انْتَظِرُوا [هود: ١٢٢] انتظار وكړئ.
**په سورة رعد كي:**
فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَاغُ [الرعد: ٤٢] پرتا صرف دين رسول دي.
**په سورة النحل كي:**
فَهَلْ عَلَى الرُّسُلِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ [النحل: ٣٥] نو آيا پر پېغمبرانو له ښكاره دين رسولو پرته بل څه شته؟
فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَاغُ [النحل: ٨٢] پر تا صرف دين رسول دي.
وَجادِلْهُمْ [النحل: ١٢٥] له دوى سره بحث كوه.
وَاصْبِرْ [النحل: ١٢٧] صبر كوه.
**په سورة الإسراء كي:**
رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِكُمْ [الإسراء: ٢٥] ستاسو رب په تاسو ښه پوه دى.
**په سورة مريم كي :**
وَأَنْذِرْهُمْ [مريم: ٣٩] دوى له دينه خبر كړه.
فَلْيَمْدُدْ [مريم: ٧٥] نو ده ته دي مهلت وركړي.
وَلا تَعْجَلْ [مريم: ٨٥] پر دوى تلوار مه كوه.
**په سورة طه كي:**
قُلْ كُلٌّ مُتَرَبِّصٌ [طه: ١٣٥] ورته ووايه: هرڅوک انتظار كوي.
**په سورة حج كي:**
وَإِنْ جادَلُوكَ [الحج: ٦٨] كه دوى دعوه او مناقشه در سره وكړه (ورته ووايه: الله ستاسو په كړنو ښه پوه دى).

**په سورة المؤمنون کي:**

فَذَرْهُمْ [المؤمنين: ٥٥] نو دوی پرېږده.

ادْفَعْ [المؤمنين: ٩٧] (بدي يې په تر ټولو ښه طريقه ) دفع کوه.

**په سورة النور کي:**

فَإِنْ تَوَلَّوْا [النور: ٥٤] که تاسو مخ واړاوه ( نو پر پيغمبر خپل مسؤوليت دی او پر تاسو خپل)

وَما عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلاغُ [النور: ٥٤] پر پيغمبر يوازي دين رسول دي.

**په سورة النمل کي:**

فَمَنِ اهْتَدى [النمل: ٩٢] نو که څوک پر لاره سم شو ( دا يې خپل په ګټه دي).

**په سورة القصص کي:**

لَنا أَعْمالُنا [القصص: ٥٥] زموږ لپاره زموږ عملونه دي.

**په سورة العنکبوت کي:**

وَإِنَّمَا أَنَا نَذِيرٌ [العنکبوت: ٥٠] زه صرف د دين رسوونکی يم. دا ځکه چي دا خبره د نه مجبورلو تقاضا کوي.

**په سورة الروم کي:**

فَاصْبِرْ [الروم: ٦٠] نو صبر کوه.

**په سورة لقمان کي:**

وَمَنْ كَفَرَ [لقمان: ٢٣] نو که چا کفر وکړ ( بيا هم الله تعالی له ټولو مخلوقاتو څخه بې حاجته دی)

**په سورة السجدة کي:**

وَانْتَظِرْ [السجدة: ٣٠] انتظار کوه.

**په سورة الأحزاب کي:**

وَدَعْ أَذاهُمْ [الأحزاب: ٤٨] د دوی لخوا ځورول پرېږده.

**په سورة سبأ کي:**

قُلْ لا تُسْئَلُونَ [سبأ: ٢٥] ورته ووايه: ستاسو څخه ( زمو د کړنو ) پوښتنه نه کيږي.

**په سورة فاطر کي:**

إِنْ أَنْتَ إِلَّا نَذِيرٌ [فاطر: ٢٣] ته صرف خبروونکی يې.

**په سورة يس کي:**

فَلا يَحْزُنْكَ [ياسين: ٧٦] نو د دوی په کړنو مه غمجن کيږي.

**په سورة الصافات کي:**

**فَتَوَلَّ عَنْهُمْ** [الصافات: ١٧٤] **وتَوَلَّ عَنْهُمْ** [الصافات: ١٧٨] له دوی څخه مخ واړوه.
دغه دوه او هغه څه چي ور نژدې دي.

**په سورة ص کي:**

اصْبِرْ [ص: ١٧] صبر کوه.

أَنَا نَذِيرٌ [ص: ٧٠] زه له دينه خبروونکی يم.

**په سورة الزمر کي:**

إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ [الزمر: ٣] الله د دوی ترمنځ پرېکړه کوي
دا ځکه منسوخ دی چي په دې کي مُهلت ورکول دي.

فَاعْبُدُوا ما شِئْتُمْ [الزمر: ١٥] نو د هغه څه عبادت کوئ چي خوښ مو وي.

يا قَوْمِ اعْمَلُوا [الزمر: ٣٩] اې زما قومه ! تاسو (خپل) کار کوئ.

فَمَنِ اهْتَدى [الزمر: ٤١] نو که څوک پر لاره سم شو (د ځان په ګټه يې ده).

أَنْتَ تَحْكُمُ [الزمر: ٤٦] ته ( د خپلو بندګانو ترمنځ ) پرېکړه کوې.
دا په دې وجه چي په دې کي (الله ته ) کار سپارل دي.

**په سورة المؤمن کي:**

فَاصْبِرْ [المؤمن: ٥٥- ٧٦] صبره كوه. دا امر دوه ځايه دی .
**په سورة فصّلت كي:**
ادْفَعْ [فصّلت: ٣٤] (د دوی بدي په تر ټولو ښه طريقه ) دفع كوه.
**په سورة الشورى كي:**
وَما أَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيلٍ [الشورى: ٦] ته د دوی كار جوړوونكی (مسؤول) نه يې.
لَنا أَعْمالُنا [الشورى: ١٥] زموږ لپاره زموږ عملونه دي.
فَإِنْ أَعْرَضُوا [الشورى: ٤٨] كه دوی مخ واړاه وه.
**په سورة الزخرف كي:**
فَذَرْهُمْ [الزخرف: ١٣] نو دوی پرېږده.
فَاصْفَحْ [الزخرف: ٨٩] نو مخ (ترې) واړوه.
**په سورة الدخان كي:**
فَارْتَقِبْ [الدخان: ١٠] نو څار (انتظار) كوه.
**په سورة الجاثية كي:**
يَغْفِرُوا [الجاثية: ١٤] مؤمنان دي بخښنه ورته كوي.
**په سورة الأحقاف كي:**
فَاصْبِرْ [الأحقاف: ٣٥] نو صبره كوه.
په سورة القتال [محمد] كي:
فَإِمَّا مَنًّا [محمد: ٤] نو يا به (پر اسيرانو) احسان كوئ (وړيا به يې آزادوئ) .
**په سورة ق كي:**
فَاصْبِرْ [ق: ٣٩] نو صبره كوه.
وَمَا أَنْتَ عَلَيْهِمْ بِجَبَّارٍ [ق: ٤٥] ته پر دوی جبر كوونكی نه يې.
**په سورة الذاريات:**
فَتَوَلَّ عَنْهُمْ [الذاريات: ٨] نو له دوی څخه مخ واړوه.
**په سورة الطور كي:**
قُلْ تَرَبَّصُوا [الطور: ٣١] ورته ووايه: تاسو انتظار وكړئ.
وَاصْبِرْ [الطور: ٤٨] او صبر كوه.
فَذَرْهُمْ [الطور: ٤٥] نو دوی پرېږده.
**په سورة النجم كي:**
فَأَعْرِضْ [النجم: ٢٩] نو له دوی څخه مخ واوړه.
**په سورة القمر كي:**
فَتَوَلَّ عَنْهُمْ (القمر: ٦) نو له دوی څخه مخ واړوه.
**په سورة ن كي:**
فَاصْبِرْ [ن: ٤٨] نو صبر كوه.
سَنَسْتَدْرِجُهُمْ [ن: ٤٤] دوی په نوبت را ټينګوم.
**په سورة المعارج كي:**
فَاصْبِرْ [المعارج: ٥] نو صبر كوه.
فَذَرْهُمْ [المعارج: ٤٢] نو دوی پرېږده.
**په سورة المزمل كي:**
وَاهْجُرْهُمْ [المزمّل: ١٠] او له دوی څخه اړيكي پرې كړه.
وَذَرْنِي [المزمّل: ١١] او ما ور پرېږده.
**په سورة المدّثّر كي:**
ذَرْنِي [المدّثّر: ١١] او ما ور پرېږده.
**په سورة الإنسان كي:**

فَاصْبِرْ [الإنسان: ٢٤] نو صبره كوه.
په سورة الطارق كي:
فَمَهِّلِ الْكافِرِينَ [الطارق: ١٧] نو كافرانو ته مهلت وركوه.
**په سورة الغاشية كي:**
لَسْتَ عَلَيْهِمْ بِمُصَيْطِرٍ (الغاشية: ٢٢) ته پر دوی زور چلوونكی نه يې.
**په سورة الكافرون كي :**
لَكُمْ دِينُكُمْ [الكافرين: ٦] ستاسو لپاره ستاسو دين دی.
دغه ټول آيتونه دغو آيتونو منسوخ كړي چي وايي:
فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ [التوبة: ٦] نو مشركين ووژنئ [1].
وكُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتالُ [البقرة: ٢١٦] پر تاسو همغه قتال فرض شوی دی [2].

---

١ آيت په بشپړه توګه داسي دی: {**فَإِذَا انْسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ** } **(التوبة: ٥)**
ژباړه: نو چي عزتمني مياشتي ختمي شوې دا مشركان ووژنئ هر چېري چي مو وموندل، ټينګ يې كړئ ، محاصره يې كړئ او په هر كمين كي ورته كښېنئ. كه دوی توبه وايستله، لمونځ يې سيده كړ او زكات يې وركړ نو لاره يې خوشي كړئ؛ الله تعالى له شک پرته مهربان بخښونكي دی.
هبة الله بن سلامة بن نصر مقرئ ويلي: له { **فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ** } څخه استثنا ( د حكم بېلوالی) راغلی په دې آيت سره { **فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ** } ...
دغه آيت د قرآن له عجيبه آيتونو څخه دی؛ ځكه د قرآن يو سل څلورويشت آيتونه يې منسوخ كړي. بيا الله تعالى وروسته همدغه آيت منسوخ كړی ، بيا يې د هغه له ناسخ څخه حكم بېل كړی او په دې آيت يې منسوخ كړی چي وايي: {وَإِنْ أَحَدٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّى يَسْمَعَ كَلَامَ اللَّهِ } (التوبة: ٦) او دا د تورې آيت دی د قرآن يو سل او څلورويشت آيتونه يې منسوخ كړي، بيا يې آخر د اول ناسخ جوړ شوی او هغه دا آيت دی: {**فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ** } (التوبة: ٥) . الناسخ والمنسوخ صـ٩٩ ط المكتب الاسلامي – بيروت الطبعة الأولى، ١٤٠٤.
٢ يو مهم وضاحت:
محترمو لوستونكو ! مخكي له مخكي زه بخښنه غواړم كېدای شي دلته په خبرو كي د ليكلو د آدابو خلاف را څخه وشي؛ په پورتنۍ بحث په ځانګړي ډول دغه نژدې حاشيه كي راغلو خبرو زما زړه ډېر تنګ كړ، له قرآن كريم څخه يې د امريكا د پاليسي په شان خبري جوړي كړي چي نن يو څه او سبا بل څه وايي حتى د خبري اوله يې له آخر سره په ټكر كي ګڼي او د منسوخ كېدو دعوه يې كوي. آيا دا معقوله ده چي په اسلام كي، صبر ، عفو، ښه وينا، ښه اخلاق، وفا، د سولي تړون، له اهل ذمه سره تړون او دې ته ورته خبري ټولي منسوخي وګڼو؟ په دغه ياد شويو آيتونو كي ډېر داسي هم دي چي هغه اخبار دي او په خبر كي خو نسخ نه شي كېدای؛ د دې خبري بيان مخكي تېر شو. زه دغه ډول نسخه نه منم؛ ځكه دغسي تعبير ناخبره خلكو ته ډېر زيانمن تماميږي. زه دلته د دې خبري يادونه كوم چي د نسخ په اړه څو نظرونه شته :
(أ) د پخوانيو عالمانو ( سلفو ) په اصطلاح كي د آيت په حكم كي چي كوم تغير راشي، هغه دوی نسخ نوموي كه څه هم د وضاحت او تفسير په توګه وي يا داسي وي چي په اول آيت كي د لنډمهالی قيد ورسره ياد شوی وي، وروستی آيت دا بيان وكړي چي اوس هغه وخت پای ته ورسېدی؛ لكه په دې سورة البقرة: ١٠٩ كي چي د اهل كتابو په هكله ويل شوي چي دوی ته عفو وكړئ او مخ ورڅخه واړوئ تر څو الله خپل حكم را لېږي. وروسته يې په سورة التوبة ٢٩ كي د دوی په هكله حكم را ولېږی چي دوی به يا جزيه وركوي يا يې پر ضد جګړه وكړئ. دا رنګه په النساء: ١٥ كي د زناكارو په هكله الله تعالى ويلي چي دوی تر هغه وخته بندي وساتئ چي مرګ وربانديې راشي يا الله د دوی په هكله كومه لاره را باسي. وروسته يې په سورة النور: ٢ كي د دوی په هكله د سلو دورو حكم نازل كړ. د دغي اصطلاح مطابق خو ډېر آيتونه منسوخ بلل شوي.
(ب) نسخ دې ته ويل كېږي چي د يوه آيت پرځای بل آيت راشي او د اول آيت حكم ختم كړي. په دې تعريف كي دوه شيان ياد شوي : يو د آيت پر ځای آيت را تلل. دويم دا چي حكم يې ختم كړي. دا ټكی د بحث ځای دی. اول دا چي د داسي نسخ مثال به كوم آيت وي؟ د مشهور مثال په توګه د سورة الأنفال( ٦٥ - ٦٦) آيتونه يادېږي. خو دلته دا هم كېدای شي چي دغه ډول احكام د مختلفو حالاتو احكام وي او ډېرو آيتونو ته چي منسوخ ويل شوي، هغه په حقيقت كي د حالاتو د غوښتني سره سم صادر شوي احكام وي، د تل لپاره په كلي ډول منسوخ نه وي؛ ځكه په دويمه اصطلاح چي د نسخ كوم تعريف شوی، د منسوخ د حكم ختمول يې شرط كړي دي، په دې معنى چي په منسوخ عمل كول نه دي روا. دلته خو اوس هم كه يو نفر د لسو په وړاندي مقاومت وكړي، منع يې نشته. دويم دا چي د يومخيزه كلي نسخ لپاره چي كوم شرطونه ياد شوي، هغه په قرآن كي تحقق نه مومي؛ ځكه قرآن له تناقض او ټكر څخه پاک دی؛ لكه په سورة النساء: ٨٢ كي چي د دې خبري يادونه شوې ده او د نسخ د شروطونو اول شرط دا دی چي د ناسخ او منسوخ ترمنځ به داسي تضاد او تناقض موجود وي چي په هيڅ ډول

نه سره لګيږي ؛ ابن الجوزي ويلي: الشُّرُوطُ الْمُعْتَبَرَةُ فِي ثُبُوتِ النَّسْخِ خمسة: أحدها أَنْ يَكُونَ الْحُكْمُ فِي النَّاسِخِ وَالْمَنْسُوخِ مُتَنَاقِضًا بِحَيْثُ لا يُمْكِنُ الْعَمَلُ بِهِمَا جَمِيعًا، فَإِنْ كَانَ مُمْكِنًا لَمْ يَكُنْ أَحَدُهُمَا نَاسِخًا لِلآخَرِ. (نواسخ القرآن: جمال الدين أبوالفرح عبدالرحمن بن علي بن الجوزي ، ت:٥٩٧هـ ، محقق: محمد أشرف علي ، الناشر: الجامعة الإسلامية بالمدينة المنورة ، ط:١٤٣٢هـ، الباب الرابع بَابُ شُرُوطِ النَّسْخِ: ١ / ١٣٥ والمصفى بأكف أهل الرسوخ من علم الناسخ والمنسوخ ١ / ١٢ له أيضا).
ومثله قال فخر الدين الزيلعي في بحث الخلع من تبيين الحقائق: ٢ / ٢٦٨ أحكام القرآن للجصاص : أحمد بن علي أبوبكر الرازي الجصاص الحنفي ،ت:٣٧٠هـ محقق: عبدالسلام محمد ، الناشر: دارالكتب العلمية – بيروت ، ط: ١٤١٥هـ: ١/ ٣٨٨ تحت الآية: ٢١٥ من سورة البقرة وكذا العيني في بحث الخلع من البناية شرح الهداية: ٥ / ٥٠٧ وللتفصيل انظر: مختصر التحرير شرح الكوكب المنير ٣/ ٥٢٩ ومعالم أصول الفقه عند أهل السنة والجماعة لمحمَّد بنْ حسَيْن بن حَسنْ الجيزاني الناشر: دار ابن الجوزي ط: ١٤٢٧هـ:(ص: ٢٥٠).
په دا وجه شيخ انور شاه کشميري وايي: په قرآن کريم کي هيڅ يو آيت هم په کلي ډول منسوخ نشته (فيض الباري على صحيح البخاري: أنورشاه بن معظم شاه الكشميري الهندي ، ت:١٣٥٣هـ ، محقق: محمد بدر عالم ، الناشر: دارالكتب العلمية – بيروت ، ط:١٤٢٦هـ: ٣/ ٣٢٣ وګوره) .
پر همدې اساس: د منسوخ مصداق او مثال هغه د پخوانيو شريعتونو يو شمېر احکام کېدای شي، ليکن هغه هم په داسي ډول چي په حقيقت کي يې لنډمهاله حکم درلودی يا لږ ترلږه د دوام له قيده خالي و، خو ځيني خلکو يې په هکله دا فکر کړی وو چي د تل لپاره يې همدا حکم دی. لکه د شنبې د ورځي احکام چي په سورة النحل ١٢۴ کي ياد شوي.يا لکه وازګه او ځيني حيوانات چي په سورة الانعام ١۴۶ کي او په سورة النساء: ١۶٠-١۶١ کي پر يهوديانو د دوی د ظلم په وجه حرام شوي. خو اوس د دې حرمت ختم شوی؛ ځکه الله وايي: وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَهُمْ. (المائدة: ٥) ژباړه: ستاسو خواړه اهل کتابو ته روا دي. د آيت دا برخه ښيي چي کوم خواړه يا ذبيحه موږ ته رواوي، هغه اهل کتابو ته هم روا ده. خو اهل کتابو د ناپوهي يا ضد په وجه بيا هم ويل چي دا حکم لنډمهاله نه دی ، بلکي د تل لپاره دی. نو الله پر دوی داسي رد وکړ: كُلُّ الطَّعَامِ كَانَ حِلًّا لِبَنِي إِسْرَائِيلَ إِلَّا مَا حَرَّمَ إِسْرَائِيلُ عَلَى نَفْسِهِ مِنْ قَبْلِ أَنْ تُنَزَّلَ التَّوْرَاةُ قُلْ فَأْتُوا بِالتَّوْرَاةِ فَاتْلُوهَا إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ. (آل عمران: ٩٣) ترجمه: د تورات د نازلېدو تر مخه ټول خواړه ( خوړنيز توکي ) بني اسرائيلو ته حلال وو د هغه څه پرته چي يعقوب (عليه السلام) په خپله پر ځان بند کړي وو. ورته ووايه: تورات راوړئ او ويې لولئ که رښتيا واياست .

## الباب الثامن في جوامع القراءة

وهو على نوعين: مشهورة، وشاذة

فالمشهورة القراءات السبع، وهو حرف نافع المدني، وابن كثير المكي، وأبو عمرو بن العلاء البصري، وابن عامر الشامي، وعاصم، وحمزة والكسائي الكوفيين. ويجري مجراهم في الصحة والشهرة: يعقوب الحضرمي بن محيصن، ويزيد بن القعقاع. والشاذة ما سوى ذلك، وإنما سميت شاذة لعدم استقامتها في النقل، وقد تكون فصيحة اللفظ، أو قوية المعنى.

ولا يجوز أن يقرأ بحرف إلا بثلاث شروط: موافقته لمصحف عثمان بن عفان رضي الله عنه، وموافقته لكلام العرب ولو على بعض الوجوه أو في بعض اللغات، ونقله نقلا متواترا أو مستفيضا.

واعلم أن اختلاف القراء على نوعين: أصول، وفرش الحروف.

فأما الفرش: فهو ما لا يرجع إلى أصل مضطرد، ولا قانون كلي، وهو في وجهين:

اختلاف على القراءة باختلاف المعنى، وباتفاق المعنى. وأما الأصول فالاختلاف فيها لا يغير المعنى. وهي ترجع إلى ثمان قواعد:

الأولى: الهمزة: وهي في حروف المد الثلاث، ويزاد فيها على المد الطبيعي بسبب الهمزة والتقاء الساكنين.

الثانية وأصله التحقيق ثم قد يحقق على سبعة أوجه: إبدال واو أو ياء أو ألف وتسهيل بين الهمزة والواو، وبين الهمزة والياء، وبين الهمزة والألف، وإسقاط.

الثالثة: الإدغام، والإظهار، والأصل الإظهار، ثم يحدث الإدغام في المثلين، أو المتقاربين وفي كلمة، وفي كلمتين، وهو نوعان: إدغام كبير انفرد به أبو عمرو: وهو إدغام المتحرك. وإدغام صغير لجميع القراء: وهو إدغام الساكن.

الرابعة: الإمالة، وهي أن تنحو بالفتحة نحو الكسرة. وبالألف نحو الياء، والأصل الفتح، ويوجب الإمالة الكسرة والياء.

الخامسة: الترقيق والتفخيم، والحروف على ثلاثة أقسام يفخم في كل حال، وهي حروف الاستعلاء السبعة ومفخم تارة ومرقق أخرى وهي الراء واللام والألف فأما الراء فأصلها التفخيم وترقق للكسر والياء، وأما اللام فأصلها الترقيق وتفخم لحروف الأطباق وأما الألف فهي تابعة للتفخيم والترقيق لما قبلها، والمرقق على كل حال سائر الحروف.

السادسة: الوقف، وهو على ثلاثة أنواع، سكون جائز في الحركات الثلاث وروم في المضموم والمكسور، وإشمام في المضموم خاصة.

السابعة: مراعاة الخط في الوقف.

الثامنة: إثبات الياءات وحذفها[1]

## دويم مطلب: د مقدمی اتم باب، د قراءت اړوند جامع قواعد

قراءات دوه ډوله دي: يو متواتر، بل شاذ:

**متواتر:** همغه اوه قراءتونه دي: د نافع[2]، ابن كثير مكي[3]، ابو عَمْر بن علاء بصري[4]، ابن عامر شامي[5]، عاصم [6]، حمزه [7] او كسائي[8] چي له كوفي سره تړاو لري. په صحت او شهرت كي يعقوب حضرمي[9] ، ابن محيصن[10] او يزيد بن قعقاع[11] هم د دوی په شان دي.

له دغو څخه علاوه نور شاذ دي[12]. شاذ ځكه ورته ويل كيږي چي نقل يي په تواتر نه دی راغلی او كله په لفظ كي فصيح وي او په معنا كي قوي هم وي.

**په هيڅ حرف له درو شرطونو پرته قراءت كول جواز نه لري:**

اول د عثمان رضي الله عنه له مصحف سره په ليک كي موافقه.

دويم: د عربو له كلام سره موافقه كه څه هم د ځينو وجوهاتو او ځينو لغاتو پر بنا وي.

---

١ -«تفسير ابن جزي التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ٢٣)

٢ دی نافع بن عبد الرحمن ابو رؤيم ليثي دی، دی په اصل كي د اصفهان دی، د جعونه لخوا آزاد شوی ملګری دی، د اوو مشهورو قاريانو يو دی، دی ثقه صالح شخص دی. امام مالک ويلي د مدينه قراءت سنت دی. ده ويل شوه : د نافع قراءت يادوي؟ ويل: هو. عبد الله بن احمد ويلي: ما له خپل پلار څخه پوښتنه وكړه چي تا ته كوم قراءت ډېر خوښ دی؟ ده وويل: د مديني والو قراءت . نافع په ١٦٩ هـ هجري كال كي وفات شوی. غاية النهاية في طبقات القراء : شمس الدين أبوالخير ابن الجزري ت:٨٣٣هـ الناشر: مكتبة ابن تيمية ، ط: ١٤٥١هـ: ٢/ ٣٣٠ او معرفة القراء الكبارعلى الطبقات والأعصار:شمس الدين محمد بن أحمد الذهبي ،ت:٧٤٨هـ، الناشر: دارالكتب العلمية – بيروت ، ط:١٤١٧هـ: ١ / ٢٩٧.

٣ دی ابو معبد عبد الله بن كثير داري مكي د اوو قاريانو يو دی. په ١٢٠ هـ كي وفاتل شوی. النشر في القراءات العشر:شمس الدين أبوالخير ابن الجزري ، محقق:علي محمد الضباع ، الناشر: المطبعة التجارية الكبرى: ١ / ١٢٠ وګوره.

٤ دی ابو عمرو بن علاء بصري مازني تميمي د اوو قاريانو يو دی. په ١٥٤ هـ كي وفات شوی. غاية النهاية: ١ / ٤٤٣ وګوره.

٥ دی ابو عمران عبد الله بن عامر يحصبي د شام والاوو د قراءت استاد او د اوو قاريانو يو دی. په ١١٨ هـ كي وفات شوی. النشر في القراءات العشر ١ /١٤٤ او معرفة القراء الكبار: ١ / ٧٣.

٦ دی ابوبكر عاصم بن ابي نجود كوفي اسدي د هغوی آزاد شوی ملګری د اوو قاريانو يو دی. په ١٢٧هـ كي وفات شوی. غاية النهاية: ١ / ٣٤٦ ومعرفة القراء الكبار: ١ / ٧٣ وګوره.

٧ دی ابو الحسن حمزه بن عماره كوفي د اوو امامانو يو دی. په ١٥٤ هـ كي وفات شوی. النشر: ١ / ١٦٦ او معرفة القراء الكبار: ١ / ٩٣ وګوره.

٨ دی ابو الحسن علي بن حمزة نحوي كوفي يو د اوو قاريانو دی. په ١٨٩ هـ كي وفات شوی. معرفة القراء الكبار: ١ / ١٠٠ والنشر: ١ / ١٧٢ وګوره.

٩ دی يعقوب بن اسحاق بصري يو د لسو مشهورو قاريانو دی. په ٢٠٥ هـ كي وفات شوی. معرفة القراء الكبار: ١ / ١٣٠ والنشر ١/ ١٨٦ وګوره.

١٠ دی محمد بن عبد الرحمن په ابن محيصن معروف دی. د ابن شنبوذ او بزي په روايتونو كي د ابو عمرو بن العلاء شيخ و. ابن محيصن په ١٣٢ هـ كي وفات شوی. ابن محيصن د لسو قاريانو سره شمارل سمه خبره نه ده. د ده قراءت د څوارلسو قراءتونو كي دی. او پر لسو قراءتونو څلور اضافه قراءتونه د صحيح قول پر بنسټ د قراءت فن د پوهان په اند د شاذو له جملي دي لكه څرنګه چي دا خبره مخكي تېره شوه.

١١ دی ابو جعفر مدني يزيد بن قعقاع مخزومي د لسو قاريانو يو دی، جليل القدر تابعي دی. په ١٣٠ هـ كي وفات شوی. معرفة القراء الكبار: ١ / ٥٩ والنشر: ١/ ١٧٨ وګوره.

١٢ مصنف رحمة الله عليه د خلف بن هشام بن ثعلبه اسدي بغدي ابو محمد قراءت نه دي ياد كړی، په داسي حال كي چي هغه د هغو لسو مشهورو قراءتونو له جملي دی چي قرآن په لوستل كيږي. د خلف ترجمه په غاية النهاية : ١ / ٢٥٦ او الأعلام : ٢ / ٣٦٠ كي وګوره.

درېيم دا چې په متواتر او مستفيض[1] نقل ثابت وي[2].

په دې پوه شه چې د قاريانو اختلاف دوه ډول دی: يو اصول، دويم فرش.

فرش هغه دی چې يو عام اصل او كلي قانون ته نه ورګرځي[3] او دا په دوو وجهو كي دي:

اول د معنا له اختلاف سره د د قراءت اختلاف[4]، دويم د معنا له اتفاق سره[5].

اصول داسې دي چې اختلاف يې معنا ته تغيير نه وركوي او هغه اتو قاعدو ته راجع كېږي:

**اوله د مد قاعده ده** او دا د مد په درې حروفو كي دی په هغو كي پر طبيعي مد د همزه يا التقاء الساكنين په وجه مد زياتېږي.

**دويمه د همزه قاعده ده.** اصل دې كي تحقيق دی او كله تخفيف په كي كېږي پر اوو طريقو: بدلېدل يې په واو، په يا، په الف، تسهيل يې د همزه او واو ترمنځ، د همزه او يا ترمنځ، د همزه او الف ترمنځ او ساقطول يې.

**درېيمه د ادغام قاعده**: ادغام او اظهار، اصل اظهار دی، بيا ادغام په دوو سره ورته يا سره نژدې لفظونو كي كېږي، په يوه كلمه كي او په دوو كلمو كي. ادغام دوه ډوله دی:

يو لوی ادغام دی چې يوازې ابو عَمْرو ترسره كړی، دا د متحرک حرف ادغام دی.

بل وړوكی ادغام چې دا ټولو قاريانو ترسره كړی او دا د ساكن ادغام دی.

**څلورمه : اماله ده،** هغه داسې وي چې فتحه د كسرې خوا ته كږه او الف د يا خوا ته كوږ شي.

اماله حتما يا كسره او يا هم يا را منځ ته كوي.

**پنځمه د باريک او ډک لوستلو قاعده ده.** حروف درې قسم ده: يو قسم هغه دي چې په ټولو حالاتو كي ډک لوستل كېږي او هغه د استعلاء اوه حروف دي[6]. بل قسم هغه دي چې كله ډک ويل كېږي او كله باريک او دا را ، لام او الف دی . په را كي اصل ډک لوستل دي او د يا او كسرې په وجه باريكه لوستل كېږي. په لام كي اصل باريک لوستل دي او د اطباق د حروفو [7] په وجه ډک لوستل

---

[1] مستفيض د يوې ډلې فقهاؤ په اند د مشهور په معنا دی او ځيني يې ترمنځ داسې توپير كوي چې مستفيض هغه مشهور روايت دی چې ابتداء او انتهاء يو په شمېر كي سره برابره وي او مشهور بيا عام دی (نزهة النظر في توضيح نخبة الفكر: أحمد بن علي بن حجر العسقلاني ، ت:٨٥٢هـ محقق: نورالدين عتر ، الناشر: مطبعة الصباح دمشق ، ط:١٤٢١هـ: صـ: ۴۹ د حافظ ابن حجر ليكنه) .

[2] چې كله په دغو اركان كي له يوه ركنه بې برخي شي هغه قراءت شاذ بلل كېږي، شاذ قراءت چې په مقبول سند ثابت شي د جمهورو اهل علمو په اند د معتمد قول پر اساس په احكامو كي د خبر واحد په څېر حجت په نيول كېږي او د شافعيانو جمهورو او ابن حاجب په دې كي مخالفت كړی او دليل په دې نيول چې د شاذ قراءت قرآنيت نه دی ثابت ( او حديث هم نه دی). البناني على الجوامع ١/ ٢٣٢، الاتقان: ١ / ٢٢٧ ، روضة الناظر: ١ / ١٨١. شيخ شنقيطي په اضواء البيان في إيضاح القرآن بالقرآن:الشيخ محمد الأمين الشنقيطي ، دار ابن حزم – بيروت ، ط:١٤٤٢هـ : ١ / ۵ كي وايي: د شاذ قراءت په مرسته پربيان اعتماد نه كوو .

[3] دې ته فرش ځكه ويل شي چې د كلي قانون نه درلودلو په وجه متفرق دي نو ګويا چې بېّ سورتونو كي غوړېدلي او متفرق شوي دي(مقدمات في علم القراءات: محمد أحمد مفلح القضاة ، الناشر:دار عمار- عمان ، ط:١٤١٢هـ: ص: ٧٧ ليكنه دي وكتل شي)

[4] مثال يې: وَجَعَلُوا الْمَلائِكَةَ الَّذِينَ هُمْ عِبادُ الرَّحْمنِ إِناثاً (سورة الزخرف: ١٩) چې د (عباد) پر ځای (عند) قراءت شوی دی. بل مثال يې: وَإِنْ كانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُولَ مِنْهُ الْجِبالُ (سورة إبراهيم: ٤٦) (لتزول) په كسره د اول لام او فتحه د آخري، (ان) نافيه كېږي او په فتحه د اول لام او ضمه د آخري (ان) تأكيدي مخفف له مثقل څخه كېږي (الهادي شرح طيبة النشر في القراءات العشر:محمد محمد محمد سالم محيسن ت:١٤٢٢هـ ، دارالجيل بيروت ، ط: ١٤٢٧هـ ٢/ ٣٤٥ والقراءات وأثرها في علوم العربية : محمد محمد محمد سالم محيسن ت:١٤٢٢هـ ، مكتبة الكليات الأزهرية – القاهرة ، ط: ١٤٠٤هـ :(٢/ ١٦٦) د محمد محمد محيسن ليكنه دي وكتل شي).

[5] مثال يې لكه د (ان هذان لساحران) او (ان هذين لساحران) .

[6] دا حروف په دې وينا كي راغونډ شوي: خص ضغط قظ.

[7] د اطباق حروف څلور دی: صاد ، ضاد، طا او ظا. ليكن د صحيح قول پر بنسټ فقط له درو وروسته يې لام ډبل كېږي چې هغه بې ټكي صاد، طا او ظا ده او د ضاد وروسته ډبل نه ويل كېږي. ابن په الدرر اللوامع كي ويلي: غلظ ورش فتحة اللام يلي طاء وظاء ولصاد مهمل.

کیږي. الف په ډک او باریک لوستلو کي د ما خپل مخکیني حرف تابع دی. دریم قسم هغه چي په ټولو حالاتو کي باریک ویل کیږي، دا نور حروف دي.

**شپږمه د وقف قاعده ده.** وقف پر دريِ ډوله دی: سکون په دريِ سره حرکاتو کي جائز دی، روم په مضموم او مکسور کي وي او اِشمام یوازي په مکسور کي وي.

**اومه قاعده** په وقف کي د لیک مراعاتول [1].

**اتمه قاعده:** د یاګانو اثبات او حذف[2].

## الباب التاسع في الوقف

وهو أربعة أنوع: وقف تام، وحسن، وكاف، وقبيح، وذلك بالنظر إلى الإعراب والمعنى، فإن كان الكلام مفتقرا إلى ما بعده في إعرابه أو معناه، وما بعده مفتقرا إليه كذلك لم يجز إليه الفصل بين كل معمول وعامله، وبين كل ذي خبر وخبره، وبين كل ذي جواب وجوابه، وبين كل ذي موصول وصلته، وإن كان الكلام الأول مستقلا يفهم دون الثاني إلا أن الثاني غير مستقل إلا بما قبله، فالوقف على الأول كاف» وذلك في التوابع والفضلات: كالحال، والتمييز، والاستثناء وشبه ذلك، إلا أن وصل المستثنى المتصل آكد من المنقطع، ووصل التوابع والحال إذا كانت أسماء مع ذات آكد من وصلها إذا كانت جملة، وإن كان الكلام مستقلا والثاني كذلك، فإن كانا في قصة واحدة فالوقف على الأول حسن، وإن كانا في قصتين مختلفتين فالوقف تام. وقد يختلف الوقف باختلاف الإعراب أو المعنى، وكذلك اختلف الناس في كثير من الوقف. من أقوالهم فيها:
راجح، ومرجوح، وباطل، وقد يقف لبيان المراد وإن لم يتم الكلام.

تنبيه
هذا الذي ذكرنا من رعي الإعراب والمعنى في المواقف: استقر عليه العمل، وأخذ به شيوخ المقرئين، وكان الأوائل يراعون رؤوس الآيات، فيقفون عندها لأنها في القرآن كالفقر في النثر والقوافي في الشعر، ويؤكد ذلك ما أخرجه الترمذي عن أم سلمة رضي الله عنها أن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يقطع قراءته يقول: الحمد لله رب العالمين ثم يقف، الرحمن الرحيم ثم يقف». «تفسير ابن جزي = التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ٢٤)

## دریم مطلب: د مقدمی نهم باب، د وقف ځایونو په بیان کي

او دا څلور ډوله دي: تام وقف، حسن، کافي او قبیح (ناروا) او دا د کلام جوړښت او معنی ته په کتو دی. که کلام وروسته برخي ته په ترکیب او معنا کي محتاج و او رووسته برخه يې ده ته همداسي محتاجه وه خو ترمنځ يې فاصله جواز نه لري او پر اول کلام قبیح دی او هغه بېلتون راوړل دي د هر معمول او عامل ترمنځ ، د هر خبر والا او خبر ترمنځ، د هر جواب والا او جواب ترمنځ او د هر موصول او صلي ترمنځ يې.

که اول کلام بشپړ و، له دویم پرته يې فهم کېدای شو، لیکن دویم له اول پرته بشپړ نه و، نو پر اول وقف کافي دی او دا په توابع او د جملي په اضافي برخو کي دی لکه حال ، تمییز، استثناء او دې ته ورته څه؛ لکن د متصل مستثنی پر وصل د منقطع مستثنی تر وصل ډېر ټینګار کیږي، توابع او حال چي مفرد (غیر جمله) اسمونه وي وصل يې د دوی د مفردوالي تر حالت ډېر د ټینګار وړ دی.

---

[1] مثال يې تا ده که په خط کي مدوره (ګول) لیکل شوې وي، په وقف کي په ها اوړي او که په پرانیستې هواره (ت) لیکل شوې وي، په ها نه اوړي.

[2] مثال يې: مَنْ يَهْدِ اللَّهُ فَهُوَ **الْمُهْتَدِي** (الأعراف: ١٧٨) وَمَنْ يَهْدِ اللَّهُ فَهُوَ **الْمُهْتَدِ** (الاسراء: ٩٧ والکهف: ١٧) .

که اول کلام مستقل وي او دويم همداسي مستقل وي، نو که دواړه په يوه قصه کي وي پر اول وقف غوره دی، که دواړه په بېلابېلو قصو کي وي، بيا وقف تام بلل کېږي.

کله په ترکيب او معنا کي د اختلاف په وجه په وقف کي هم اختلاف کېږي، په همدې ترتيب د وقف په ډېرو ځايونو کي خلکو اختلاف کړی . د دوی له قولونو څخه په هغه کي دي: راجح، مرجوح او باطل .

کله د مراد د بيان لپاره وقف کېږي که څه هم کلام بشپړ شوی نه وي[1].

**پاملرنه:**

د وقفځايونو په اړه چي د معنا او ترکيب د مراعات کومه قاعده موږ ذکر کړه، دا هغه څه دي چي عمل وربانديي روان دی او د قراءت استادانو غوره کړي دي. پخوانيو عالمانو د آيتونو آخره رعايتوله او وقف يې ورسره کاوه؛ ځکه هغه په قرآن کي داسي دي لکه فقره په عام کلام کي او لکه قافيه په شعر کي او د دې خبرې پخلی هغه حديث کوي چي امام ترمذي نقل کړی: **عن أمّ سلمة[2] رضي الله عنها أنّ رسول الله صلّى الله عليه وسلّم كان يقطع قراءته يقول: الحمد لله رب العالمين ثم يقف، الرحمن الرحيم ثم يقف[3].**

ژباړه: ام سلمه رضي الله عنها وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل قراءت وقفه وقفه کاوه، (الحمد لله رب العالمين) به يې وايه بيا به يې وقف کاوه، (الرحمن الرحيم) به يې وايه بيا به يې وقف کاوه.

---

١ د دې مثال: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَى عَبْدِهِ الْكِتَابَ وَلَمْ يَجْعَلْ لَهُ عِوَجًا قَيِّمًا لِيُنْذِرَ بَأْسًا شَدِيدًا مِنْ لَدُنْهُ ... (سورة الكهف: ١ – ٢) دلته د (عوجا) وروسته لنډ وقف کېږي چي په اصطلاح کي سکته ورته ويل کېږي د دې لپاره چي دا ګمان و نه شي چي قيما د عوجا صفت دی. ابن هشام له ځينو نقل کړي چي يو شيخ خپل شاګرد ته د قرآن کريم ترکيب کاوه ويل: (قيمًا) د (عوجا) صفت / نعت دی. ما ورته چي اې شيخه ! د (عوجا) معنا ده: کوږ او د (قيما) معنا ده: سم سيده. نو کوږ څرنګه سم سيده کېدای شي؟ دا وخت مي په قاريانو کي د هغه چا په هکله د رحمت دعا وکړه چي د دغسي توهم = غلطګمانی د مخنيوي په خاطر يې د (عوجا) پر تنوين لنډ وقف کړی دی (مغني اللبيب من كتب الأعاريب:عبدالله بن يوسف بن أحمد ابن هشام ، ت:٧٦١هـ ، محقق: د. مازن المبارك ، محمد علي حمدالله ، الناشر: دارالفكر – دمشق ، ١٤٢٤هـ: ٦٩٢) (ژباړونکی) .

٢ دا هند بنت ابي أُمَيه بن مغيره مخزومي ام المؤمنين د پيغمبر صلى الله عليه وسلم مېرمن ده، کنيه نوم ام سلمه ده، په مدينه کي په ٦١ هـ کال کي وفات شوې او په بقيع کي دفن شوې. دا د ژوروپوهانو صحابياتو څخه شمېرل کېدله. سير أعلام النبلاء للذهبي: ٢ / ٢٠٣ والاستيعاب لابن عبد البر: ٢ / ٢٧٣ وګوره.

٣ دا صحيح حديث دی، ترمذي په خپل سنن کي په (٢٩٢٧) شمېره نقل کړی او لفظ هم د ده دی، دا رنګه ابو داود په خپل سنن کي په (٤٠٠١ ) شمېره ، ابن ابي شيبه په المصنف: ١٠ / ٥٢٤ کي او ابو عمرو داني په الوقف والابتداء في كتاب الله عزوجل :أبوجعفر محمد بن سعدان صـ: ١١٠ کي نقل کړی دی. النحوي المقرئ الضرير ، ت:٢٣١هـ ، محقق: أبوبشر محمد خليل ، الناشر: مركز جمعة الماجد للثقافة والتراث دبي ، ط:١٤٢٣هـ .

# الباب العاشر: في الفصاحة والبلاغة وأدوات البيان.

**أما الفصاحة فلها خمسة شروط:**

الأول أن تكون الألفاظ عربية لا مما أحدثه المولدون ولا مما غلطت فيه العامة،
الثاني أن تكون من الألفاظ المستعملة لا من الوحشية المستثقلة،
الثالث أن تكون العبارة واقعة على المعنى موفية له لا قاصرة عنه،
الرابع أن تكون العبارة سهلة سالمة من التعقيد.
الخامس: أن يكون الكلام سالما من الحشو الذي لا يحتاج إليه.

**وأما البلاغة:** فهي سياق الكلام على ما يقتضيه الحال والمقال من الإيجاز والإطناب، ومن التهويل والتعظيم والتحقير، ومن التصريح والكناية والإشارة وشبه ذلك، بحيث يهز النفوس ويؤثر في القلوب، ويقود السامع إلى المراد أو يكاد.

**وأما أدوات البيان:** فهي صناعة البديع، وهو تزيين الكلام كما يزين العلم الثوب، وقد وجدنا في القرآن منها اثنين وعشرين نوعا، ونبهنا على كل نوع في المواضع التي وقع فيها من القرآن وقد ذكرنا هنا أسماءها ونبين معناه:

**الأول: المجاز:** وهو اللفظ المستعمل في غير مواضع له لعلاقة بينهما،
وهو اثنا عشر نوعا: التشبيه والاستعارة، والزيادة، والنقصان، وتشبيه المجاور باسم مجاوره، والملابس باسم ملابسه، والكل، وإطلاق اسم الكل على البعض، وعكسه، والتسمية باعتبار ما يستقبل، والتسمية باعتبار ما مضى، وفي هذا خلاف هل هو حقيقة أو مجاز.
واتفق أهل علم اللسان وأهل الأصول على وقوع المجاز في القرآن لأن القرآن نزل بلسان العرب وعادة فصحاء العرب استعمال المجاز، ولا وجه لمن منعه لأن الواقع منه في القرآن أكثر من أن يحصى.

**الثاني: الكناية:** وهي العبارة عن الشيء فيما يلازمه من غير تصريح»

**الثالث: الالتفات:** وهو على ستة أنواع: خروج من التكلم إلى الخطاب أو الغيبة، وخروج من الخطاب إلى التكلم أو الغيبة، وخروج من الغيبة إلى التكلم أو الخطاب.

**الرابع: التمديد:** وهو ذكر شيء بعد اندراجه في لفظ عام متقدم، والقصد بالتجديد تعظيم المجدد ذكره أو تحقيره، أو رفع الاحتمال.

**الخامس: الاعتراض:** وهو إدراج كلام بين شيئين متلازمين: كالخبر والمخبر عنه، والصفة والموصوف، والمعطوف والمعطوف عليه، وإدخاله في أثناء كلام متصل. والقصد به تأكيد الكلام الذي أدرج فيه.

**السادس: التجنيس:** وهو اتفاق اللفظ مع اختلاف المعنى، ثم الاتفاق قد يكون في الحروف والصيغة، أو في الحروف خاصة، أو في أكثر الحروف لا في جميعها، أو في الخط لا في اللفظ، وهو تجنيس التصحيف.

**السابع: الطباق:** وهو ذكر الأشياء المتضادة كالسواد والبياض والحياة والموت، والليل والنهار، وشبه ذلك.

**الثامن: المقابلة:** وهو أن يجمع بين شيئين فصاعدا ثم يقابلهما بأشياء أخر.

**التاسع: المشاكلة:** وهي أن تذكر الشيء بلفظ آخر لوقوعه في صحبته.

**العاشر: الترديد:** وهو رد الكلام على آخره ويسمى في الشعر رد العجز على الصدر.

**الحادي عشر: لزوم ما لا يلزم:** وهو أن يلتزم قبل حروف الروي حرفا آخر، وكذلك عند رؤوس الآيات.

**الثاني عشر: القلب:** وهو أن يكون الكلام يصلح ابتداء قراءته من أوله وآخره نحو دعد أو تعكس كلماته فتقدم المؤخر منها وتؤخر المقدم.

**الثالث عشر: التقسيم:** وهو أن تقسم المذكور إلى أنواعه أو أجزائه.

**الرابع عشر: التتميم:** وهو أن تزيد في الكلام ما يوضحه ويؤكده وإن كان مستقلا دون هذه الزيادة.

**الخامس عشر: التكرار:** وهو أن تضع الظاهر موضع المضمر، فتكرر الكلمة على وجه التعظيم أو التهويل، أو مدح المذكور أو ذمه أو للبيان.

**السادس عشر: التهكم:** وهو إخراج الكلام عن مقتضاه استهزاء بالمخاطب أو بالخبر، كذلك البشارة في موضع النذارة.
**السابع عشر: اللف والنشر وهو** أن تلف في الذكر شيئين فأكثر، ثم تذكر متعلقات بها، وفيه طريقتان: أن تبدأ في ذكر المتعلقات بالأول، وأن تبدأ بالآخر.
**الثامن عشر: الجمع:** وهو أن تجمع بين شيئين فأكثر في خبر واحد، وفي صف واحد وشبه ذلك.
**التاسع عشر: الترصيع:** وهو أن تكون الألفاظ في آخر الكلام مستوفية الوزن، أو متقاربة مع الألفاظ التي في أوله.
**العشرون: التشجيع:** وهو أن يكون كلمات الآي على روي واحد.
**الحادي والعشرون: الاستطراد:** وهو أن يتطرق من كلام إلى كلام آخر بوجه يصل ما بينهما، ويكون الكلام الثاني هو المقصود: كخروج الشاعر من السب إلى المدح بمعنى يتعلق بالطرفين، مع أنه قصد المدح.
**الثاني والعشرون: المبالغة:** وقد تكون بصيغة الكلمة نحو صيغة فعال ومفعال وقد تكون بالمبالغة في الإخبار أو الوصف، فإن اشتدت المبالغة فهو غلو وإغراب. وذلك مستكره عند أهل هذا الشأن». «تفسير ابن جزي = التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ٢٦)

## پنځم مبحث

## د قرآن کریم اعجاز، فصاحت او بلاغت او فضایل يې

### لمړی مطلب: د مقدمی لسم باب، د فصاحت، بلاغت او د بیان د اسبابو په بیان کې دی

د فصاحت لپاره پنځه شرطونه دي:

**اول** دا چې الفاظ يې عربي وي، نه هغه چې نوي پیدا شویو خلکو ایجاد کړي وي او نه هم هغه چې عوام په کې غلط شوي وي.

**دویم** دا چې الفاظ به يې استعمال شوي الفاظ وي، نه هغه ناپېژانده درانه الفاظ.

**درېیم** دا چې عبارت به يې له معنا سره برابر ، پوره ادا کوونکی وي، په اد کولو کې به قصور نه لري.

**څلورم** دا چې عبارت به آسانه او د تعقید ( تاوجنوالي) څخه روغ وي.

**پنځم** دا چې کلام به له هغه اضافه الفاظو سالم وي چې اړتیا ورته نه وي.

**بلاغت:** فصیح کلام د حال او مقام له غوښتني سره سم راوړل دي، که ایجاز وي که اطناب وي ، که تهویل ، تعظیم او تحقیر وي، که تصریح، کنایه ، اشاره او دې ته ورته څه وي، په داسي ډول چې ذهنونو ته حرکت ورکړي، په زړونو کې اغېزه وکړي، اورېدونکی مقصد منلو ته وهڅوي یا يې ور نژدې کړي .

**د بیان اسباب** د بدیع صنعت دی او هغه د کلام داسې ښایسته کول دي لکه نقاشي ګُل چې کالي ښایسته کوي .

په قرآن کې موږ. له دې څخه دوه ویشت ډوله موندلي دي او پر هر ډول مو يې په هغو ځایونو کې پام ور اړولی دی چې په قرآن کې هلته واقع شوي ، موږ يې نومونه ذکر کوو او معنا يې بیانوو:

**اول:** مجاز، هغه لفظ دي چې له ورته وضع شوي معنا پرته په بل څه کې د دوی ترمنځ د یو تړاو په وجه کارول شوی وي، او دا دوولس نوع دي: تشبیه ،استعاره، زیادت ، نقصان ، تسمیة المجاور باسم مجاوره (ګاونډی د خپل ګاونډ په نوم نومول کېدل)، وتسمیة الملابس باسم ملابسه (تړاو لرونکی د خپل تړاو والا په نوم نومول کېدل) ، د کل اطلاق پر بعض، د دې عکس ( د بعض اطلاق پر کل) د راتونکي په اعتبار نوم ورکول، د تېر وخت په اعتبار نوم ورکول او په دې کې اختلاف دی چې آیا دا مجاز دی که حقیقت ؟

ژبپوهان او اصولپوهان په قرآن کې د مجاز پر واقع کېدلو اتفاق لري؛ ځکه قرآن د عربو په ژبه نازل شوی او مجاز کارول د عربو د فصیح (صافـژبو) خلکو عادت و. د هغه چا لپاره هیڅ دلیل نشته چې له مجازه يې انکار کړی ځکه په قرآن کې يې واقع شوي برخې د شمېر تر کچه زیاتي دي.

**دویم کنایه:** دا له تصریح پرته په هغه څه کي له شي څخه تعبير دی چي ورسره لازم وي.

**درېیم يې التفات** دی او دا شپ ربلړدول دی: له تَکَلُّمه خطاب او غیاب ته وتل، له خطابه تَکَلُّم یا غیاب ته وتل، له غیابه تَکَلُّم یا خطاب ته وتل.

**څلورم: تجرید:** دا په يو عام مخکيني لفظ کې تر داخلېدو وروسته د يو شي ذکر کول دي. د تجريد مقصد د تجريد شوي شي تعظيم يا تحقير او يا يې په اړه احتمال له منځ وړل وي.

**پنځم:** اعتراض (معترضه جمله) او دا د دوو يو له بل سره تړلو کلامونو ترمنځ د بل کلام راوړل دي، لکه د خبر او مخبر عنه (سرچيني) ترمنځ ، د صفت او موصوف ترمنځ، د معطوف او معطوف عليه ترمنځ، يا يې د يو کلام پسې متصل راوړل. له دې څخه هدف د هغه کلام تأکيد او وضاحت دی چي دغه اعتراض په کې ور اضافه شوی وي[1].

**شپږم تجنیس** : د الفاظو اتفاق دی سره له دې چي معناوي يې بېلابېلي وي. د الفاظو اتفاق کله په حروف او جوړښت کي وي، کله په اکثره حروفو کي وي نه په ټولو کي او کله په خط کي وي ، په لفظ کي نه وي او دا تجنيس تصحيف دی.

**اوم طباق:** دا متضاد شيان يو ځای ذکر کول دي لکه توروالی او سپيوالی، ژوند او مرګ، شپه او ورځ او دې ته ورته.

**اتم مقابله:** هغه دا ده چي دوه شيان يا تر دې زيات ذکر شي بيا يې مقابل شيان ذکر شي.

**نهم مشاکله:** هغه دا چي يو شی د بل په لفظ په دې وجه ذکر شي چي ورسره ملګری شوی دی.

**لسم تردید:** هغه د کلام اول آخر ته واپس کول دي او دا په شعر کي اول ته د آخر ورګرځول بلل کېږي[2].

يوولسم: د نالازمه لزوم: هغه دا چي د شعر د آخر وزن د حرف مخکي بل حرف لازم وګرځوي او همدا رنګه د آيتونو په آخر کي.

**دوولسم قلب:** هغه دا چي کلام له اوله او له آخره د لوستلو وړتيا ولري لکه (دعد) يا يې کلمات عکس کړې، وروستی يې مخکي کړې او مخکينی يې وروسته کړې.

**ديارلسم تقسيم:** هغه دا چي ذکر شوي شيان خپلو انواعو او اجزاوو ته وویشي.

**څوارلسم تتميم:** هغه دا چي په کلام کي داسي څه زيات کړې چي کلام ته وضاحت او تأکيد ورکوي که څه هم کلام له دغه زيادت پرته هم مستقل وي.

**پنځلسم تکرار:** هغه دا چي اسم ظاهر د ضمير پر ځای وکاروې ، هغه کلمه د تعظيم ، تهويل، د مذکور د ستايلو يا غندلو يا بيان لپاره مکرر ذکر کړې[3].

**شپاړسم تهکم:** هغه دا چي پر مخاطب يا د بحث اړوند پر شخص د مسخرې په خاطر کلام له خپلي مقتضا ( د ظاهر حال له غوښتني ) څخه وايستل شي؛ لکه زېری د وېري د خبر پر ځای ذکر کول.

---

[1] د نحويانو په اصطلاح کي د معترضه جملې لپاره څوارلس ځايونه ذکر کړي دي، ټول د يو کلام يا دوو کلامونو په منځ کي دي او په پای کي يې دا هم ويلي چي د علم بيان د ډېرو عالمانو په اند معترضه جمله د نحويانو تر معترضه جملې عامه ده. د نحويانو په اند معترضه جمله د کلام په منځ کي وي په آخر کي يې نه وي او د علم بيان د عالمانو په اند چي د اعراب له محله بې برخي جمله چي د کومي نکتې په خاطر راوړل شي هغه معترضه جمله ده که په منځ کي وي او که په آخره کي وي (تطبيق القواعد النحوية: ١ / ٣٦٧) ليکنه وګوره .

[2] عربي متن کي داسي ليکلي: هو رد اول الكلام على آخره، ويسمى في الشعر رد العجز على الصدر. خو زما په نظر اوله جمله يې (رد اول الكلام على آخره) له وروستۍ سره هم په ټکر کي ده او د دې فن له نورو کتابونو سره هم په ټکر کي ده. بايد داسي ويل شوي وای: د کلام په آخره برخه کي د اولي برخي کلمات بياځلي راوړل، لکه: وتخشى الناس والله أحق أن تخشاه. و(سائل اللئيم يرجع ودمعه سائل) اول سائل له سؤال څخه جوړ دی دويم له سيلان (بهېدو) څخه جوړ دی. (عروس الأفراح في شرح تلخيص المفتاح أحمد بن علي بن عبدالكافي السبكي ، محقق: د.عبدالحميد هنداوي ، الناشر: المكتبة العصرية بيروت – لبنان : ٢/ ٢٩٤) .

[3] تهويل د وېرولو په معنا دی، لکه يو چا ته چي ووايه: امير المؤمنين امر درته کوي .

**اوولسم:** لف او نشر: هغه دا چي په يادولو کي دوه يا زيات شيان سره تاو کړې بيا يې د دوی اړوند شيان ذکر کړې او په دې کي دوې طريقې دي: يوه دا چي د اړوندو شيانو په يادولو کي له اوله شروع وکړي او بله دا چي له آخره يې شروع وکړې[1].

**اتلسم جمع:** هغه دا چي په يوه خبر يا يوه وصف يا دې ته ورته کي دوه يا زيات شيان جمع کړې.

**نولسم ترصيع:** هغه دا چي د کلام په آخره کي الفاظ په وزن کي له هغو الفاظو سره برابر يا ور نژدې وي چي په اوله کي يې دي .

**شلم تسجيع:** هغه دا چي د آيت آخر کلمات يو ډول حرف ولري.

**يوويشتم استطراد:** هغه له يوه کلام څخه بل ته ورتګ دی په داسي ډول چي ترمنځ يې پيوستون راولي او دويم کلام اصلي مقصود وي لکه شاعر چي له بدو ويلو څخه ستايني ته په داسي معنی ووزي چي له دواړو خواوو سره تړاو لري سره له دې چي د ده مقصد ستاينه وي.

**دوويشتم مبالغه:** دا کله د کلمه په صيغه ( جوړښت) وي لکه د فعال او مفعال صيغه، کله په اِخبار يا وصف کي په مبالغه کوله سره وي، که مبالغه ډېره سخته وي هغه نو غُلُو او اِغراب دی او دا د دې علم د پوهان په اند ناخوښه خبره ده.

## الباب الحادي عشر: في إعجاز القرآن

وإقامة الدليل على أنه من عند الله عز وجل، ويدل على ذلك **عشرة أوجه:**

**الأول: فصاحته** التي امتاز بها عن كلام المخلوقين.

**الثاني: نظمه العجيب وأسلوبه الغريب** من قواطع آياته وفواصل كلماته.

**الثالث: عجز المخلوقين** في زمان نزوله وبعد ذلك إلى الآن عن الإتيان بمثله.

**الرابع: ما أخبر فيه من أخبار الأمم** السالفة والقرون الماضية ولم يكن النبي صلى الله عليه وسلم تعلم ذلك ولا قرأه في كتاب.

**الخامس: ما أخبر فيه من الغيوب المستقبلة** فوقعت على حسب ما قال.

**السادس: ما فيه من التعريف بالباري جل جلاله**. وذكر صفاته وأسمائه، وما يجوز عليه. وما يستحيل عليه، ودعوة الخلق إلى عبادته وتوحيده، وإقامة البراهين القاطعة، والحجج الواضحة، والرد على أصناف الكفار، وذلك كله يعلم بالضرورة أنه لا يصل إليه بشر من تلقاء نفسه، بل بوحي من العليم الخبير، ولا يشك عاقل في صدق من عرف الله تلك المعرفة وعظم جلاله ذلك التعظيم ودعا عباد الله إلى صراطه المستقيم.

**السابع: ما شرع فيه من الأحكام وبين من الحلال والحرام**، وهدى إليه من مصالح الدنيا والآخرة، وأرشد إليه من مكارم الأخلاق، وذلك غاية الحكمة وثمرة العلوم.

الثامن: كونه محفوظا عن الزيادة والنقصان، محروسا عن التغيير والتبديل على طول الزمان، بخلاف سائر الكتب.

**التاسع: تيسيره للحفظ** وذلك معلوم بالمعاينة.

**العاشر: كونه لا يمله قارئه ولا سامعه** على كثرة الترديد، بخلاف سائر الكلام». «تفسير ابن جزي = التسهيل لعلوم التنزيل» (١/ ٢٦)

## دويم مطلب: د مقدمی يوولسم باب، د قرآن د اِعجاز بيان

پر دې مسألي لس وجوهات دلالت کوي:

اول د قرآن هغه فصاحت چي د مخلوق لکلامه په بېل شوی دی.

دويم يې عجيب نظم او نادره اسلوب چي د آيتونو فقرې او د کلماتو فاصلي يې دي.

درېيم: د نزول له وخته بيا تر اوسه يې د مثل راوړلو څخه د مخلوق عاجزي او کمزورتيا.

---

[1] اول ته لف ونشر مرتب ويل کېږي، دويم ته غير مرتب ويل کېږي.

څلورم يې د پخوانيو امتونو او تېرو پېړيو په اړه چي خبر ورکړی په داسي حال کي چي نبي عليه الصلاة والسلام دغسي څه له چا څخه نه دي زده کړي او نه يې په کوم کتاب کي لوستي دي.

پنځم : د راتلونکي زماني اړوند يې د غيبو خبر ورکړی او هغه هم د ياد خبر مطابق واقع شوي دي.

شپږم : په قرآن کي د څښتن تعالی جل جلاله پېژندنه، د صفاتو او نومونو او هغه څه بيان چي په هکله يې شونی او ناشونی دی ، خلک د ده عبادت او توحيد ته را بلل ، قاطع روښانه دلائل او واضح حجتونه پر قائمول، د کافرانو پر ډلو رد کول او دا ټول په ضروري علم معلومېږي چي انسان دې ته له خپله ځانه نه شي رسېدلای، بلکي دا د بشير پوه په هرڅه خبر ذات لخوا په وحي ( پټ پيغام) تر سره شوي دي او هيڅ عاقل د داسي چا په رښتينوالي کي شک نه کوي چي الله تعالی يې په دغسي ډول پېژندلی، په دغه ډول يې د هغه د ستر ذات دغسي تعظيم کړی وي او د الله بندګان يې د ده سمي لاري ته بللي وي.

اووم: هغه احکام چي الله په دې کتاب شريعت ګرځولی ، هغه حلال او حرام يې چي بيان کړي، هغه د دنيا او آخرت ګټي چي خلک يې پر لاره ورته برابر کړي، هغه ښايسته اخلاق چي لارښوونه يې ورته کړې او دا د حکمت مقصد او د ټولو علومو ثمره ده.

اتم : له دې اوږدې زماني تېرېدو سره د نورو کتابونو پر خلاف له زيادته او نقصانه يې خونديتوب او له تغيير او تبديله ساتنه.

نهم: د حفظ لپاره يې آسانه کېدل او دا د سترګو په ليد ثابته مسأله ده.

لسم : دا چي له ډېر تکرار سره د نورو خبرو پر خلاف نه خپل لوستونکی ستومانه کوي او نه هم اورېدونکی.

## درېيم مطلب: د مقدمی دوولسم باب، د قرآن په فضائلو کي

موږ يې صرف هغه برخه ذکر کوو چي په صحيح حديث کي راغلي وي، نو له همدې جملې دغه راتلونکي احاديث دي:

**عن أبي أمامة الباهلي قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «اقْرَءُوا الْقُرْآنَ فَإِنَّهُ يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ شَفِيعًا لِأَصْحَابِهِ»** [1].

ترجمه: ابوامامه رضي الله عنه وايي: له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مي واورېدل ويل: قرآن ولولئ؛ ځکه د قيامت په ورځ به دا قرآن د خپلو ملګرو لپاره شفاعت کوونکی راشي.

**عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْمَاهِرُ بِالْقُرْآنِ مَعَ السَّفَرَةِ الْكِرَامِ الْبَرَرَةِ، وَالَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَيَتَتَعْتَعُ فِيهِ، وَهُوَ عَلَيْهِ شَاقٌّ، لَهُ أَجْرَانِ»** [2].

ترجمه: له عائشي رضي الله عنها څخه روايت دی وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: په قرآن کي ماهر شخص به له استازو عزتمنو ملائکو سره ملګری وي او کوم څوک چي قرآن لولي خو په کي بند بند کېږي او سخت وربادي تماميږي، د هغه لپاره دوه اجرونه دي.

---

١ صحيح مسلم كتاب صلاة المسافرين (٥٥٣) شمېره، احمد په مسند : ٥ / ٢٤٩ ، په المصنف: أبوبكر عبدالرزاق بن همام الصنعاني ، محقق: مركز البحوث و تقنية المعلومات، الناشر: دار التأصيل ، ط: ١٤٣٧هـ : ٣ / ٣٦٥، بيهقي په السنن الكبرى: ٢ / ٣٩٥ كي، كنزل العمال:جـ ١ صـ ٥٦٤ په (٢٥٤٤) شمېره ، الجامع الصغير وزياداته: عبدالرحمن بن أبي بكر جلال الدين السيوطي ت: ٩١١هـ الناشربالشاملة : ١٤٣١هـ

په (٢٠٤٥) شمېره او صحيح الترغيب والترهيب:محمد ناصرالدين الألباني ، الناشر: مكتبة المعارف للنشر والتوزيع – الرياض ، ط: ١٤٢١هـ: په جـ ٢ صـ ١٦٤ (١٤٢٤) شمېره.

